د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف عمومي ریاست

اسلامي ښوونه او روزنه

اتم ټولگی

درسي کتابونه دپوهنې په وزارت پورې اړه لري،
په بازار کې پې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.
له سر غړونکو سره قانوني چلند کیږي.

۱۳۹۰ اسلامي ښوونه او روزنه اتم ټولگی

ketabton.com

ISBN 978-9936-25-043-1
9 789936 250437 >



د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د
روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو
د تاليف عمومي رياست

اسلامي ښوونه او روزنه

اتم ټولگی

الف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوالان:
نعمت الله محمودي.
حبيب الله فوزي.
مولوي عبد الصبور عربي.
فضل الله نيازی
رقيب الله ابراهيمي.

علمی او مسلکی ادیتوران:
- دکتور محمد یوسف نیازی
- نورالله صافی
- محمد آصف کوچی
- فیض محمد عثمانی
- قیام الدین کشاف

د دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:

دکتور محمد یوسف نیازي
حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار.

د څارنې کمیټه:
ـ دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
ـ دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

کمپوز:
رقیب الله ابراهیمي
ډیزاین:
عنایت الله غفاری

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افـــغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمـــــان دی

دا وطن د ټولو کـور دی — د بـــــلوڅـــو د ازبکـــو

د پښتـــون او هزاره وو — د تـــــرکمنـــو د تاجکـــو

ورسره عرب، ګوجـر دي — پـــاميـريان، نورستانيـــان

براهوي دي، قزلباش دي — هـــم ايمـــاق، هم پشه يان

دا هيـــواد به تل ځليږي — لـــکـــه لمـــر پر شنه اسمـان

په سينـــه کې د اسيـــا به — لـــکـــه زړه وي جـاويدان

نوم د حق مو دی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميِ. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده کوونکو مینديِ او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميِ.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له مینډو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړليک

لومړی لوست	د ونو کښولو او کښت کرلو ارزښت	۱
دويم لوست	په پلورلو کې رښتيا ويل	۵
دريم لوست	د ګاونډی حقوق	۹
څلورم لوست	ګاونډی ته د تکليف رسولو ګناه	۱۲
پنځم لوست	کينه لويه ګناه ده	۱۵
شپږم لوست	د مور او پلار حقوق	۱۸
اووم لوست	د مور حق	۲۱
اتم لوست	په اسلامي شريعت کې معاملات	۲٤
نهم لوست	د بيعې فقهي اصطلاحات	۲٦
لسم لوست	د بيعې د فقهي اصطلاحاتو ادامه	۲۸
يوولسم لوست	د بيعې د فقهي اصطلاحاتو ادامه	۳۱
دولسم لوست	بيعه	۳۳
ديارلسم لوست	د بيعې شرطونه	۳۵
څوارلسم لوست	د بيعې ډولونه	۳۹
پنځه لسم لوست	د بيعې د ډولونو دوام	٤۱
شپاړلسم لوست	خيار شرط (د خيار شرط تعريف او احکام ئې)	٤۳
اوولسم لوست	خيار رؤيت	٤۵
اتلسم لوست	خيار عيب	٤۷
نولسم لوست	منعه شوي بيعې (باطله بيعه)	٤۹
شلم لوست	بنکاره بلنه	۵۱
يوويشتم لوست	د حق دعوت له اوريدو څخه د مکي مکرمې د زايرينو منع کول	۵٤
دوه ويشتم لوست	د مخالفينو لخوا د دعوت د خپريدو مخنيوی	۵۷
درويشتم لوست	ابوطالب ته د قريشو د پلاوي ليږدول	۵۹
څلرويشتم لوست	د حبشې په لور هجرت	٦۲
پنځه ويشتم لوست	د حبشې د مهاجرينو پر خلاف د قريشو دسيسه	٦۵
شپږويشتم لوست	د حمزه (رض) د اسلام راوړل	٦۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوويشتم لوست	د عمرﷺ مسلمانيدل	۷۱
اته ويشتم لوست	هر اړخيز پرېکون	۷۵
نهه ويشتم لوست	د غم کال (عام الحزن)	۷۹
دېرشم لوست	طايف ته د رسول اللهﷺ د سفر تفصيل	۸۱
يو دېرشم لوست	د عقبې لومړنۍ بيعت	۸۵
دوه دېرشم لوست	د عقبې دويم بيعت	۸۹
دري دېرشم لوست	ظلم تورتم او تياري دي	۹۳
څلور دېرشم لوست	د نرم خوی فضيلت	۹۵
پنځه دېرشم لوست	زغم او حوصله	۹۸
شپږدېرشم لوست	بدخويونه	۱۰۱
اوه دېرشم لوست	د تېر لوست د حديث شريف پاتې برخه	۱۰۵
اته دېرشم لوست	نيشه يې توکي	۱۰۷
نهه دېرشم لوست	فاسده بيعه	۱۱۰
څلوېښتم لوست	مکروهه بيعه	۱۱۲
يو څلوېښتم لوست	اقاله	۱۱۵
دوه څلوېښتم لوست	د مرابحې بيعه	۱۱۷
دري څلوېشتم لوست	د توليې بيعه	۱۱۹
څلور څلوېښتم لوست	ربا (سود)	۱۲۱
پنځه څلوېښتم لوست	قرض	۱۲۳
شپږ څلوېښتم لوست	د صرف بيعه	۱۲۶
اوه څلوېښتم لوست	د سلم بيعه	۱۲۸
اته څلوېښتم لوست	رهن (ګروي)	۱۳۱
نهه څلوېښتم لوست	اجاره	۱۳٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونو کښولو اوکښت کرلو ارزښت

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةً» متفق عليه

د راوي پيژندنه:

د دې حديث شريف د راوي نوم حضرت انسؓ او د پلار نوم يې مالک انصاري دی د پيغمبرﷺ په کور کې لوی شوی او پوره لس کاله يې د پيغمبرﷺ خدمت کړی دی، د فقهاو او مجتهدينو اصحابو له جملې څخه ګڼل کېږي پيغمبرﷺ ورته د اوږده عمر، په مال کې د برکت او جنت ته د تللو دعا کړې ده، له همدې امله يې د نورو اصحابو په پرتله د نبي کريمﷺ څخه زيات احاديث راويت کړي دي. نو موړې د هجرت په ۹۳ کال د بصرې په ښار کې وفات شوی دی.

د کلمو معنا:

١. يَغْرِسُ: ونې کينوي
٢. غَرْسًا: کينول
٣. يَزْرَعُ: کښت کري
٤. طَيْرٌ: الوتونکی مرغه
٥. بَهِيمَةٌ: څاروی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حدیث شریف معنا:

له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبرﷺ وفرمایل: څوک چې ونې کینوي او یا کښت وکړي او بیا له دغې ونې او کښت څخه مرغه یا انسان او یا څاروی وخوري په ریښتیا چې دغه ټول ورته صدقه ګرځي او ثواب یې ورکول کېږي.

د حدیث شریف حکمت:

د زیات شمیر ژوو ژوند کرهنې او زراعت پورې تړلی دی، او بې له شکه هر ډول کرهنه او زراعت د انسان په پایښت او د هغه د ژوند د چاپیریال په ښکلا کې اغیزه لري. هوا صافوي، د سیلابونو او زلزلو په وړاندې ځمکه له خرابوالي څخه ساتي. زمور د ژوند فضا پاکه اوزرغونوي، ضرر رسونکي ګازونه لکه کاربن دای اکساید جذبوی او اکسیجن تولیدوي.

هر ډول میوې دانې چې زمور د لومړنیو اړتیاو څخه دي د کرکیلې له لارې په لاس راځي کرکیلې ته پا ملرنې او له ځمکو څخه لازمو ګټو پورته کولو په نړۍ کې بې شمیره تمدونونه زیږولي دي.

او نن هم چې کومو هېوادونو کرهنې او مالداری ته شا کړې د لوړې له خطر او د ژوند د چاپریال د ککړتیا او د سیلابونو او د ځمکو د ښویدلو له ګوابښ سره مخامخ دي څرنګه چې کرنه او د فضا شینوالی د تمدن له اړینو بیلګو څخه دي نولدې امله د پیغمبرﷺ په تعلیماتو کې ځانګړی مقام لري.

فعالیت

زده کوونکي دې په ډلیزه توګه د ونو کښینولو د ګټو په اړه بحث وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف گټې:

۱. د چاپېريال ساتنه: د ژوند لپاره غوره چاپېريال هماغه دی چې خورا سمسور وي ښکلې اوبه او پاکه هوا ولري او د ټولو ساکښو د ژوند کولو لپاره چې یو د بل د ژوند د اړتیاوو پوره کونکي دي برابر وي، دغه ډول چاپېريال هغه وخت جوړیدای شي چې په ونو او کښتونو سمسور وي او سمسورتیا ته یې ځانګړې پاملرنه وشي.

۲. د ونو کښښولو ارزښت: نیالګیو کښښولو او کرنې ته پاملرنه د موجوده معاصرې زمانې غوښتنه نه ده بلکې اسلام لا له پخوا په فکري او عملي لحاظ دغه مهم او اړین کار ته ځانګړې پاملرنه کړې او د اسلام له پیل څخه یې ورباندې ټینګار کړی دی.

۳. د کرنې اهمیت: کرنه د ژوند د تامین او د لوړې او بې کاری سره د مبارزې تر ټولو مهمه لار او د تمدن غوره بېلګه ده ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته ځانګړي دستورونه ورکړي تر څو د ونو او کښتونو د له منځه وړلو څخه ځان وژغوري او د ساتلو هڅه یې وکړي.

۴. نورو ته د خیر رسول: مسلمانان باید داسې کارونه وکړي چې خیر یې یوازې بندګانو ته نه بلکه ټولو ساکښو ته ورسیږي او لدې لارې د ثواب مستحق وګرځي.

۵. د غذایي توکو برابرول ثواب لري: څرنګه چې یو انسان ته د غذا برابرول ثواب لري همدارنګه د یو الوتونکي او یا ژوي له پاره یې برابرول هم ثواب لري.

۶. د ونو کښښول تل پاتې صدقه ده: د ونو کښښول او کرنه داسې یوه صدقه ده چې تر څو ونه او یا کښت موجود وي، کرونکي لپاره به یې ثواب وي.

زده کوونکي دې دوه ډلې شي او د چاپېريال د ساتنې په باره کې دې سره بحث وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

۱. د حدیث شریف راوي معرفي کړئ.
۲. د حدیث شریف لنډه معنا بیان کړئ.
۳. د حدیث شریف ګټې ذکر کړئ.

کورنۍ دنده

۱. د غه حدیث له معنا سره حفظ کړئ.
۲. د چاپېریال خرابولو د ضررونو په باره کې یوه لنډه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پلورلو کې رښتيا ويل

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِطَعَامٍ وَقَدْ حَسَّنَهُ صَاحِبُهُ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ فَإِذَا طَعَامٌ رَدِيءٌ فَقَالَ ((بِعْ هَذَا عَلَى حِدَةٍ وَهَذَا عَلَى حِدَةٍ فَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا)). متفق عليه.

د راوي پېژندنه

د دې حديث شريف راوي عبدالله رضي الله عنه د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه زوی د قريشو له قبيلې څخه دی. په کوچنيوالي کې يې ايمان راوړ او له خپل پلار سره يې مدينې منورې ته هجرت وکړ د فقهاو او علماء اصحابو له جملې څخه دی.

د کلماتو معنا:

١.	حَسَّنَهُ:	ښائسته کړی يې و
٢.	رَدِيءٌ:	خراب
٣.	بِعْ:	وپلوره
٤.	فَمَنْ غَشَّنَا:	څوک چې له مونږ سره دوکه وکړي
٥.	فَلَيْسَ مِنَّا:	له مونږ څخه نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف معنا:

د عبدالله ابن عمرؓ څخه روايت دی چې يوه ورځ پيغمبرﷺ د غلې د پلورونکي تر څنګ تيريده پلورونکي (ښې او وچې دانې د درمند له پاسه او د خلکو مخې ته اچولې وې ولې لمدې او خرابې دانې يې ترې لاندې کړې وې) پيغمبرﷺ خپل لاس مبارک ورلاندې کړ ويې ليدل چې لمدې اوخرابې دانې يې لاندې پټې کړي دي نو ورته يې وفرمايل:

ښه غله بيله او خرابه بيله وپلوره او پوه شه چې څوک مونږ ته دوکه راکوي له مونږ (مسلمانانو) څخه نه دی.

د حديث شريف حکمت:

د نورو د مال د لاس ته راوړلو په مقصد دوکه کول او خلک غولول له هغو ناوړو خويونو څخه دي چې د خلکو ترمنځ د دښمنۍ تخم شيندي د اړيکو د خرابوالي او جګړو لامل ګرځي او د بې باورۍ فضا را منځ ته کوي.

د وګړو مال، وخت او ابرو ته خورا زيان اړوي اقتصادي چارې کمزورې کوي د راکړې ورکړې اخلاق او د سوداګرۍ کار او بار خرابوي.

او که چيرې له صداقت څخه کار واخستل شي او سوداګران ښه سامان را وارد کړي او د خپل مال د عيب په ښکاره کولو يې په مناسب قيمت وپلوري نو الله تعالي به يې د خپلو بندګانو په زړونوکې ګران او په ځان او مال کې برکت واچوي، خلک به د دوکې، فريب او زيان منۍ له تشويشه خلاص شي او په يو بل به د باور او اعتماد په فضا کې ژوند وکړي.

فعاليت

په معاملاتو او سوداګرۍ کې دوکه او فريب څنګه منځ ته راځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف ګټې:

۱. **د بازار کنترول**: لازمه ده چې د سوداګرۍ او تجارتي کړنو څارنه وشي، پکار ده چې چارواکي د بازار څارنه وکړي او د اخلاقو له پلوه کمزوري او فرصت غوښتونکي کسان پرې نږدي چې د چل، دوکې او فریب له لارو خلکو ته زیان ورسوي.

۲. **د معاملو سپښلتیا**: هر مسلمان سوداګر مکلف دی چې ښه او بد جنس جلا وپلوري او د خپل جنس اوصاف په څرګند ډول بیان کړي.

۳. **فریب او دوکه بد ګڼل**: اسلام چې د عدالت، انصاف، ریښتینولۍ او امانتدارۍ د ین دی له فریبکار او هغه انسان څخه چې ټولنیزې اړیکې خرابوي او د دښمنیو لامل ګرځي دومره کرکه لري چې هغه د کاملو مسلمانانو له جملې څخه نه بولي او دا اعلانوي چې خلک دې د ده دغه ناوړه عمل اسلام ته نه منسوبوي.

۴. **پر شفافیت او ریښتینولۍ ولاړ اقتصاد**:

د ټولنې اقتصاد هغه وخت ښه پرمختګ کولای شي چې د مالونو تبادله او ګټه د دواړو خواوو پر مصلحتونو ولاړه وي او معامله په پاک ډول د انصاف څخه په ډکه فضاء د دواړو خواوو په کامل رضایت او خوښۍ سرته ورسېږي. دا ښکاره خبره ده چې په دوکه او چل ول باور او صداقت له منځه ځي او کوم لوری چې دوکه یې خوړلې وي هېڅکله خوښ او راضي نه وي.

له دې امله لازم دي چې د ټولنې ټول وګړي د دوکې او فریب څخه ځانونه وساتي او نور هم د دوکې او فریب له ضررونو څخه خبر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

۱. د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه ژوند په لنډ ډول بیان کړئ.
۲. دوکه په ټولنه کې کومې ناوړه پایلې رامنځته کوي؟ واضح یې کړئ.
۳. د حدیث شریف له ګټو څخه درې ګټې وليکئ.
٤. لاندې کلمې معنا کړئ.

أ. حَسَّنَهُ
ب. فَأَدْخَلَ يَدَهُ
ج. فَمَنْ غَشَّنَا

کورنۍ دنده

۱. د غه عبارت حفظ کړئ (فَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا)
۲. د لاندې عنوانونو څخه یو عنوان غوره او د هغه په هکله یوه مقاله وليکئ چې له پنځو کرښو څخه کمه نه وي:

آ- په معاملو کې د فریبکارۍ ضررونه.
ب- په ټولنیز ژوند کې د دوکې ضررونه.
ج- په ازموینه کې دوکه (نقل) کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګاونډي حقوق

عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَازَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ.) متفق عليه

د راوي پيژندنه:

په وړاندينې لوست کې پيژندل شوی دی.

د کلماتو معنا:

١. مَازَالَ: تل.
٢. الْجَار: ګاونډی
٣. ظَنَنْتُ: ګومان مې وکړ.

د حديث شريف معنا:

له حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر ﷺ وفرمايل: تل به جبرئيل عليه السلام (د الله تعالی له لوري) ماته د ګاونډي په هکله توصيه کوله تردې چې ما فکر وکړ چې په ميراث کې به ورته برخه ورکړي (يعنې د يو چا له مړينې وروسته به يې ګاونډی هم د نورو وارثانو په څير د مړي له مال څخه برخه اخلي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حدیث شریف حکمت:

انسان په خپل ژوند کې د مور، پلار، اولادونو او دوستانو څخه سربېره د ګاونډیو سره هم ځانګړې اړیکې لري د دغو اړیکو ښه والی او بد والی په اخلاقو باندې زیاته اغیزه لري.

تر ټولو لومړی هغه څوک چې په غم او ښادۍ کې زمونږ پر شاوخوا را ټولیږي هغه ګاونډیان دي: که د چا اړیکې د خپلو ګاونډیانو سره نیکې وي له ډیرو خواو څخه به په امن او ډاډ کې وي او د هغوی له تجربو او فضا یلو څخه به ګټه اخلي.

او د ګاونډیانو سره د اړیکو د خرڅدو په صورت کې به انسان له هر لوري د خطر احساس کوي او یو د بل له لیدلو څخه به کرکه کوي او ډیر ژر به یې ځاني، مالي او رواني ډاډ له منځه ولاړشي.

له ګاونډیو سره د اړیکو ښه والی په خپلو کې د حقوقو د رعایت کولو پورې تړاو لري بناءً پیغمبرﷺ په دې او نورو ډیرو احادیثو کې د ګاونډي مقام او منزلت په خورا تاکیدي اسلوب سره بیان کړی دی.

فعالیت

څرنګه کولی شو د خپلو ګاونډیانو حقوق پر ځای کړو؟ د دې سوال ځواب په ډله ییز ډول ورکړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **د وارث پر ځای د ګاونډي دریدل**: ګاونډی هغه چا ته وایي چې ستاسې په شاوخوا کې اوسېږي، اسلام د ګاونډي حقوقو ته دومره پاملرنه کړې ده چې ګاونډی سره د دې چې میراث نشي وړاي خو د ټولنیزو حقونو له پلوه له هغه چا سره چې میراث وړي برابر دی.

۲. **د ګاونډي پر حقوقو زیات ټینګار**: د اسلام ګران پیغمبرﷺ فرمایي: جبرئیلؑ د الله تعالی په امر ما ته تل د ګاونډي په حق کې توصیه او لارښوونه کوله.

۳. **له جبرئیل علیه السلام سره د پیغمبرﷺ اړیکې**: جبرئیلؑ د ملائکو له جملې څخه هغه ملائکه ده چې پیغمبرﷺ ته به یې وحي راوړله، او د دې کارونو په زده کړه کې یې د پیغمبرﷺ ملګرتیا کوله.

۴. **ګاونډي ته د هر ډول تکلیف له رسولو څخه ځان ساتل**: که چېرې انسان د ګاونډي سره مرسته نشي کولای نو لږ تر لږه ګاونډي ته له ضرر رسولو څخه باید ډډه وکړي، په بل حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library

شريف کې راغلي دي: (هغه کس کامل مسلمان نه دی چې د هغه ګاونډی د ده له ضرر څخه په امن کې نه وي).

۱- لاندې کلمي معنا کړئ:

۱. مَازَالَ

۲. يُوصِينِي

۳. ظَنَنْتُ

٤. سَيُوَرِّثُهُ

۲. د حديث شريف اجمالي معنا وواياست.

۳. د حديث شريف ګټې وواياست.

۱. د پورتني لوست حديث شريف له معنا سره حفظ کړئ.

۲. د لاندې موضوعاتو څخه په يوه موضوع کې يوه مقاله وليکئ چې له شپږو کرښو څخه کمه نه وي.

آ- دګاونډي حقوق.

ب- ګاونډي ته د ضرر رسولو ډولونه.

ج- ګاونډي ته د ضرر نه رسولو څرنګوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډي ته د تکليف رسولو ګناه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللَّهِ لَا يُؤْمِنُ قَالُوا: وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: الْجَارُ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا بَوَائِقُهُ؟ قَالَ: شَرُّهُ.)) مسند احمد

د راوي پيژندنه:

نوم يي عبدالرحمن د صخر دوسي زوی او په ابوهريره رضي الله عنه باندې شهرت لري.
د هجرت په اووم کال يې مدينې ته تشريف راوړ او د رسول الله ﷺ ملتيا يې غوره کړه پيغمبر ﷺ ورته د احاديشو د حفظ د عا وکړه، چې له برکته يې د نورو اصحابو په پرتله زيات شمېر احاديث له رسول الله ﷺ څخه روايت کړي دي او د هجرت په ۷۵ کال وفات شو.

د کلماتو معنا:

۱-لَا يُؤْمِنُ: د پوره ايمان خاوند کيداى نشي.
۲-الْجَارُ: ګاونډی.
۳-بَوَائِقَهُ: د هغه له ضرر څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حدیث شریف معنا:

له حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه ورایت دی چې پیغمبر ﷺ وفرمایل: په الله تعالی قسم چې مؤمن نه دی په الله تعالی قسم چې مؤمن نه دی په الله تعالی قسم چې مؤمن نه دی.

ورته وویل شول، څوک؟ یا رسول الله. پیغمبر ﷺ وویل: هغه څوک چې ګاونډی یې له شر څخه په امان کې نه وي.

د حدیث شریف حکمت:

ټولنه د وګړو، کورنیو، کلیو او ښارونو څخه جوړېږي، که چېرې د کورنیو او کلیو وګړي ټولنیز آداب مراعات کړي او کوښښ وکړي چې هېڅ ډول ضرر ونه رسېږي په ځانګړي ډول هغه چا چې ورسره ګاونډیتوب لري که هغه د کور او کلي ګاونډی وي او که د دفتر یا د کار د ځای ځکه چې دغه ټول ګاونډیان شمېرل کېږي په دې صورت کې هېڅکله په ټولنه کې کومه ستونزه نه پیداکېږي او که چېرې پیدا هم شي ډېر زر حل کېږي، په همدې بناء د اسلام مقدس دین د ګاونډي احترام لازم ګرځولی دی او هغه ته یې له ضرر رسولو څخه منع کړې ده.

د حدیث شریف ګټې:

۱. ګاونډي ته ضرر رسول خورا لویه ګناه او حرام کار دی، ځکه چې پیغمبر ﷺ پدې هکله سخت وعید فرمایلی دی او د زیات تېنګار په خاطر یې د الله تعالی په پاک نوم درې ځلې قسم یادکړ او ویې فرمایل: ((وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللهِ لَا يُؤْمِنُ...)) چې داګاونډي ته د ضرر رسولو د ګناه په ډېر والي ښکاره دلالت کوي. سره لدې چې د (لَا يُؤْمِنُ) عبارت ښېخي د مسلمان څخه د ایمان نفي کوي، خو د دې لپاره چې خلک څوک د ګناه په کولو کافر و نه ګڼي علماء د دې عبارت معنا داسې کوي: (د کامل ایمان خاوند نه دی). بیا هم د حدیث شریف د نص څخه څرګنده معلومېږي چې ګاونډي ته ضرر رسول خورا لویه ګناه ده.

۲. نورو ته د دې ګناه د لوی والي بیانول: ځینې خلک چې د دې ګناه له لوی والي څخه خبر نه وي، ګاونډیانو ته په ضرر رسولو کې کومه ځانګړې پاملرنه نه کوي، په همدې بناء لازم دي چې د دې ګناه لوی والی او خطر خلکو ته په ډاګه او بیان کړل شي، او که چېرې خلک د دې ګناه له لوی والي څخه خبر شي نو ارو مرو به ورڅخه ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

په ټولګي کې په ګروپي شکل ګاونډي ته د ضرر او تکلیف رسولو ځینې مثالونه ووایاست.

ارزونه

۱- د حدیث شریف راوي څوک دی؟ په لنډ ډول یې څرګند کړئ.
۲- د ګاونډیو ځینې حقوق بیان کړئ.
۳- لاندې کلمې معنا کړئ.
أ- لَا يُؤْمِنُ:
ب- الْجَارُ:
ج- بَوَائِقَهُ:

کورنۍ دنده

کوم شیان د ګاونډي د ضرر او تکلیف لامل ګرځي پدې اړه پنځه کرښې مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

کینه لویه ګناه ده

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ.) رواه ابو ادؤد.

د راوي پيژندنه:

دغه روايي په وړاندې لوست کې پېژندل شوی دی.

د کلماتو معنا:

۱-الْحَسَدَ:	له نورو څخه د نعمت د زوال هيله.
۲-إِيَّاكُمْ:	ځان وساتي.
۳-يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ:	ښېګڼې خوري (له منځه يې وړي.)
٤-الْحَطَبَ:	لرګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف معنا:

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د کينې له بيماری څخه ځان وساتئ ځکه چې کينه کول د سړي نيک عمل خوی (داسې له منځه وړي) لکه اور چې لرګي سوزوي او له منځه يې وړي.

د حديث شريف حکمت:

د اسلام سپيڅلي دين مسلمانانو ته په مينې، ورورګلوی، مرستې او يووالي امر کړی دی. او له هر هغه څه چې د اړيکو د زيانمنېدو او ورته د ضرر رسولو لامل ګرځي منع کړي دي.
دا چې کينه او حسد د بدګومانی، کرکې، ازار او تکليف رسولو اصلي عامل دی پيغمبر ﷺ په کلکه ورڅخه منع فرمايلې ده.

حسد څه ته وايي:

حسد دا دی چې يو څوک د نورو د نعمتونو د زوال هيله کوي او پر نورو يې د خداي احسان نه لوړېږي.

غبطه څه ته وايي:

غبطه دي ته وايي چې يو څوک د نورو د نعمت په څير ځانته هم د هماغسې نعمت هيله کوي او د نورو د نعمت زوال نه غواړي چې دا يو نيک او جايز کار دی.

د حسد ضرورنه:

آ- حسد مينه، ورورګلوي او ښېګڼې چې ايماني غوښتنې دي له منځه وړي او پر نورو د ظلم او تېري لامل ګرځي.
ب- حسد د حسد کونکي د زړه ناولتيا څرګندوي ځکه چې دی هغه څه چې ځان ته يې خوښوي نورو ته يې نه خوښوي.
ج- حسد انسان نا اراموي، ځکه چې حسد کونکی هميشه په دې انديښنه کې وي چې هغه فلاني ته ولې دومره نعمتونه ورکړل شوي دي او ماته نه دی راکړل شوي، هغه تل د نورو د هوساينې او د ځان د محرومتيا سوچونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

د حسد او کېنې ځینې نور ضررونه په ګوته کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱-د حسد حرام والی: پیغمبرﷺ په خورا سخت اسلوب له کینې کولو څخه منع کړې ده.
۲-حسد نیکي له منځه وړي: حسد برسېره پردې چې لویه ګناه ده د حسد کونکي نورې نیکۍ هم له منځه وړي.

ارزونه

۱- لاندې کلمې معنا کړئ:
أ. إِيَّاكُمْ:
ب. يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ:
ج. الْحَطَبَ:
۲- حسد تعریف او له غبطې سره یې توپیر واضح کړئ.
۳- د حسد ضررونه بیان کړئ.

کورنۍ دنده

۱- د لوست حدیث شریف له معنا سره حفظ کړئ.
۲- د حسد ضررونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور او پلار حقوق

عن عبد الله بن عمرو ، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : «رِضَا اللهِ فِيْ رِضَا الْوَالِدَيْنِ، وَ سَخَطُ اللهِ فِي سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ» رواه البيهقي في شعب الاءيمان

د راوي پيژندنه:

دغه لوی او جليل القدر صحابي عبد الله بن عمروبن العاص رضی الله تعالی عنه دی، نسب يې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په کعب بن لؤي کې يو ځای کېږي.
دغه صحابي عالم، د قرآن کريم قاري او د احاديثو د حافظانو له جملې څخه دی، زيات شمېر احاديث يې روايت کړي دي، او د هجرت په (٦٥) کال وفات شو.

د کلماتو معنا:

رِضَا اللهِ: د الله تعالی خوښي.
سَخَطُ اللهِ: د الله تعالی قهر او غوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف معنا:

د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنه څخه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله تعالى خوښي د مور او پلار په خوښۍ او د هغه قهر او غوسه د مور او پلار په قهر او غوسه كې نغښتې ده.

د حديث شريف حكمت:

الله تعالى د انسانانو حقيقي خالق دى، مور او پلار په عالم اسباب كې د خپل ماشوم د ودې لپاره زياتې ستونزې ګالي، دوې شپه او ورځ د خپل ماشوم لپاره د خوړو، جامو او د ژوند لپاره د مناسب ځاى او سالمې تربيې د چاپېريال د برابرولو په هڅه كې وي، لدې امله د الله تعالى په وړاندې د مور او پلار مقام او منزلت ډېر لوړ دى، او په ډېرو ځايونو كې يې خپل حق د مور او پلار له حقوقو سره يو ځاى ذكر كړى دى، همدا راز رسول الله ﷺ پدې حديث شريف كې هم د الله تعالى له حقوقو څخه چې يو يې د هغه خوښي تر لاسه كول دي د مور او پلار د حقونو سره يو ځاى ذكر كړى دي، ان تر دې چې د مور او پلار د حق پر ځاى كول يې د الله تعالى د حق پر ځاى كول ګڼلي دي.

د مور او پلار سره نېكي كول:

له مور او پلار سره نيكي بايد د دوې په ژوند او هم د دوې له مرګ څخه وروسته دوام وموميء كله چې دوى ژوندي وي اولادونه مكلف دي چې له دوى سره په نيكى، مهربانى، نرمه ژبه او ښو اخلاقو چلند وكړي، له هغو خبرو څخه چې دوى پرې خفه كېږي ډډه وكړي، د دوى په وړاندې لوړوالى ونه كړي، په نېكو كارونو كې د دوې اطاعت وكړي، د دوى غوښتنې پر نفلي عبادتونو مخكې كړي، او هر وخت د دوى په خدمت كې واوسئ، د دوى د اړتياو په پوره كولو كې له هر ډول كوښښ څخه دريغ ونه كړئ، دوى دواړه پر ښځه او اولادونو وړاندې وګڼئ، له دوى څخه د هغه څه غوښتنه ونه كړئ چې دوى يې توان نه لري، دوى ته فرياد ونه كړئ، په نامه سره يې ياد نه كړئ، د دوى له مرګ څخه وروسته په ډېر اخلاص د رحمت او مغفرت دعا ورته وكړئ، كه دوى له چا سره وعده كړې وي هغه بايد سرته ورسوئ او د دوستانو او خپلوانو عزت يې وكړئ.

د حديث شريف ګټې:

۱- د مور او پلار د خوښۍ د تر لاسه كولو فرضيت: څرنګه چې د الله تعالى خوښي د مور او پلار په خوښۍ پورې تړلې ده او د الله تعالى خوښي تر لاسه كول په هر انسان فرض دي نو د مور او پلار خوښي تر لاسه كول هم فرض دي. له همدې امله يوه ورځ يو تن صحابي غوښتل چې په جهاد كې ګډون وكړي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل: (آيا مور او پلار دې ژوندي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحابي وويل: هو. نبي كريمﷺ ورته وفرمايل: (ولاړ شه د هغوي خدمت وكړه، جنت د مور د قدمونو لاندې دی).

۲- د مور او پلار د غوسه كولو حرام والی: څرنگه چې د الله تعالی غوسه كول حرام دي او د الله تعالی غوسه د مور او پلار په غوسه كې ده، نو د مور او پلار غوسه كول هم حرام دي.

۳- نيكمرغي او بريالیتوب: د مور او پلار خوښي د نيكمرغۍ او بريالیتوب، او د دې پر خلاف د دوی قهر او غوسه د انسان د بد بختۍ او ناكامۍ لامل گرځي.

فعاليت

هغه كارونه چې د مور او پلار د خوښۍ او هغه كارونه چې د دوې د غوسې لامل گرځي په فردي او يا ډله ييز ډول بيان كړئ.

ارزونه

۱- لاندې كلمې معنا كړئ:

أ. الْوَالِدَيْنِ:

ب. رِضَا:

ج. سَخَط:

۲- اسلام د مور او پلار په حقونو باندې ولې دومره ټينگار كړی دی؟

۳- آيا له مور او پلار سره نيكي كول يوازې د دوې تر ژوند پورې تړلی ده؟

كورنۍ دنده

دغه عبارت « رِضَا اللَّهِ فِيْ رِضَا الْوَالِدَيْنِ، وَ سَخَطُ اللَّهِ فِي سَخَطِ الْوَالِدَيْنِ » له معنی سره حفظ كړئ.

مور څرنگه كولای شو د مور او پلار خوښي تر لاسه كړو؟ پدې اړه يوه مقاله وليكئ چې له شپږو كرښو څخه كمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مورحق

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: (جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوكَ.) متفق عليه

د راوي پيژندنه:

د راوي پېژندنه مخکې ذکر شوې ده.

د کلماتو معنا:

مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ: تر ټولو خلکو ډېر د استحقاق خاوند څوک دی.

بِحُسْنِ صَحَابَتِي: زما د ملګرتیا او نېک چلند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف معنا:

له ابو هريرة رضی الله تعالی څخه روايت دی چې يو سړی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او عرض يې وکړ: پر ما باندې څوک د زيات خدمت او ښه چلند حقدار دی؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ستا مور. بيا هغه سړي پوښتنه وکړه: بيا څوک؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ستا مور. بيا هغه پوښتنه وکړه: بيا څوک؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ستا مور. هغه سړي بيا پوښتنه وکړه: بيا څوک؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفريل: بيا ستا پلار.

د حديث شريف حکمت:

مور له هر پلوه لکه: رواني، عاطفي، جسمي د خپل ماشوم د خدمت لپاره ډېرې لويې قربانۍ ورکوي، له همدې امله مو په پورتني حديث شريف کې ولوستل چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم درې ځلې ځواب ورکړ چې تر ټولو خلکو د زيات خدمت او ښه چلند حقداره مورده.

تر ټولو لوی تکليفونه چې مور يې د خپل اولاد په وړاندې ګالي عبارت دي له:

۱-د حمل تکليفونه: مور د حمل په وخت کې ډېر جسمي او رواني تکليفونه ګالي، او د خپل بدن د هډوکو او وينې شيره خپل ماشوم ته ورکوي.

۲-د ولادت تکليفونه: چې د ولادت تکليفونه خورا درانه او ټکان ورکوونکي وي.

۳-د تي د شيدو ورکولو د وخت تکليفونه: مور د خپلو غوښو او هډوکو زېښل شوي څيزونه خپل ماشوم ته د شيدو په ښه ورکوي او پر خپل ماشوم باندې له ټولو خلکو ډېره مهربانه وي د هغه سره مينه کوي په خدمت يې نه ستړې کېږي، په خپل ماشوم غوسه نه کوي، او دې ته سترګې په لاره وي چې ماشوم يې سالمه وده وکړي.

مور د اميدوارۍ په وخت کې ډېرې زياتې ستونزې ګالي، د زېږيدنې پر مهال له خطرناکو پراونو تيريږي، د تي ورکولو او تربيه کولو پر وخت ډېرې ستونزې ګالي او د خپل ماشوم د آرامۍ لپاره د خپلو ډېرو آرامیو څخه تيريږي، له همدې امله دغه حديث شريف د خدمت او ښه چلند په اړه د مور حق د پلار له حق څخه زيات او مخکې ذکر کړی دی.

د حديث شريف ګټې:

۱-د مور غوره والی او مخکې والی: مور او پلار دواړه په خپل اولاد زيات حقونه لري، خو مور د ذکر شوو دلايلو په رڼا کې ډېر زيات حقونه او ځانګړی مقام لري، اولاد بايد د مور اطاعت، په هغې باندې شفقت او مهربانۍ ته زياته پاملرنه وکړي.

۲-د مور سره په نېکۍ کولو ډېر ټينګار: ځکه چې نبي کريمﷺ مور درې ځلې ذکر کړی او په څلورم ځل يې پلار ذکر کړی دی، له دې څخه معلومېږي چې مور تر هر چا زياته د نېکۍ حقداره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

۱- لاندې عبارتونه ترجمه کړئ:

مَنْ أَحَقُّ النَّاس:

بِحُسْنِ صَحَابَتِي:

۲- د حدیث شریف د راوي په اړه معلومات ورکړئ.

۳- نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولې د مور په حقونو ډېر ټینګار کړی دی؟

کورنۍ دنده

۱- د حدیث شریف معنا حفظ کړئ.

۲- زده کوونکي دې د مور د حقونو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له پنځو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي شريعت کې معاملات [۳]

اسلامي شريعت لکه چې د عقايدو، اخلاقو او عباداتو په هکله ارزښتناکې لارښونې لري، د معاملاتو(راکړې ورکړې) په هکله يې هم ځانګړي احکام او آداب وضع کړي دي، ترڅو خلک خپل معاملات د عدل، ريښتونولې، او له درغلۍ او دوکې څخه لرې سرته ورسوي، نو لازمه ده چې هر مسلمان د معاملاتو دشرعي احکامو څخه باخبره وي، روا او ناروا احکام وپيژني، او دا باور تر لاسه کړي چې د اسلامي ادابو او احکامو په پام کې نيولو سره معامله کول اجر او ثواب لري ، او د انسان په مال کې د برکت وسيله ګرځي.

په اسلامي شريعت کې د معاملاتو ځانګړتياوې:

- د نورو خلکو شتمنيو ته احترام او پر هغو باندې له تېرې نه ځان ساتل.
- دحلال رزق د لاس ته راوړلو لپاره معاملات يوه وسيله ده.
- نيک اخلاق لرل.
- خپله ګټه او د نورو ګټې په پام کې نيول.
- په معامله کې صدق او ريښتينونولي.
- په معامله کې له دروغ ويلو نه ځان ساتل.
- په معامله کې د دواړو اړخونو رضايت.
- په معامله کې وضاحت او بيان.
- له هرې هغه کړنې څخه ډډه کول چې د شخړې لامل ګرځي.
- له ټګۍ او دوکې څخه ډډه کول.
- له بې عدالتۍ، سود، ظلم او احتکار څخه ډډه کول.

د تجارت (سوداګرۍ) آداب:

مسلمان سوداګر (تجار) بايد لاندې آداب په پام کې ولري:

۱- د پلورلو او پيرودلو په شرعي احکامو پوهيدل.

۲- دهر ډول درغليو څخه ځان ساتل.

۳ - معاملات د معاملة جمع ده، معاملة په لغت کې راکړې ورکړې ته وايي، او په اصطلاح کې هغه مالي ترونونه دي چې دهغه په مقابل کې عوض اخيستل کيږي. لسان العرب ج ۹ /مخ ۱۰٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په تجارت کې داسې نیت درلودل چې د ځان او خپل عیال لپاره حلال رزق وګټي، پرته له دې چې بل چاته ضرر ورسوي.

٤- له قسم کولو څخه ځان ژغورل، په تېره په ناحقه قسم کول.

٥- خپلو دیني فرایضو او واجباتو ته وخت ورکول.

٦- د خپل توان په اندازه له بیوزلو سره مرسته کول.

۷- که د نصاب څښتن وي په خپل وخت د زکات اداکول.

۸- په خپلو ټولو کړنو او خبرو کې ریښتینولي په پام کې نیول.

۹- د تبادلې په وخت کې دخپل جنس عیبونه بیانول.

۱۰- د خلکو ګټې باید په پام کې نیول او د هغه څه د خرڅولو څخه ډډه کول چې خلکو ته په کې زیان رسیږي، لکه مخدره او نیشه یي توکي.

د ریښتیني او امین تاجر غوره والی:

له ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ وفرمایل: {التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ}[٤]

ترجمه: ریښتونی او امانت کار تاجر به له نبیانو، صدیقینو، او شهیدانو سره په جنت کې یوځای وي.

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

۱- په اسلام کې د معاملاتو ځانګړتیاوې بیان کړئ.

۲- هر زده کوونکی دې د تجارت له آدابو څخه درې آدابه ذکر کړي.

۳- د ریښتینې او امین تاجر غوره والی بیان کړئ.

کورنۍ دنده

ستاسو په نظر یوتاجر باید کوم آداب مراعات کړي ؟ په دې هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ چې د لسو کرښو څخه کمه نه وي.

٤ - المستدرک للحاکم ۲/ ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيعې فقهي اصطلاحات

مخکې له دې چې د بيعې مسائل په تفصيل سره وڅيړو، مناسبه ده چې ځينې هغه اصطلاحات چې د بيعې په بحثونو کې تکرارېږي وپيژنو، تر څو د مطالبو، او موضوعاتو پوهيدل راته اسان شي.

بَيع:

بيعه: د خرڅوونکي او اخيستونکي په رضايت د يو مال په بل مال بدلولو ته بيعه وايي.

بايع:

بايع پلورونکي (خرڅوونکي) ته ويل کيږي.

مُشتَري:

مشتري اخيستونکي ته ويل کيږي.

اِيْجَاب:

ايجاب هغه لومړی خبره ده چې د عقد (ترون) کولو لپاره ويل کيږي، لکه چې خرڅوونکی داسې وِوايی: دا قلم مې په لس افغانی درکړ.

قَبُول:

قبول هغه دويمه خبره ده چې له ايجاب څخه وروسته د عقد د منلو لپاره ويل کيږي، لکه د پورتني مثال په ځواب کې چې اخيستونکی ووايي: ما په لس افغانی واخيست.

عَقْد:

په لغت کې ترلو ته وايي او په اصطلاح کې: د هغه اتفاق څخه عبارت دی چې ددو طرفونو تر مينځ د يوه کار د اجرا کولو لپاره ترسره کيږي، لکه د بايع او مشتري تر مينځ دبيعې ترون .

مَال:

مال هغه شی دی چې قيمت ولري او د تبادلې او ملکيت قابل وي.

مُتَقَوِّم مال:

متقوم مال هغه مال دی چې شرعا قيمت ولري، اوګټه اخيستل ورڅخه روا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مَنْقُول:

منقول هغه مال دی چې له یو ځای څخه بې بل ځای ته وړل ممکن وي، لکه نغدې پیسې، جامې، او داسې نور.

غَیْرِ مَنْقُول (عقارات):

غیر منقول هغه مال دی چې له یو ځای څخه بې بل ځای ته نقلول او وړل ممکن نه وي، لکه: کورونه، ځمکې، باغونه، او داسې نور.

د پورتنیو اصطلاحاتو په هکله یو تر بله پوښتنې وکړئ.

لاندې اصطلاحات تعریف کړئ:

آ- ایجاب.

ب- قبول.

ج- منقول مال.

د- متقوم مال.

د لاندې صحیحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کیږدئ:

۱. قبول: هغه خبره ده چې لومړی د عقد د کولو لپاره کیږي ( )

۲. عقد: له هغه اتفاق څخه عبارت دی چې د دوه طرفونو تر منځ د یوه کار د اجرا کولو لپاره ترسره کیږي. ( )

۳. بیعه: په ګټو او منافعو د مال بدلولو ته ویل کیږي. ( )

د درس اصطلاحات په لنډه توګه ولیکئ.

۵- مجلة الاحکام العدلیة - (ج ۱ / ص ۲۹)

۶- مجلة الاحکام العدلیة - (ج ۱ / ص ۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيعې د فقهي اصطلاحاتو ادامه

په تير لوست کې مو ځينې هغه اصطلاحات وپيژندل چې په بيعه کې تکراريږي، ځينې نور پاتې يې نن په دې لوست کې پېژنو.

مبيعه :

هغه جنس ته ويل کيږي چې ثمن د هغې په مقابل کې واقع کيږي ، اوپه بيعه کې اصلي موخه وي.

ثمن :

هغه مال ته ويل کيږي چې د مبيعې په مقابل کې واقع کيږي، او غالبا نقود اوپيسې وي.

نُقُود:

نقود د نقد جمع ده، په اصل کې سرو زرو، او سپينو زرو ته ويل کيږي، خو اوس پيسې هم د نقودو په نامه يادېږي کومې چې ددې دواړو په ځای استعماليږي، لکه بانک نوټونه او فلزی پيسې.

کيْلِي :

کيلي هغه شيان دي چې په پيمانه کولو سره معلوميږي، لکه پترول، اوبه، او داسې نورمايعات.(چې اوس د دې رايج واحد ته ليتر ويل کيږي.)

وزني:

وزني هغه شيان دي چې په وزن کولو (تللو) سره معلوميږي لکه سره زر، سپين زر، غوښه ، د سوځولو لرګي او داسې نور، (چې اوس د دې رايج واحد ګرام او کيلو ګرام دی).

عَددِي:

عددي هغه شيان دي چې اندازه يې په عام ډول په شمارلو سره معلوميږي.

ذرْعِي:

ذرعي هغه شيان دي چې اندازه يې دطول په واسطه معلوميږي ، لکه ټوکرونه.(په اوسنۍ زمانه کې د دې د اندازه کولو واحد متر دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشاع:

هغه مشترک مال دی چې لا ویشل شوی نه وي ، خو د هرشریک برخه د (فیصدی او یا نصف او ربع او ثمن ...) د سهم په اساس معلومه وي. لکه سهامي شرکتونه، میراثي مالونه چې لاتقسیم شوي نه وي.

مِثلي:

مثلي هغه شی دی چې مثل یې په بازار کې پیدا کیږي، او ډیر توپیر سره نلري، لکه غنم، اوربشې، او داسې نور، ځکه چې لږ توپیر په قیمت کی ډیر فرق نه راولي، غټ او واړه په یوه بیه خرڅیږي، لکه وزني، کیلي او متقاربه عددي شیان.

قِیَمي:

قیمي هغه شیان دي چې افراد یې په بازارکې سره متفاوت وي، او قیمتونه یې هم سره تفاوت ولري لکه: اسونه، پسونه، غواګانې، او داسې نور.

مُتَقارِبَه عَدَدِیَّات:

دا هغه شیان دي چې په بازار کې په شمېرلوخرڅیږي، او د افرادو تر مینځ یې په قیمت او بیه کې توپیر نه وي، دا ټول له مثلیاتو څخه ګڼل کیږي. لکه هګۍ، او چارمغز او داسې نور.

مُتَفاوِته عَدَدِیَّات:

دا هغه شیان دي چې په شمیرلو سره نه پلورل کیږي، ځکه چې د افرادو تر مینځ یې په قیمت او بیه کې ډیرتوپیر موجود وي، دا ټول له قِیمِیّاتو څخه شمېرل کیږي.لکه : کدو، هندوانې او داسې نور.

فعالیت

د متقاربه عددي شیانو څخه د پنځو، او د متفاوته عددي شیانوڅخه دشپږو نومونه واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

د لاندې اصطلاحاتو فرق بيان کړئ:

۱. مشاع او غيرمشاع مال.

۲. عدديات متقاربه، او عدديات متفاوته.

۳. مثلي او قيمي.

٤. کيلي او وزني.

٥. ذرعي او عددي.

د لاندې صحيحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کيږدئ:

۱- مشاع مال: هغه مشترک مال دی چې لا ويشل شوی نه وي ، خو د هرشريک برخه پکې د سهم په اساس معلومه وي. ( )

۲- عدديات متقاربه: هغه د شميرلو وړ شيان دي چې د افرادو ترمينځ يې په قيمت کې توپير وي. ( )

۳- مبيعه: هغه شي ته ويل کيږي چې په بيعه کې اصلي مقصود وي( ).

کورنی دنده

د درس اصطلاحات په مختصره توګه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيعې د فقهي اصطلاحاتو ادامه

په تيرو دوو لوستونو کې مو ځينې هغه فقهي اصطلاحات وپيژندل چې په بيعه کې تکراريږي، پاتې نور به يې په دې لوست کې وپيژنو.

رُكْنُ الْبَيْع:

د بيعې رکن: ايجاب او قبول دی، چې د عقد په صيغه هم ورځخه تعبير کيږي.

ثمن مسمی:

مسمی ثمن هغه ثمن دی چې دعقد په وخت کې په ځرګنده توګه وټاکل شي او د دواړو خواوو اتفاق پرې وشي، که هغه دبازار دنرخ مطابق وي، او يا له هغه سره توپير ولري.

قيمت:

قيمت د يوه شي حقيقي ارزښت دی.

تأجيل:

د دَيْن (پور) مُعَلَّقْ کول، او تر معلوم وخته يې ځنډول دی.

تقْسِيْط:

په متعددو قسطونو د يوه مبلغ تسليمول.

دَيْن:

دين (پور) هغه مال دی چې د چا په ذمه ثابتيږي (ورپه غاړه کيږي)، لکه يوه اندازه پيسې چې څوک د چا څخه پور واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غَبْن فَاحِش:

دخپل نرخ څخه په ډير لوړ نرخ د يوشي خرڅولو ته ويل کېږي، لکه د مثال په ډول: چې د يو کيلو ګاز مروج قيمت په بازار کې (۳۰) افغانۍ وي او يو پلورونکی يې په (۵۰) افغانۍ په چا خرڅ کړي.

آ- لاندې اصطلاحات تعريف کړئ:

۱- ثمن.

۲- قيمت.

۳- تاجيل.

٤- بايع.

۵- مشتري.

ب- د لاندې صحيحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کيږدئ:

۱- تقسيط: د دَيْن (پور) په جلا جلا وختونو کې اداء کول دي. ( )

۲- دين هغه مال دی چې په ذمه ثابتيږي. ( )

د درس عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۷ - مجلة الاحكام العدلية - (ج ۱ / ص ۳۳)

۸- مجلة الاحكام العدلية - (ج ۱ / ص ۳۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيع

انسانان په خپل ورځني ژوند کې دې ته اړ دي چې له يوله بل سره راکړه ورکړه ولري، څو خپلې اړتياوې له دې لارې پوره کړي ، د فقهې کتابونو دغه چارې دبيعې تر عنوان لاندې بيان کړې دي.

د بيعې تعريف:

بيعه په لغت کې: مطلق بدلولو ته ويل کيږي.

بيعه شرعاً: (د بايع او مشتري په رضا) په مال باندې د مال بدلولو ته وايې.

د بيعې حکم:

دبيعې په نتيجه کې د مشتري ملکيت په مبيعه کې او دبايع ملکيت په ثمن کې ثابتيږي.

د بيعې رکن:

د بيعې رکن، ايجاب او قبول دی.

د بيعې د ټرون لارې:

د بيعې ټرون په دوو طريقو سره تر سره کيږي:

۱. دخبرو له لارې.

۲. اوکله د عمل او کړنې له لارې.

د خبرو له لارې بيعه کول:

هغه ده چې د ايجاب اوقبول وسيله تر سره شي.

بيعه په فعل سره يا د تعاطی بيعه:

دا بيعه په عملي راکړه ورکړه باندې تر سره کيږي، که څه هم ايجاب او قبول ورسره نه وي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دډوډۍ پلورونکي مخ ته يو څوک د ډوډۍ مروج قيمت ږدي او يوه ډوډۍ ورڅخه اخلي.

فعالیت

د لفظ د ويلو په ځای په ورکړې سره دبيعې څو مثالونه ووياست. او همدارازدبيعې ترون عملا تمثيل کړئ.

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووياست:

۱. د دې لوست اصطلاحات بيان کړئ.

۲. د بيعې حکم څه دی؟

۳. د بيعې رکن څه دی؟ اوپه څه شی بيعه ترسره کيږي؟

لاندی جملی په مناسبو کلمو بشپړ کړئ:

بيعه په لغت کې: .....او شرعاً:.....ته وايي.

کورنۍ دنده

د دې لوست عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۹ - فقه المعاملات - (ج ۱ / ص ۷)

۱۰ - درر الحکام شرح غرر الاحکام - (ج ۶ / ص ۱۵۱)- تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق - (ج ۱۰ / ص ۲۲۸)

۱۱- رد المحتار - (ج ۱۸ / ص ۲۰۵)- العناية شرح الهداية - (ج ۸ / ص ۳۶۸)

۱۲- رد المحتار - (ج ۱۸ / ص ۱۹۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیعې شرطونه

وروسته له دې چې دبیعې له تعریف او د ترسره کیدلو له څرنګوالی سره آشنا شوو، اوس غواړو چې دبیعې شرطونه وپیژنو، څکه د شرط پاتې کیدل د بیعې د صحت مانع ګرځي، او دشرایطو مراعاتول د شخړو مخنیوې کوي.

شرط په لغت کې: علامې او نښې ته وایې.[۱۳]

په اصطلاح کې: شرط دی ته ویل کېږي چې د هغه د وجود پورې د بل شي وجود تړلی وي، او له هغه څخه پرته نه ترسره کیږي، لکه اودس چې دلمانځه لپاره شرط دی.[۱۴]

د بیعې شرطونه په څلور ډوله دي:

۱. دا نعقاد شرطونه.[۱۵]

۲. د نفاذ شرطونه.[۱۶]

۳. د صحت شرطونه.

٤. د لزوم شرطونه.[۱۷]

لومړی:

(د انعقاد شرطونه) په لاندې ډول دي:

۱. عقد کوونکی باید د عقل او پوهې خاوند وي، نو د لیونې او د ناپوهه کوچنې چې دښه اوبد تمیز نه شي کولاې عقد نه صحیح کیږي.

۲. عقد کوونکي باید له یوه کس څخه زیات وي، یعنی په بیعه کې له دواړو اړخونو څخه یو تن عاقد نه شي جوړیدای، چې هم خرڅونکی او هم اخیستونکی اوسي، څکه یو شخص هم قابض (اخیستونکی) او هم ورسپارونکی (خرڅوونکی) نشي کېدلای.[۱۸]

۱۳- العنایة شرح الهدایة - (۱ / ٤١٤)

١٤- رد المحتار - (ج ۳ / ص ٢٤٢)

١٥- درر الحکام شرح مجلة الاحکام - (۱ / ۹۲)

١٦- درر الحکام شرح مجلة الاحکام - (۱ / ۹٥)

١٧- رد المحتار - (ج ۱۸ / ص ۱۹۹)

١٨- بدائع الصنائع - (٥ / ۱۳٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣ .قبول بايد له ايجاب سره موافقت ولري، نو كه ايجاب يو شى وي او قبول بل شى دا بيعه نه تر سره كيږي، لكه بايع چې ووايي: ما دغه كتاب په لس افغانۍ در باندې خرڅ كړ، او مشتري ووايي: ما هغه قلم په لس افغانۍ درڅخه واخيست.

٤ .ايجاب او قبول بايد په داسې الفاظوسره وي چې في الحال دعقد د سرته رسولواو د رضايت معنا ورکړي، كه داسې الفاظ وي چې د وعدې مفهوم افاده كوي پرهغو الفاظو بيعه نه منعقده كيږي.لكه چې ووايي: زه به داقلم په تا باندې خرڅ كړم. او يا داچې اخيستونكي ووايي: زه به دا قلم له تا څخه واخلم.

٥.د متعاقدينو دبيعې دمجلس يو والى: كه د متعاقدينو څخه يو په همدې مجلس كې دا بيعه قبوله نه كړي، دا عقد او بيعه نه ترسره كيږي.

٦ . د مبيعې شتون: مبيعه بايد شتون و لري، له دې امله دهغه شي خرڅول چې موجود نه وي نه ترسره كيږي، لكه دهغې ميوې بيعه چې تر اوسه پې ګل نه وي ښكاره كړې.

٧ .مبيعه بايد متقوم مال وي، نو له هم دې امله دشرابو، او خنزير بيعه دمسلمان لپاره نه صحيح كيږي.

٨ .مبيعه بايد د پلورونكې ملكيت وي.

٩ .مبيعه بايد د تسليم كيدلو قابليت ولري، دهغه شى بيعه نه منعقده كيږي چې بايع پې له تسليمولو څخه عاجز وي، لكه په هوا كې د يوه مرغه خرڅول.

١٩- بدائع الصنائع - (٥ / ١٣٥).

٢٠- البحر الرائق شرح كنز الدقائق - (ج ١٥ / ص ٤٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده دوىي دې په دروپې ډول د بیعې د شرطونو په هکله یو له بل سره دښوونځي په مرسته مباحثه وکړئ.

دویم:

د نفاذ شرطونه:

۱.ملکیت یا د ملکیت ولایت: د چا په ملک اومال کې د تصرف حق لرل په دوو طریقو ترلاسه کیدای شي.[۲۱]

آ-د نیابت له لارې: چې دمال یا حق خاوند د ځان پرځای بل څوک وټاکي لکه وکالت.

ب-د شارع له لارې: هغه حق چې د شارع لخوا چاته ورکړشوی وي، لکه د پلارولایت د واړه ځوی په ملک کې.

۲.په مبیعه کې باید له بایع پرته د بل چا حق نه وي.[۲۲]

دریم:

د بیعې د صحت شرطونه:

۱.بیعه باید په مؤقته توګه نه وي، نو که داسې ووایي: (دغه قلم د یوی ورځې لپاره خرڅوم) دغه بیعه نه صحیح کیږي.

۲.مبیعه باید معلومه او مشخصه وي، که بایع ووایی: (له رمې څخه مې یو پسه درباندې خرڅ کړ)، او معلوم یې نکړي، دابیعه صحیح نده، ځکه چې د مجهول شی پلورل د شخړو لامل ګرځي.

۳. قیمت باید معلوم وي، که بایع مشتري ته داسې ووایي: (دا آس مې درباندې خرڅ کړ په څومره چې ارزښت لري)، اومعلوم یې نکړي، دا بیعه صحیح نه ده.

٤. بیعه باید له فاسد شرط څخه خالي وي، مثلا ووایي: (دغه کور درباندې په دې شرط خرڅوم چې هغه په کرایه ورنکړې).

۵.بیعه باید په رضایت سره ترسره شوې وي؛ بناء د مُکره (د هغه چا بیعه چې زور ورباندې شوي وي) بیعه فاسده ده.

۲۱- رد المحتار - (۱۰ / ۲٦۵)

۲۲- رد المحتار - (ج ۱۸ / ص ۲۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم:
د بيعې د لزوم شرطونه:

يوه بيعه هغه وخت لازمه کيږي چې په هغې کې خيارونه، لکه: (خيار شرط او خيار رؤيت) نه وي ايښودل شوي، او که ايښودل شوي وي هغه بشپړ شوي وي.

لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

۱. دبيعې شرطونه په څو ډوله دي؟ بيان يې کړئ

۲. دبيعې د انعقاد شرطونه ووايئ.

۳. د بيعې د نفاذ شرطونه کوم دي؟

٤. د بيعې د صحت شرطونه بيان کړئ.

د دې درس عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۲۳- رد المحتار - (ج ۱۸ / ص ۲۰۳)- البحر الرائق - (٥ / ۲۸۲)

۲٤- البحر الرائق شرح کنز الدقائق - (ج ۱٥ / ص ٤۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيعې ډولونه

بيعه ګڼ ډولونه لري او هرډول يې ځانګړې حکم لري، نو اړينه ده ترڅو بيعه د حکم له پلوه وپيژنو.

د بيعې ډولونه:

بيعه د حکم له نظره په پنځه ډوله ده:

۱. صحيحه نا فذه لازمه بيعه[۲۵]:

دا هغه روا بيعه ده چې د اصل او وصف دواړو له مخې صحيحه وي، نه د چا حق ورپورې تړلی وي، او نه په کې له خيارونو څخه کوم خيار موجود وي.

حکم يې: د ټرون څخه وروسته سمدلاسه د مشتري ملکيت په کې ثابتيږي.[۲۶]

۲. صحيحه نافذه غير لازمه بيعه:

دا هغه روا بيعه ده چې د کوم چا حق ورپورې تړلی نه وي ، خو يو له خيارونو څخه پکې يو خيار شرط ګرځول شوې وي.

حکم يې: په دې صورت کې مبيعه د بايع (پلورونکي) د ملکيت څخه نه خارجيږي او د مشتري په ملکيت کې نه تر هغه داخليږي تر څو چې خيار شتون ولري، همداراز د ثمنو حکم هم دی.

۳. صحيحه موقوفه بيعه:

دا هغه بيعه ده چې د بل چا حق ورپورې تړلی وي، لکه يو څوک چې د بل چا مال د هغه له اجازې پرته خرڅ کړي.

حکم: په دې صورت کې د ملکيت ثابت کيدل د اصلي مالک د اجازې پورې تړلی دی.[۲۷]

۴. فاسده بيعه:

دا هغه بيعه ده چې د اصل له مخې صحيحه وي خو د صفت له مخې صحيحه نه وي، يعنې د صحت کوم شرط په کې نه وي مراعت شوی.

---

۲۵ - صحيحه بيعه هغه بيعه ده چې په روا توګه، د ايجاب اوقبول له لارې د مال بدلول په مال ترسره شي، او اثر (ملکيت) يې په مبيعه اوثمن کې څرګند شي.

۲۶ - درر الحکام شرح مجلة الاحکام - (۱ / ۹۵)- رد المحتار - (۱۸ / ۱۸۵).

۲۷- شرح المجلة الاتاسي: ۳۴۳- بدائع الصنائع- (۱۱ / ۴۹۴) البحر الرائق - (۱۵ / ۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فاسدې بيعې حکم: په مبيعه يا ثمنو کې ملکيت په قبضولو سره ثابتېږي، په دې صورت کې د مبيعې او ثمن په قبض کولو سره ملکيت ثابتېږي، خو متعاقدين هر يو کولای شي چې بيعه فسخه کړي خو فساد لرې او د شخړو مخنيوی وشي، لکه په ثمن کې جهالت ، او يا کوم بل داسې شرط کيښودل چې د بيعې د تقاضا خلاف وي.

۵. باطله بيعه:

دا هغه بيعه ده چې له سره صحت نه لري، هغه داسې چې:

آ- د انعقاد کوم شرط په کې نه وي، لکه د ليوني سړي بيعه ، يا د داسې ماشوم بيعه چې د ښه او بد تميز ونه لري.

ب- مبيعه مال نه وي، لکه په اوسنۍ زمانه کې د انسان خرڅول.

د باطلې بيعې حکم: په باطله بيعه کې ملکيت نه ثابتېږي.[۲۸]

فعاليت

زده کونکي دې په پنځو ډلو وويشل شي، بيا دې هره ډله د بيعې د لاندې ډولونو صورتونه بيان کړي :

۱- باطله بيعه. ۲ - فاسده بيعه . ۳ – نافذه لازمه بيعه٤ – نافذه غير لازمه بيعه. ۵ –موقوفه بيعه.

ارزونه

۱. بيعه څو ډولونه لري؟

۲. نافذه بيعه کومه بيعه ده؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱. باطله بيعه: دا هغه بيعه ده چې .....

۲. فاسده بيعه: د اهغه بيعه ده چې .....

کورنۍ دنده

د بيعې انواع او احکام په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۲۸- درر الحكام في شرح مجلة الاحكام - (۲ / ۳۱۰)- الجوهرة النيرة.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيعې د ډولونو دوام

په مخکې درس کې مو بيعه د حکم له پلوه وپيژندله، اوس غواړو چې بيعه د مبيعې او بيا د ثمنو له نظره وپيژنو.

د مبيعې له نظره د بيعې ډولونه:

بيعه د مبيعې له نظره په څلور ډوله ده:

۱ - مطلقه بيعه: مطلقه بيعه هغه ده چې بې له کوم قيد څخه ذکر شي او له ځان سره لکه د صرف، سلم او داسې نور قيدونه ونه لري، او دا بيعه د جنس خرڅول دي په مطلقو ثمنو (لکه سپين زر، سره زر، بانک نوټونه او فلزي پيسې).

دا بيعه د مشهورو بيعو له جملې څخه شميرل کيږي، او له همدې امله ورته (کامله) بيعه ويل کيږي.[۲۹]

۲ - د صرف بيعه: دا د نغدو بيعه ده په نغدو باندې، لکه په سرو زرو چې سپين زر، يا په افغانيو کالداري، يا ډالر يا نور څه واخيستل شي.

۳ - مقايضه بيعه: داد جنس بيعه ده په جنس باندې، لکه په يوه کمپيوټر چې موټر سايکل واخيستل شي.

۴ - د سلم بيعه: دا بيعه د مؤجل ده په معجل باندې، پدې معنی چې قيمت او پيسې سمدلاسه واخيستل شي، او جنس (مبيعه) څه موده وروسته ورکول کيږي، چې په ثمنو کې په عاجله (سمدلاسه) توګه، او په مثمن (مبيعه) کې په آجله (څه ځنډ وروسته) توګه ملک ثابتيږي.[۳۰]

فعاليت

د بيعې په پورتنيو څلورو ډولونو کې فکر وکړئ او يو د بل سره يې توپير په ګوته کړئ.

د ثمنو له نظره د بيعې ډولونه:

بيعه د ثمنو له نظره په څلور ډوله ده:

۱. مرابحه: په معلومه ګټه باندې د مال پلورلو ته د مرابحې بيعه وايي.

لکه چې يو سړی ٤٥ کيلو اوړه په ۱۰۰۰ افغانيو واخلي ، او ووايي چې دغه وړه په ۱۰۰ افغانيو ګټه

۲۹ - تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق - (ج ۱۱ / ص ۳۷۲)

۳۰ - المرجع السابق. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۱ / ص ۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرڅوي، او بيا يې په ۱۱۰۰ افغانيو باندې خرڅ کړي.

۲. تولیه: په خپل سر د يوشی خرڅولو ته د توليې بيعه وايي چې نه په کې ګټه وي او نه نقصان.
لکه چې يو سړی ٤٥ کيلو اوړه په ۱۰۰۰ افغانيو واخلي، او ووايي چې دغه اوړه په خپل سر خرڅوم، او بيايې په ۱۰۰۰ افغانيو باندې خرڅ کړي.

۳. وضیعه: په معين تاوان باندې د مال پلورلو ته د وضيعې بيعه وايي.
لکه په پورتني مثال کې چې ووايي: زه دغه اوړه په ۱۰۰ افغانيو تاوان خرڅوم ، اوبيا هغه اوړه په ۹۰۰ افغانيو خرڅ کړي.

۴. مساومه: دا هغه بيعه ده چې جانبين په کې په يوه قيمت سره اتفاق وکړي، خو د ګټې اونقصان، او يا د اخيستلو د قيمت ذکر پکې د سره نه کوي، چې په بازارونو کې اوس اکثره په همدې طريقې راکړه ورکړه کيږي . [۳۱]

ارزونه

آ- لاندې پوښتنوته ځوابونه ووياست:

۱- د مبيعې له نظره بيعه په څو قسمه ده؟
۲- د سلم بيعه کومه بيعه ده؟
۳- دثمنو له نظره بيعه په څو ډوله ده؟
٤- د مرابحې بيعه کومه بيعه ده؟

ب- د لاندې صحيحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کيږدئ:

۱. مقايضه بيعه: دا د جنس بيعه ده په جنس باندې. ( )
۲. د تولِيې بيعه: په خپل سر د يوه شي خرڅولو ته دتوليې بيعه وايې. ( )
۳. دوضيعې بيعه: په معينه ګټه باندې دمال پلورلو ته د وضيعې بيعه وايي. ( )

کورنی دنده

د بيعې اقسام د مبيعې او ثمن په نظر کې نيولو سره په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۳۱- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۱ / ص ۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خِيَار
(د خيار شرط تعرِيف، او احكام يې)

په بيعه كې د خلكو د ضرورت له مخې ځينې خيارونه روا ګرځول شوي دي، چې له دې جملې څخه مهم پكې خيار شرط، خيار رويت، او خيار عيب دي، غواړو چې په دې لوست كې خيار شرط وپيژنو.

د خيار شرط تعريف:
په لغت كې: خيار اسم مصدردى چې (خوښولو، ټاكلو او واك لرلو) ته وايي.
په اصطلاح كې: خيارشرط هغه واك او اختيار دى چې يو جانب او يا دواړه لوري يې د يوې معلومې مودې لپاره د بيعې د منلو او يا نه منلو په هكله د ځان لپاره ساتي.
البته خيار شرط هغه وخت ثابتيږي چې دعقد په وخت كې يې ذكر وشي او جانبين پرې اتفاق وكړي.

د رواوالى حكمت يې:
خيار د خلكو د ضرورت او اړتيا له مخې رواشوى دى، څو خلكو ته د فكر او مشورې وخت په لاس ورشي او د ضرر مخه ونيول شي. [۳۲]

د خيار شرط حكم:
په شريعت كې خيار شرط ايښودل جائز دي، او تر هغه د اختيار د خاوند مال د هغه له ملكيت څخه نه خارجيږي اود مقابل لورى په ملك كې نه داخليږي تر څو خيار شرط شتون ولري. [۳۳]

فعاليت
زده كوونكي دې د خيار دګټو او د مشروعيت په حكمت بحث وكړي.

۳۲- الفقه الإسلامي وأدلته - (ج ٤ / ص ٦٠٣)- العناية شرح الهداية - (٨ / ٤٤٦)
۳۳- درر الحكام في شرح مجلة الاحكام - (ج ١ / ص ٢٠٨)- الفقه الحنفي و ادلته ٢- ٣٠- العناية - (٨ /

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیارشرط موده:

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نظر بایع او مشتري کولای شي د دریو ورځو، او یا له دریو ورځو څخه کم خیار شرط کیږدي ، خوله دری ورځوڅخه زیات وخت جواز نه لري، او امام ابویوسف، او امام محمد رحمهما الله وایي: که چیرته یی یوه معلومه موده شرط کړي وي ولو که هغه له دریو ورځو څخه زیاته هم وي جوازلري.

د خیار شرط ساقط کیدل او له منځه تلل:

په لاندې امورو سره خیار شرط ساقطیږي:

۱.کله چې د خیارشرط خاوند خپل اختیار له منځه یوسي، لکه چې ووایی: ما خپل اختیار باطل کړ، بیعه می قبوله ده او وروباندې راضی یم.

۲ .د خیار د خاوند لخوا داسې کړه تر سره کول چې د خیار په له مینځه وړلو او د بیعې په قبلولو دلالت وکړي ، لکه په کورکې اوسیدل، یا د بل میشته کول، یا د هغه خرڅول.

۳.د ضرورت له مخې د اختیار له منځه تلل، لکه د اختیار د خاوند مړینه.[۳۴]

٤.د خیار د مودې پای ته رسیدل.

په خیار شرط باندې د بیعې د فسخه کولو شرطونه:

۱.د عقد فسخه کول به د خیارشرط په موده کې وي، ځکه که په دې موده کې د خیار خاوند عقد فسخه نه کړي پهدې صورت کې عقد لازمیږي.

۲ .دوهم طرف به د عقد په فسخه کولو باندې خبر وي.[۳۵]

ارزونه

۱. له خیار شرط څخه مطلب څه دی؟

۲ . د خیار شرط کله ساقطیږي؟

۳. د خیار شرط موده څومره ده؟

٤. په خیار شرط باندې د بیعې د فسخه کولو شرطونه کوم دي؟

کورنی دنده

د خیار شرط په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کربنو څخه کمه نه وي.

۳٤- الفقه الإسلامي وآدلته - (٤/٦١٢) بحواله البدائع: ٥/٢٦٧-٢٧٢ ، المبسوط: ٤٢/١٣-٤٤، فتح القدير: ١١٧- ١٢٥، الدر المختار: ٤/٥٢، ٥٧.

۳٥- الفقه الإسلامي وآدلته - (٤ / ٦١١) بحواله البدائع: ٥/٢٧٣، تبيين الحقائق: ٤/١٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيار رؤيت

په تير لوست کې مو خيارشرط وپيژاند، په دې لوست کې غواړو خيار رويت وپيژنو.

خيار رؤيت:

رؤيت په لغت کې: ليدلو ته وايي.

او په اصطلاح کې: د مال د ليدلو په وخت کې مشتري ته د بيعې د منلو او نه منلو واک ته خيار رؤيت وايې.

البته خيار رؤيت هغه وخت ثابتيږي چې مشتري داخيستلو په وخت کې مال نه وي ليدلې.

د خيار رؤيت د ثبوت وخت:

مشتري چې مال ووينې په همدې وخت کې ورته اختيار ثابتيږي، له هغه څخه مخکې ورته اختيار نه شته، حتى که مشتري مخکې له ليدلو بيعه قبوله کړي بياهم بيعه نه لازميږي، او خيارهم نه ساقطيږي.

د خيار رؤيت حکم:

مشتري د مال د ليدلو په وخت کې اختيار لري چې بيعه فسخه کړي او يا يې قبوله کړي.[٣٦]

د خيار رؤيت احکام:

١. که د خيار رؤيت خاوند هغه شى خرڅ کړي چې ليدلى يې نه دى، نو خپل اختيار له لاسه ورکوي.

٢. څوک چې د خيار رؤيت خاوند وي او مړ شي، خيار يې باطل ګرځي، او ورثو ته يې نه انتقاليږي.[٣٧]

٣. خيار رؤيت معين وخت نه لري، تر هغه پورې په خپل حال پاتې کيږي تر څو چې يې باطلوونکى او د منځه وړونکى سبب پيدا نه شي.

٣٦ - تحفة الفقهاء - (ج ٢ / ص ٨٢)

٣٧ - الكتاب - فقه حنفي - (ج ١ / ص ١٨٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤.د وکيل ليدل کټ مټ د مشتري د ليدلو په څېر وي، نوکوم شی چې ووينې هغه بيرته نشي ګرځولای مګردا چې کوم عيب ولري.

٥.که چاکوم شی پخوا ليدلی وي او بيا يې له څه مودې څخه وروسته واخلي، نوکه هغه شی پخپل حال پاتې و، نو په دې صورت کې خيار ورته نشته، اوکه په هغه شي کې کوم منفي بدلون راغلی و په دې صورت کې، د اخيستلو يا نه اخيستلو اختيار لري.[٣٨]

فعاليت

د خيار رؤيت ګټې په انفرادي او يا ګروپي توګه بيان کړئ .

ارزونه

١.خيار رؤيت څه ته ويل کيږي ؟

٢ .خيار رؤيت کله ثابتيږي؟

٣.د خيار رؤيت حکم څه دی ؟

د لاندې صحيحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کيږدئ:

١.د خيار رؤيت خاوند چې مړ شي خيار يې باطليږي. ( )

٢ .خيار رؤيت موقت ندی، او تر هغه پورې په خپل حال پاتی کيږي چې باطلوونکی يی نه وي پيداشوی. ( )

٣.د وکيل ليدل د مشتري د ليدلو په څېر نه دي. ( )

کورنی دنده

د دې درس عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ .

٣٨ - العناية شرح الهداية - (ج ٩ / ص ٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیارعیب

له خیار شرط، اوخیار رؤیت د پېژندلو څخه وروسته غواړو په دې لوست کې خیارعیب وپیژنو.

دخیارعیب تعریف:

دمشتري (اخیستونکي) هغه خیار ته ویل کېږي چې له املې یې عیبجن مال (مبیع) بېرته بایع (دمال څښتن) ته ردکولای شي.[۳۹]

د مشروعیت حکمت یې:

بایع او مشتري یو پر بل دا حق لري، چې یو بل ته سالم او له عیب څخه پاک مال ورکړي، او که یو بل ته عیب جن شی ورکړي نو شریعت ورته ددې اختیار ورکوي چې مال یې بیرته ور رد کړي، ترڅو د ده څخه ضرر دفع شي او داسې څه وربانديې لازم نه شي چې هغه ته پکې تاوان وي.[۴۰]

د عیب پټول:

په حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایي: (مسلمان د مسلمان ورور دی، اومسلمان ته دا روانه ده چې پخپل ورور با ندې عیبجن شی وپلوري، مگر دا چې دهغه عیب ور په گوته کړي).

او فرمایي: (که بایع او مشتري په بیعه کې صداقت وکړي او حقیقت بیان کړي؛ پدې بیعه کې به یې برکت واچول شي، او که دروغ ووایي او عیب یې پټ کړي نو د بیعې برکت به یې له منځه ولاړشي).[۴۱]

د خیار عیب حکم:

د متعاقدینو هر یو ارخ چې په مبیعه یا ثمنو کې په عیب خبر شي کولای شي چې هغه شی بیرته رد کړي.

د خیار عیب د ثبوت شرطونه:

۱. عیب باید مخکې له عقد څخه موجود وي. که چېرې عیب له تسلیمولو اوسپارلو څخه وروسته، له مشتري سره پیداشي، په دې صورت کې د خیارعیب واک نه لري.

۲. دهغه عیب په هکله مشتري اویا بایع ته د خیار عیب واک ورکول کیږي چې د عقد اوقبض په وخت کې په هغه عیب خبر نه وي، اوکه چیرې د عقد او یا قبض په وخت کې وربانديې خبروي نو بیا ورته خیار نه شته. ځکه په هغه وخت کې دی دلالتاً وربانديې راضي و.

۳. مشتري باید د عقد پروخت کې له عیبونو څخه ابرا نه وي کړي، خوکه چیرې یې دعیب سره مبیعه قبوله کړي وه بیا مشتري ته خیار نه شته، ځکه چې په دې حالت کې دی پخپله خپل حق له منځه وړی دی.[۴۲]

۳۹ - البحر الرائق شرح كنز الدقائق - (ج ۱۵ / ص ۳۹۸)

۴۰ - العناية شرح الهداية.

۴۱ - تبيين الحقائق - (ج ۱۰ / ص ۳۶۵)- رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ- والحاكم والطبراني وآحمد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیارعیب احکام:

۱.که چیرې مشتري په بیعه کې له عیب څخه خبر شي نودی اختیارلري:
که غواړي مبیعه واخلي نو په ټولو ثمنو (یاد شوي قیمت) به یې اخلي، د عیب په صورت کې مبیعه ردکولای هم شي، خو دا حق نلري چې مبیعه وساتي او د عیب په مقابل کې د بایع څخه تاوان وغواړي، مګر دا چې مقابل لوری یې ورسره ومني.[۴۳]

۲.که چیرته مبیعه د مشتري په لاس کې عیبجنه شي، او بیا وروسته په هغه عیب هم خبر شي چې له بایع سره د موجودیت په وخت کې وو، نو مشتري دا حق لري چې له بایع څخه د عیب د نقصان غوښتنه وکړي، اومال دې بېرته نه ورکوي، مګر دا چې بایع له عیب سره په بیرته ردولو راضی وي.

فعالیت

شاکر له ذبیح الله څخه یو موټر واخیست او د دې موټر ماشین په هره اونۍ کې یو لیتر موبلایل کموي، نو شاکر دعوه کوي چې دا عیب دی او ذبیح الله منکر دی نو د دې مسئلې حل څه دی؟

ارزونه

آ- لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱.خیارعیب تعریف کړئ.
۲.د مشروعیت حکمت یې څه دی؟
۳.څه شی عیب بلل کیږي؟
٤.د خیارعیب د ثبوت شرطونه کوم دي؟

ب- د صحیح جملو په وړاندې دا (√) نښه او د غلطو جملو په وړاندې دا (X) کېږدئ:

۱.کله چې مشتري په اخیستل شوي مال کې عیب پیدا کړي، اختیار لري، که خوښه یې وه د ټولو پیسو په مقابل کې یې دې قبول کړي او که خوښه یې نه وه بېرته دې یې رد کړي، خو د ساتلو سره د نقصان د غوښتلو حق نه لري. ( ).

۲.که مال د مشتري په لاس کې عیبجن شي او بیا وروسته خبر شي چې په هغه کې د بایع په وړاندې بل عیب هم موجود و، مشتري کولای شي چې مال بېرته رد کړي. ( )

کورنۍ دنده

د خیار عیب په هکله یوه مقاله ولیکئ.

---

٤۲ - الفقه الإسلامي وأدلته - (ج ٤ / ص ٦١٥)
٤۳ - العناية شرح الهداية - (ج ۹ / ص ۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

منعه شوې بيعې
(باطله بيعه)

وروسته له دې چې صحيحي او روا بيعې مو وپيژندلې، غواړو منعه شوې او ناروا بيعې هم وپيژنو، **ناروابيعې په درې ډوله دي**: باطله بيعه، فاسده بيعه او مکروه بيعه.

د باطلې بيعې تعريف:

په لغت کې باطل: د حق ضد ته وايي.[٤٤]

په اصطلاح کې باطله بيعه: هغه بيعه ده چې له سره صحت نه لري، هغه داسې چې د انعقاد په کوم شرط کې يې خلل وي، لکه د ليوني او يا د واړه ماشوم بيعه، او يا دا چې مبيعه مال نه وي، لکه دخنزير د غوښې پلورل .[٤٥]

حکم يې:

په دې بيعه باندې ملکيت نه ثابتيږي. که مشتري (اخيستونکی) مبيعه يې قبض کړي وي او يا يې نه وي قبض کړي.[٤٦]

د باطلې بيعې د احکامو توضيح:

•هرهغه شی چې د بيعې په رکن کې خلل رامنځ ته کړي هغه باطلوونکی دی لکه په اوسنۍ زمانه کې د انسان خرڅول.[٤٧]

•د هغه شي خرڅول چې مال نه وي او مبيعه يې وګرځوي، دا بيعه باطله ده، ځکه چې دلته د بيعې رکن نشته چې هغه په مال باندې د مال بدلول دي.

•په پيسوباندې د غيرمتقوم مال لکه د خنزير او شرابو اخيستل باطله بيعه ده، ځکه مقصد په بيعه کې د مبيعې ذات دی چې په هغې باندې نفعه اخيستل کيږي.[٤٨]

•د لا مالکه شي پلورل باطله بيعه ده، لکه د بحر په اوبوکې د ماهي پلورل، اويا لکه په هوا کې د مرغه پلورل.[٤٩]

٤٤ - البحر الرائق (ج١٦/ ص٣٠) تبيين الحقائق (١٠/ ص٤٢٣). مختار الصحاح - (١ / ٧٣)

٤٥- درر الحكام في شرح مجلة الاحكام - (ج ١ / ص ٢٠١) - تبيين الحقائق (١١/ ص٥٦).

٤٦- مجلة الاحكام ٧٣. رد المحتار - (ج ١٩ / ص ٢٤١)

٤٧ - درر الحكام - (ج ٦ / ص ٢٤٩)- العناية شرح الهداية - (ج ٩ / ص ٩٠). البحر الرائق ٢١\١٦)

٤٨-هداية : ٣\٥٣- مجمع الانهر - (ج ٥ / ص ٢٤٣). رد المحتار - (ج ١٩ / ص ٢٢٧)

٤٩- مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر - (ج ٥ / ص ٢٤١)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

آ- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. باطله بیعه تعریف کړئ.

۲. د باطلې بیعې حکم څه دی؟

۳. د باطلې بیعې درې حکمونه بیان کړئ؟

کورنۍ دنده

د باطلې بیعې په هکله یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره بلنه

د ښکاره بلنې پیل:

کله چې د مسلمانانو شمېر دې اندازې ته ورسېده چې د مشرکانو د مقابلې توان يې پيدا کړ او له بلې خوا د مکې مشرکانو د اسلام د مقدس دين او مسلمانانو په هکله ډول ډول خبرې اورېدلې او ځينې مسلمانان د خپل دين په خاطر زورېدل؛ نو له دې امله د بعثت په څلورم کال اسلام ته بلنه په خرګنده او ښکاره بڼه پيل شوه او لاندې آيت نازل شو.

((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ)) الشعراء ٢١٤

ژباړه: او خپل نږدې خپلوان (د الله ﷻ له عذابه څخه) ووېروه.

د خپلوانو بلنه:

کله چې پورتنی آيت نازل شو، نو پېغمبر ﷺ خپل قوم (بني هاشم) راوبلل او وروسته له حمد او ثنا څخه يې هغوی ته وفرمايل:

((د يو قوم لارښوونکی هېڅکله هم خپل قوم ته دروغ نه وايي، قسم په الله ﷻ چې زه تاسو او نورو خلکو ته رالېږل شوی يم، قسم په الله ﷻ چې تاسې به داسې مړه شئ، لکه څنګه چې مو خوب وړې او داسې به راڅوندي شئ، لکه څنګه د خوب څخه راپورته کېږئ. بيا به د خپلو کړو پوښته درڅخه کېږي، يا به تل پاتې جنتته ځئ او يا به دوزخ ته)).

په دې مهال ابوطالب وويل: مورږ په ډېره مېړانه ستا ملاتړ کوو، ستا لارښوونې او نصيحتونه منو ستا د خبرو تصديق کوو، دلته د قوم ټول مشران راټول شوي دي چې زه هم يو له هغو څخه يم او تر ټولو زياتې مې ستا خبرې خوښېږي، نو په کومه لاره چې مامور شوی يې پر هغې ولاړ شه، قسم پر خدای ﷻ ترڅو چې زه ژوندی يم له تا څخه به ساتنه او دفاع کوم، خو هېڅکله هم له خپل پلرني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دین څخه زړه نه شم صبرولی.

ابولهب وویل: قسم په خدای ﷻ چې دا د شرم کار دی، مخکې له دې چې نور یې مخه ونیسي، تاسو د هغه مخنیوی وکړئ.

ابو طالب وویل: قسم په خدای ﷻ ترڅو چې ژوندی یم له هغه څخه به دفاع کوم.

د صفا غونډې پرسر:

کله چې رسول الله ﷺ د ابو طالب له ملاتړ څخه ډاډه شو، نو بله ورځ د صفا غونډې پرسر وخوت او په لوړ أواز یې ناري کړې: ای خلکو! پاڅېږئ راوښیې شئ او ځان د دښمن څخه وژغورئ! لکه څرنګه چې قریش د داسې غږ په اورېدو سره راټولېدل، دلته هم ټول یو ځای راغونډ شول.

رسول الله ﷺ دوی ته وفرمایل: که چېرې زه تاسو ته ووایم چې د مکې د غرونو تر شا یو لوی لښکر راغونډ شوی دی او غواړي چې پر تاسو یرغل وکړي، نو تاسې به زما خبره ومنئ؟

هغوی وویل: هو! موږ تر اوسه له تا څخه پرته له ریښتیا بل څه ندي اورېدلي، رسول الله ﷺ وفرمایل: همدارنګه زه تاسې له یو یقیني راتلونکي عذابه ویروم. خپل ځان د دوزخ له اوره وژغورئ.

بیا یې وفرمایل: ای بني کعبو! ای بني مره ؤ! ای بني عبدالمطلبو! تر دې چې د خپلې لور فاطمې نوم یې هم واخیست او هغوی ته یې وویل: په ایمان راوړلو سره ځان د دوزخ له اوره وژغورئ، زه ستاسو لپاره هېڅ کولای نه شم، مګر دا چې په دنیا کې تاسو سره خپلوي ولرم او ښېګڼه درسره وکړم، خو په أخرت کې زه ستاسو هېڅ مرسته نه شم کولی.

د ابولهب غبرګون:

پر دغه مهال ابو لهب رسول الله ﷺ ته وویل: برباد او تباه شې، آیا تا موږ د دې لپاره راټول کړي یو؟ نو بیا دا آیت ((تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۱ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ ۲)) چې د ابو لهب پر دایمي هلاکت او تباهۍ څرګنده دلیل و نازل شو.

فعالیت

له خپلوانو څخه د بلنې د پیل حکمت څه و؟ څرګند یې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي دعوت سره د قريشو دښمني:

قريشو له دې وېرې چې پلرنی دود، دستور او معتقدات يې له منځه ولاړ نشي او د بت پرستی د دين مشري او ګټې يې له لاسه ونه وځي، لدې امله يې په مخالفت او ډېر سخت غبرګون لاس پورې کړ.

د دې لوست ګټې:

۱ـ د اسلامي دعوت اصلاحي کړنلارې بايد د وخت د شرايطو او حالاتو سره سمون ولري.

۲ـ د هرې اصلاحي کړنلارې د پلي کولو لپاره د مرستندويو او پلويانو شتون اړين دی.

۳ـ د اصلاحي کړنلارو د پلي کولو په وړاندې د ځينو مغرضينو مخالفت بايد د مايوسی او پښېمانی

ارزونه

الف: لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ـ رسول الله ﷺ د انذار آيت له نازلېدو وروسته تر هرڅه دمخه څه وکړل؟

۲ـ د صفا غونډې پرسر قريشو ته د رسول الله ﷺ د ويناوو مفهوم په لنډ ډول بيان کړئ.

۳ـ اسلامي دعوت سره د قريشو د مشرانو د دښمنی لامل څه و؟ څرګند يې کړئ.

ب: د صحيح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه کېږدئ.

۱ـ وروسته د ((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ)) آيت له نازلېدو څخه پېغمبر ﷺ خپلوان راټول کړل او هغوی يې په ټولنيزه ټوګه اسلام ته راوبلل. ( )

۲ـ پېغمبر ﷺ د صفا غونډې پرسر د قريشو مختلف قبايل اسلام ته راوبلل. ( )

۳ـ د هجرت په څلورم کال اسلام ته بلنه په بنکاره ډول پيل شوه. ( )

کورنی دنده

د لوست مطالب په لنډ ډول ديوې مقالې په ترڅ کې وليکئ او مناسب عنوان ورته وټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوويشتم لوست

د حق دعوت له اوږدو څخه د مکې مکرمې د زايرينو منع کول

د دعوت له ښکاره کېدو څخه څه زياته موده نه وه تېره شوی چې قريش د يوې بلې غميزې سره مخامخ کېدونکي وو او هغه مکې مکرمې ته د زايرينو د راتګ مراسم وو، هغوی پوهېدل چې دغه زايرين د جزيرة العرب له مختلفو سيمو څخه مکې مکرمې ته راځي او رسول الله ﷺ به ارومرو د هغوی سره کتنه کوي. د هغوی غوږونو ته به د اسلامي دعوت خبرې رسېږي، نو مخکې له دې چې هغوی د محمد ﷺ له خبرو متاثره شي، لازمه ده چې داسې احتياطي تدابير ونيول شي، ترڅو د دې کار مخنيوی پرې وشي.

د وليد بن مغيره سره مشوره:

د دې خبرې لپاره ټول وليد بن مغيره ته د مشورې لپاره ورغلل. وليد وويل: د محمد ﷺ په هکله بايد په يوه خبره راغونډ شو او بېلې بېلې خبرې ونکړو، ټولو وويل:

ته ښه وايې:

وليد وويل: تاسې خپل نظر وړاندې کړئ، زه به يې واورم.

هغوی وويل: مورږ وايو چې محمد ﷺ کوډګر دی.

وليد وويل: قسم په الله ﷻ چې هغه کوډګر نه دی، مورږ کوډګران ليدلي دي، دی هغو ته ورته والی نه لري.

قريشو وويل: مورږ به ووايو چې لېونی دی.

وليد وويل: هغه لېونی نه دی، مورږ لېوانيان ليدلي دي، لېونتوب پېژنو، نه بې خوده دی او نه بې واکه، او نه بې ځايه خبرې کوي.

هغوی وويل: و به وايو چې شاعر دی.

وليد وويل: شاعر هم نه دی، مورږ شعر او د شعر ټول ډولونه پېژنو، د ده خبرې هېڅکله هم شعر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته نه دي.
هغوی وويل: مورِ په دا وويو چې ساحر دی.
وليد وويل: نه، هغه ساحر هم نه دی، مورِ ساحران ليدلي دي، د هغه کړنې او حرکات د ساحرانو په څېر نه دي.

د قريشو اتفاق پر دې چې محمدﷺ ته ساحر ووايي:

قريشو وويل: نو څه ووايو؟
وليد وويل: قسم په الله ﷻ چې د ده خبرې ډېرې خوږې، ريښتيني، ژورې او څانګې يې مېوه لرونکي دي، تاسې چې د ده په هکله څه وايئ له ډاګه بريښي چې خبره مو غلطه ده.
يوازې يوه خبره د ده په هکله ويلی شو او هغه دا چې ووايو: هغه ساحر دی.
داسې يو سحر يې له ځان سره راوړی دی چې پلار له زويه، ورور له وروره، مېړه له ښځې او سړی له ځپلوانو څخه جلا کوي او يو د بل دښمن ګرځوي، د ټولو دا خبره خوښه شوه او سره خپاره شول.

وليد بن مغيره د وحي په هنداره کې:

د وليد بن مغيره په هکله د مدثّر سورت څو آيتونه نازل شول چې د ده کړنې په کې ذکر شوې دي.
الله تعالٰی فرمايي: ((إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ١٨ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ١٩ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ٢٠ ثُمَّ نَظَرَ ٢١ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ٢٢ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ٢٣ فَقَالَ إِنْ هَذَا إِلاَّ سِحْرٌ يُؤْثَرُ ٢٤))
ژباړه: هغه فکر وکړ اندازه يې ولګوله (چې څه طعنه ورکړي) په دې اندازه لګولو دې دی تباه شي، بيا ښه ځير شو، بيا يې تندی تريو او خوله يې کړه کړه، بيا يې شا کړه او لويي يې وکړه او ويې ويل: دا قرآن هغه اغېزمن جادو او سحر دی چې له خورا پخوا زمانو څخه پاتې دی.[1]

د قريشو د دسيسې پلي کول:

د دې لپاره چې قريش خپله دسيسه او توطئه په سمه توګه پلي کړي، نو زيات شمېر خلک يې وټاکل، ترڅو د کعبې شريفې زايرين پر محمدﷺ باندې بدګومانه کړي چې د دې کار د پرمخ بيولو زيات مسؤوليت د ابولهب پر غاړه و.

د ابولهب دريځ:

کله به چې رسول اللهﷺ د دعوت لپاره د زايرينو خيمو، تم ځايونو او د سيمې بازارونو ته ورتلو، ابولهب به د ده ترشا خلکو ته ويل: د محمدﷺ خبرې ونه منئ، هغه خپل پلرنی دين پريښی دی او دروغ وايي.

١- دا فقره په آزموينه کې شامله نه ده، يواځې د زده کوونکو د علمي زېرمې لپاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جزيرة العرب کې د بعثت د خبر خپرېدل:

د قريشو ظالمانه هڅو هغوی ته هېڅ ګټه ونه رسوله الله ﷺ د دعوت کار تر هغه ځايه ورساوه چې قريشو يې تصور هم نه کاوه، هغه دا چې ټول زايرين د رسول الله ﷺ د دعوت او بلنې څخه خبر شول او د هغوی په ستنېدو سره د بعثت خبر په جزيرة العرب کې خپور شو.

د لوست ګټې:

۱. د حق دعوت منکران پدې هڅه کې و، ترڅو نورو ته د حق اواز د رسېدو مخنيوی وکړي.

۲. د خپل توان په اندازه د حق دعوت د رسولو لپاره هڅه او هاند او په دې لاره کې د هر ډول ممکن فرصت څخه استفاده کول.

۳. د منکرينو د دسايسو سره سره، د حق دعوت بيا هم پر مخ ځي او خپله لاره پرانيزي.

ارزونه

الف: لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ـ د مکې مکرمې زايرينو ته د حق دعوت د رسېدو د مخنيوي لپاره قريشو څه تدابير ونيول؟

۲ـ د دې لوست ګټې څرګندې کړئ.

۳ـ وليد بن مغيره قريشو ته څه مشوره ورکړه؟

ب: لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ـ قريش د مشورې لپاره ( ) ته ورغلل.

۲ـ د قريشو غوټه شوې خبره دا وه چې ووايي ( ) دی.

ج: د صحيح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه کېږدئ.

۱ـ قريش د مشورې لپاره ابوجهل ته ورغلل. ( )

۲ـ د رسول الله ﷺ د بعثت خبر د مکې مکرمې د زايرينو په مرسته جزيرة العرب کې خپور شو. ( )

کورنۍ دنده

د دې لوست د مطالبو په هکله په خپل تعبير او خپلې ژبه يوه لنډه مقاله وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

د مخالفینو لخوا د دعوت د خپړیدو مخنیوی

د دعوت د مخنیوي لپاره د قریشو نورې دسیسې:

کله چې قریش په دې خبره پوه شول چې محمدﷺ له خپل دعوت څخه نشو ګرځولی، نو یوځل بیا اندېښمن شول او د اسلامي دعوت د مخنیوي لپاره یې لاندینۍ دسیسې وکارولې.

۱ـ ملنډې، ټوکې کول، سپک او دروغجن ګڼل: مشرکینو په دې توګه د مسلمانانو د سپکاوي او د دوی د معنویاتو د ضعیفولو هڅه کوله او پېغمبرﷺ ته به یې سپکې سپورې ویلې کله به یې لېونی او کله به یې دروغجن او جادوګر باله.

۲ـ د رسول اللهﷺ د لارښوونو په هکله بدګماني او شکونه پیدا کول (ایجابول) او د خلکو په وړاندې یې بې اغېزه ښکاره کول.

۳ـ قرآن کریم به یې زړو کیسو ته ورته او مشابه ګانه.

د مشرکینو یوه بله هڅه:

مشرکانو د دعوت د مخنیوي لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې چې د دغو هلو ځلو څخه یو هم رسول اللهﷺ ته د قریشو د استازي عتبه بن ربیعه وړاندیز و، عتبه رسول اللهﷺ ته د ډېر مال، د قریشو د مشرۍ او د هر ډول دنیوي غوښتنو د بشپړولو وړاندیز وکړ، خو رسول اللهﷺ د هغه په ځواب کې وویل: زه د دې لپاره نه یم رالېږل شوی چې ستاسو مالونه واخلم او یا پرتاسو مشري وکړم، بلکې زه الله تعالی ستاسو لپاره رسول رالېږلی یم، پر ما د الله ﷻ کتاب نازل شوی دی او ماته امر شوی دی چې تاسو ته د جنت زېری درکوونکی او له دوزخ نه وېرونکی اوسم.

د دې لوست ګټې:

۱. کله چې یو بلونکی (داعي) سپېڅلی وي، هېڅ ډول تورونه او افتراګانې نشي کولی د هغه د دعوت مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ .که چېرې مسلمانان د دعوت په لاره کې د ستونزو سره مخ شي، نو لازمه ده چې ثبات او استقامت ولري او په صبر او حکمت سره د ټولنې د اصلاح لپاره هڅه وکړي.

۳ .د ټولنې اصلاح د اسلام د مبین دین د لارښوونو په پلي کولو سره د دنیا د هر مال او متاع څخه لوړ او غوره کار دی او دا نه ښایي چې د دنیوي امتیازاتو لپاره له هغې تنازل وشي.

ارزونه

۱ـ قریشو د رسول الله ﷺ په وړاندې له نورو کومو دسایسو کار واخیست؟

۲ـ عتبه بن ربیعه رسول الله ﷺ ته د څه وړاندیز وکړ؟

۳ـ رسول الله ﷺ د عتبه بن ربیعه وړاندیز ته څرنګه ځواب ورکړ؟

٤ـ د دې لوست ګټې په لنډ ډول بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب په لنډه توګه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري ويشتم لوست

ابوطالب ته د قريشو د پلاوي لېږل

قريشو په ډېر جديت سره د دعوت د مخنيوي لپاره هڅه کوله، خو په دې نه پوهېدل چې د داسې ستر شخصيت په وړاندې کوم چې ابوطالب ته ډېر ګران او عزتمن و څه تدابير ونيسي.
وروسته له ډېر فکر او مشورې دی پايلې ته ورسېدل، چې ابوطالب ته ورشي او د هغه په مرسته د حضرت محمدﷺ د دعوت مخه ونيسي.

ابوطالب ته د قريشو پلاوی:

څرنګه چې ابوطالب د قوم سپين ږيری و، له دې امله يې په قوم کې ډېر عزت او لوړ مقام درلود او خبرې يې منل کېدلې، له بلې خوا هغه د رسول اللهﷺ ملاتړ، حمايت او پلوي کوله، نو د دې لپاره چې قريش په داخلي اختلافاتو کې ښکېل نشي ابو طالب ته ورغلل، ترڅو د دعوت د مخنيوي لپاره د هغه قناعت او رضا حاصله کړي او د قريشو او محمدﷺ ترمنځ داسې يو تړون لاسليک کړي چې د هغه پر بنسټ محمدﷺ د خلکو له دعوت څخه لاس واخلي او په مقابل کې يې چې هر امتياز غواړي هغه ته به ورکړل شي.
ابوطالب خپل وراره محمدﷺ راوغوښت او هغه ته يې وويل: ګرانه وراره!
دوی ستا د قوم مشران دي او د دې لپاره راغلي، ترڅو تاسو ته ژمنه درکړي او له تاسو ژمنه واخلي.

ابوطالب ته د رسول اللهﷺ وړاندیز:

کله چې رسول اللهﷺ د خپل تره څخه د مشرکينو غوښتنې واورېدلې، نو هغه ته يې وويل: زه دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یواځې یوې کلمې ته رابولم، که دوی ومنله نو خدای تعالٰی به دوی ته په دواړو جهانونو کې عزت او سرلوړي ور په برخه کړي.

ابو جهل په دې خبره خوشحاله شو چې د یوې کلمې په ویلو به ټولو امتیازاتو خاوند شي.

ابوطالب وویل: هغه کلمه څه ده؟ پیغمبرﷺ وفرمایل: تاسو د (لا اله الا الله) کلمه ووایئ. د دې خبرې په اورېدو سره د قریشو مشران مایوسه او ناامیده شول او ویې ویل:

په الله ﷻ سوګند چې دی به هیڅکله هم ستاسو غوښتنې ونه مني.

په بل روایت کې راغلي دي کله چې رسول اللهﷺ د ابوطالب خبرې واورېدلې، نو په دې فکر شو چې شاید تره یې د ده له ملاتړ څخه لاس اخیستلی دی، نو خپل تره ته یې داسې وویل: ګرانه کاکا! قسم په خدای ﷻ دی که چېرې دوی لمر په ښي لاس او سپوږمۍ په کین لاس کې راته کېږدي (یعنې د ځمکې او د هغې د چاپېریا ل واک او اختیار راکړي) او له ما نه وغواړي چې د توحید دعوت پرېږدم، نو زه به هیڅکله رادعوت پرې نږدم او تر هغه به دوام ورکړم چې یا زه بریمن او یا په دې لار کې شهید شم.

ابو طالب د دې خبرې په اورېدو سره هغه ته د مرستې او ملاتړ ډاډ ورکړ او ورته یې وویل: قسم په خدای ﷻ هیڅکله به دې هیڅا ته ونه سپارم.

د لوست ټکې:

۱. د اسلام د مقدس دین متابعت او هغه ته بلنه، د دنیا له ټولو امتیازاتو څخه غوره ده، مسلمان لره دا نه ښایي چې د دنیوي امتیازاتو لپاره ورڅخه تنازل وکړي.

۲. ابوطالب د قریشو له خواټول تکالیف وزغمل، خو د رسول اللهﷺ له ملاتړ څخه لاس په سر نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: ابوطالب ته د قريشو د پلاوي د لېږلو کيسه په لنډ ډول بيان کړئ.

ب: لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ـ قريش دې پايلې ته ورسېدل چې ( ) ته ورشي.

۲ـ که چېرې دوی ( ) په ښي لاس او ( ) په کين لاس راته کېږدي.

ج: د صحيح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه کېږدئ.

۱ـ د قريشو يوه ډله ابوجهل ته ورغله. ( )

۲ـ ابوطالب محمدﷺ ته وويل: قسم په خدایﷻ هېڅکله به دې هيڅا ته ونه سپارم. ( )

د دې درس مطالب د يوې لنډې مقالې په ترڅ کې په خپلې ژبې او تعبير وليکئ او يو مناسب عنوان ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حبشې په لور هجرت

وروسته له دې چې حضرت محمدﷺ د بعثت په څلورم کال په ښکاره ډول بلنه پیل کړه، د قریشو ظلم او تېری هم پر مسلمانانو پیل شو.
د قریشو دغه ظلم او تېری د پنځم کال تر نیمایي خپلې لوړې پورې ته ورسېد او مکه مکرمه پر مسلمانانو تنګه شوه او د دې ستونزو څخه دخلاصون په لټه کې شول.
حضرت محمدﷺ ته دا معلومه وه چې د حبشې پاچا (نجاشي) یو ډېر عادل سړی دی، نو مسلمانانو ته یې د دین د ژغورلو په هیله د حبشې په لور د هجرت امر وکړ.

د حبشې په لور د مسلمانانو لومړنی هجرت:

د نبوت په پنځم کال د رجب په میاشت کې د مسلمانانو لومړنۍ ډله چې له دولسو سړیو او څلورو ښځو څخه جوړه شوې وه د حضرت عثمان بن عفانؓ په مشرۍ د رسول اللهﷺ د لور بي بي رقیه رضی الله عنها په ګډون حبشې ته روانه شوه.

د دې لپاره چې قریش یې مخه ونه نیسي دا کاروان د شپې له لورې د شعیبه د بندرګاه په لور روان شو، هلته دوې سوداګریزې کښتۍ ولاړې وې چې دوی یې سپاره کړل او د حبشې په لور روانې شوې.
قریش ډېر ژر د مسلمانانو د دې کار څخه خبر شول او د دوی د راګرځولو لپاره یې بندرګاه ته خپل کسان ولېږل، خو د مسلمانانو ډله د دوی له رسېدو دمخه له هغه ځایه وتلې وه چې په دې توګه د مسلمانانو دغه ډله د مشرکانو له ظلم او تېري څخه په امان شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغې ډلې کې د حضرت محمدﷺ د نیږدې خپلوانو څخه څوک و؟ نومونه یې واخلئ.

د قریشو د مشرانو د مسلمانېدلو خبر:

د حبشې مهاجرینو ته دا خبر ورسېد چې د مسلمانانو او قریشو تر منځ تاوتریخوالی کم شوی دی او هغه داسې چې د قریشو مشرانو په حرم کې د نجم سورت د څو آیتونو له اورېدو وروسته د مسلمانانو سره یو ځای سجده وکړه او داسې حالات رامنځ ته شوي چې د قریشو مشرکان مسلمانان نه ازاروي، نو له دې امله هغوی د بېرته راتګ نیت وکړ او د مکې په لور راروان شول، کله چې مکې مکرمې ته د یوې ورځې مزل په واټن نژدې شول، نو پوه شول چې خبره هسې نه ده او د قریشو ظلمونه د پخوا په څېر دوام لري، نو زیات شمېر مهاجرین بېرته حبشې ته ولاړل او یواځې څو تنه یې په پټه مکې مکرمې ته ننوتل.

د حبشې په لور د مسلمانانو دویم هجرت:

د حبشې د مهاجرینو د بېرته راتګ وروسته د قریشو ظلم او تېری نور هم زیات شو، نو له دې امله رسول اللهﷺ نورو مسلمانانو ته هم اجازه ورکړه، ترڅو په پټه د دویم ځل لپاره حبشې ته هجرت وکړي.

د مسلمانانو شمېر دا ځلې (۱۰۲) تنه و چې (۸۳) تنه یې سړي او (۱۹) تنه یې ښځې وې، د دې ډلې مشري جعفر بن ابي طالبؓ کوله.

د لوست ټکې:

۱. هجرت کول د پېغمبرﷺ د سنتو څخه دی چې د مسلمانانو لپاره مشروع ګرځېدلی دی، ترڅو د ظالمانو د ظلم او تېري څخه په امن شي او وکولای شي خپل دیني شعایر پرته له کوم ډار او خوف څخه ترسره کړي.

۲. د الله ﷻ په لار کې هجرت کول او له ایمان او عقیدې څخه حفاظت د بشري تاریخ په اوږدو کې د لویو تحولاتو لامل شوی دی.

۳. مسلمان لره ښایي چې په بې بنیاده خبرو، اوازو او شایعاتو ونه غولېږي او خپل معلومات او پوهه د موثقو منابعو څخه ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤ . مسلمان بايد تل د صبر او زغم په ګاڼه سمبال وي او په ځانګړي ډول کله چې حالات خراب او کړکېچن وي.

ارزونه

١ . حبشې ته د مسلمانانو د لومړني او دويم هجرت لنډه يادونه وکړئ.
٢ . د حبشې په دواړو هجرتونو کې د مهاجرينو شمېر وښایاست.
٣ . د دې لوست ګټې څرګندې کړئ.

کورنۍ دنده

د دې لوست مهم ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حبشې د مهاجرینو پرخلاف د قریشو دسیسه

حبشې ته د استازو لېږل:

دا چې مهاجرین هوسا ټاټوبی ولري، ترڅو د هغوی ځان، مال او دین په امن وي، دا کار د قریشو د مشرکانو لپاره د زغم وړ نه و، نو له دې امله یې عمرو بن العاص او عبدالله بن ربیعه چې هوښیاره اوکار پوهه کسان وو، د خورا غوره او قیمتي ډالیو سره نجاشي ته ولېږل، دواړو استازو قیمتي ډالۍ دربار ته نېږدې سردارانو ته ورکړې او هغه دلایل یې هم ورته وویل چې د هغو له مخې مسلمانان باید د حبشې ځخه وشړل شي، د دربار سرداران په یوه خوله شول چې نجاشي به د مهاجرینو په ویستلو رضاکړي، دوی ټول د نجاشي دربار ته ولاړل او خپلې ډالۍ یې وړاندې کړې او نجاشي ته یې وویل:

زمونږ څو تنه ناپوهه ځوانان ستاسې پاچایی ته په پټه راغلي دي، دوی خپل دین پریښی دی او ستاسو دین یې هم نه دی منلی، نوی دین یې جوړ کړی دی چې نه یې مونږ پېژنو او نه یې هم تاسې، مونږ د قوم مشرانو تاسو ته رالېږلي یو، ترڅو تاسې زمونږ فراریان مونږ ته وسپارئ.

د دربارپانو سپارښتنه:

د دربار سردارانو وویل: د پاچا سر دې سلامت وي، دا استازي ریښتیا وایي، سړي یې وروسپارئ چې له ځان سره یې بوځي، خو نجاشي وویل:

دا موضوع باید ښه وڅېړل شي او د دواړو اړخونو دلایل واورېدل شي. مسلمانان یې خپل دربار ته راوغوښتل او د هغوی ځخه یې پوښتنه وکړه: داکوم دین دی چې د خپل قوم ځخه پرې جلا شوي یاست؟ نه مو زمونږ دین منلی او نه د نړۍ کوم بل دین؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو ویاند:

د مسلمانانو ویاند جعفر بن ابي طالب وویل:

قدرمنه پاچا! موږ ناپوهه وو د بتانو عبادت مو کاوه او مرداري مو خوړه، زنا موږ کې ډېره وه، خپلوی مونه پاللې، ګاونډي مو ربړول او زمونږ زورور په کمزوري تېری کاوه، موږ دغه ناوړه عادات درلودل چې پاک الله تعالی زمونږ له منځ څخه خپل استازی غوره کړ، نسب یې موږ ته معلوم دی، په ریښتینولی، امانتداری او نورو ښو اخلاقو سره زمونږ په منځ کې مشهور دی، موږ ته یې د یو الله ﷻ د عبادت بلنه راکړه، او د هغو بتانو او کاڼو له عبادت څخه یې منع کړو د کومو چې زمونږ پلرونو عبادت کاوه، موږ ته یې لاربښوونه وکړه چې تل باید ریښتیا ووایو، امانت پوره ورکړو، خپلوي وپالو، له ګاونډیانو سره ښه ژوند وکړو، له ناروا او وینو تویولو څخه لاس واخلو، موږ یې له زنا کولو، دروغو ویلو، د یتیم د مال له خوړلو او په پاک لمنو ښځو د تور لګولو څخه منع کړو.

موږ ته یې امر وکړ چې د یو الله ﷻ عبادت وکړو، هېڅ شی ورسره شریک او سیال ونه ګڼو، حلال یې حلال او حرام یې حرام وګڼو، نو زمونږ قوم له موږ سره په همدې خبرو دښمن شو او موږ یې سخت وربړلو، ترڅو موږ اسلام پرېږدو او بېرته د بتانو عبادت پیل کړو او هغه ناروا کارونه وکړو چې وړاندې مو کول، کله چې دوی پر موږ ظلم او تېری پیل کړ او او ځمکه یې راباندې تنګه کړه، نو ستا پاچایی ته مو هجرت وکړ او له ټولو خلکو څخه مو تاسې غوره وګڼلی او ستاسو په ګاونډ کې موږ ته ژوند ښه ښکاره شو، اوس هیله لرو ترڅو ستاسو په خوا کې پر موږ ظلم ونشي.

فعالیت

د زده کوونکو څخه دې یو تن د جعفر ﷺ د وینا مهم ټکي په خپلو الفاظو ووایي.

د نجاشي غبرګون:

نجاشي وویل: آیا هغه څه چې ستاسو پېغمبر راوړي له ځانه سره لرئ؟

جعفر ﷺ ځواب ورکړ: هو! بیا یې د قرآن عظیم الشان د مریم سورت څو آیتونه تلاوت کړل، نجاشي د قرآن کریم د آیتونو په اورېدو سره ډېر وژړل، تر دې چې ږېره یې لنده شوه او د دربار مذهبي مشرانو یې هم وژړل چې د ژړا له امله یې په لاسونو کې نیولي کتابونه هم لانده شول، بیا نجاشي دوی ته وویل: دا او هغه څه چې عیسی ﷺ راوړي وو دواړه د یو څراغ رڼا ده.

عمرو بن عاص او د هغه ملګري ته یې وویل: ولاړ شئ، قسم په الله ﷻ چې هېڅکله به هم دا خلک تاسو ته ونه سپارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نجاشي د ذهنيت د خرابولو کوښښ:

د هغه حسد او کينې له مخې چې د قريشو استازو په زړه کې درلوده پاچا ته يې وويل:

دوی د عيسٰی عليه السلام په هکله بې ځايه خبرې کوي. هغه مسلمانان راوغوښتل او له هغو څخه يې پوښتنه وکړه، جعفر رضي الله عنه ورته وويل: موږ د حضرت عيسٰی عليه السلام په هکله هغه څه وايو چې زمونږ پېغمبر موږ ته راوړي دي. هغه د خدای ﷻ بنده، د خدای ﷻ پېغمبر او د خدای ﷻ روح او کلمه ده چې پاکې او پېغلې بي بي مريم ته يې القا کړه. نجاشي د ځمکې څخه يو ډکی راپورته کړ او ويې ويل: قسم په الله ﷻ چې د عيسٰی عليه السلام حقيقت د دې ډکي په اندازه هم ستاسو له خبرو څخه زيات نه دی.

نجاشي مسلمانانو ته وويل: ولاړ شئ! زما د پاچاهۍ په حدودو کې په بشپړ ډاډ سره ژوند کولی شئ، چا چې تاسو ته ناوړه خبرې وکړې، نو زه به ارو مرو هغه ته سزا ورکړم.

د لوست ګټې:

۱. ځوک چې د چا نمايندګي کوي، لازمه ده چې هغه پوه، زيرکه، باخبره او د منطق خاوند وي.

۲. د حضرت عيسٰی عليه السلام په هکله د واقعي مسيحيت او اسلام ترمنځ کوم توپير نه لېدل کېږي.

۳. پر قاضيانو او حاکمانو لازمه ده مخکې له دې چې نهايي فيصله صادره کړي د دعوې د جانبينو دلايل او نظريات واوري.

٤. که د اسلام دښمنان ډېر زيات چالاکه او زيرکه هم وي، بيا هم د پوه او هوښيار مسلمان د منطق او استدلال په وړاندې ماتې خوري.

فعاليت

د دې لوست څخه چې نورې ګټې اخيستل کېږي هغه بيان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

الف: لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ـ د دې لوست مهم ټکي په لنډ ډول بیان کړئ.

۲ـ عمرو بن عاص او عبدالله بن ربیعه د مهاجرو مسلمانانو د دین په هکله نجاشي ته څه وویل؟

۳ـ جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه نجاشي ته د اسلام د ښېګڼو په هکله څه وویل؟

٤ـ عمرو بن عاص او عبدالله بن ربیعه د عیسی علیه السلام په اړوند د مسلمانانو د نظر په هکله څه وویل؟

٥ـ جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه د عیسی علیه السلام په هکله څه وویل؟

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ـ دا او هغه څه چې عیسی علیه السلام راوړي دي دواړو د یو ( ) رښا ده.

۲ـ مور د عیسی علیه السلام په هکله هغه څه وایو چې زمور ( ) مور ته راوړي دي.

۳ـ نجاشي له ځمکې څخه یو نری ( ) راپور ته کړ.

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب د یوې لنډې مقالې په ترڅ کې په خپل تعبیر او ژبه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

د حمزه رضي الله عنه اسلام راوړل

حمزه رضي الله عنه د بعثت په شپږم کال د ذوالحجې په میاشت کې اسلام راوړ، یوه ورځ رسول الله ﷺ د صفا غونډې سره ناست و، د جهل پلار ابو جهل رسول الله ﷺ ډېر وربرا وه، تر دې چې هغه یې په کاڼي وویشت او داسې یې زخمي کړ چې وینې تري روانې شوې، وروسته بیا ابو جهل د کعبې خوا ته ولاړ او د قریشو په غونډه کې شریک شو. د عبدالله بن جدعان وینځې چې دغه زړه دردوونکی حالت په خپلو سترګو لیدلی و، حضرت حمزه رضي الله عنه ته چې تازه له شکار څخه راغلی و او لیندۍ یې هم په لاس کې وه بیان کړ.

د ابو جهل څخه بدله:

حضرت حمزه رضي الله عنه چې د قریشو ترټولو زړور پیاوړی او تکړه ځوان و د خپل وراره د مظلومیت څخه یې غیرت په جوش راغی، پرته له کوم ځنډه په ابوجهل پسې د کعبې ساحې ته ورغی د ابوجهل په سر ودرېد او ورته یې په ډېر قهر او غوسه وویل:

ای بې غیرته! ته زما وراره ته بدرد وایې او له دې څخه خبر نه یې چې زه د هغه په دین یم؟ بیا یې په لیندۍ ووېشت او ډېر سخت یې زخمي کړ، او په دې ترتیب سره حضرت حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه د اسلام په مبارک دین مشرف شو او په پوره میړانه یې له اسلام او پیغمبر ﷺ څخه دفاع وکړه.

د لوست ګټې:

۱- رسول الله ﷺ د اسلام د دین په تبلیغ کې له ابو جهل څخه ډېر تکالیف او ستونزې ولیدلې، خو بیا یې هم د هغو په وړاندې له صبر او زغم څخه کار واخیست.

۲- د اسلام دښمنان تل د اسلامي دعوت د مخنیوي لپاره له هر ډول وسایلو څخه کار اخلي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي دعوت گرانو شکنجه کول او تعذیبول د اسلامي دعوت د مخنیوي په لارکې د دوی له تل پاتې وسایلو څخه دي.

۳- له مظلومانو او اسلامي مقدساتو څخه په مېړانه دفاع کول د مسلمانانو په ځانګړې توګه د ځوانانو مسلمانانو یوه ځانګړتیا ده.

فعالیت

د دې لوست څخه که نورې ګټې اخیستل کېدای شي څرګندې یې کړئ.

ارزونه

الف: لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ـ د حضرت حمزهؓ د اسلام منلو لامل څه و؟

۲ـ ولې حضرت حمزهؓ پر ابوجهل په قهر شو؟

۳ـ حضرت حمزهؓ ابو جهل ته د وهلو پر مهال څه وویل؟

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ـ حضرت حمزهؓ د بعثت په ( ) کال د ذولحجې په میاشت کې مسلمان شو.

۲ـ حضرت حمزهؓ د قریشو تر ټولو ( ) ځوان و.

ج: د صحیح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه کېږدئ.

۱ـ حضرت حمزهؓ د بعثت په اتم کال مسلمان شو. ( )

۲ـ د حضرت حمزهؓ د مسلمانېدو لامل د ابوجهل ظلم پر حضرت محمدﷺ باندې و. ( )

۳ـ حضرت حمزهؓ د خپل اسلام اعلان په مسجدالحرام کې وکړ. ( )

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب د یوې لنډې مقالې په ترڅ کې په خپل تعبیر او ژبه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت عمر رضي الله عنه مسلمانېدل

حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت حمزه رضي الله عنه له مسلمانېدو څخه درې ورځې وروسته د بعثت په شپږم کال د ذوالحجې په میاشت کې مسلمان شو.

د عمر رضي الله عنه او نعیم رضي الله عنه تر منځ خبرې:

حضرت عمر رضي الله عنه د هغه دښمنۍ له مخې چې د حضرت محمد ﷺ سره یې درلوده یوه ورځ د محمد ﷺ د وژلو په تکل له خپل کور څخه ووت.

د لارې په اوږدو کې د نعیم بن عبدالله العدوی سره مخامخ شو، هغه پوښتنه وکړه:

عمره! چېرته ځې؟ عمر رضي الله عنه وویل: غواړم چې محمد ووژنم.

نعیم وویل: که محمد ووژنې نو د بني هاشمو او بني زهرۀ له دښمنۍ څخه به څرنګه ځان وژغورې؟

عمر رضي الله عنه وویل: معلومېږي چې خپل دین دې پریښی دی او بې دینه شوی یې.

نعیم ورته وویل: عمره! یوه حیرانونکې خبره درته وکړم؟ ستا خور او د خور خاوند (اوښی) دې هم بې دینه شوي دي.

د دې خبرې په اوریدو سره د عمر رضي الله عنه څېره له غوسې سره شوه، د هغوی د کور په لور روان شو.

خباب رضي الله عنه چې هغوی ته د قرآن تعلیم ورکاوه د عمر رضي الله عنه په لېدو ځان ګوښه کړ او د عمر رضي الله عنه خور فاطمې (رضی الله عنها) د عمر رضي الله عنه څخه د قرآن پاڼه پټه کړه، څرنګه چې عمر رضي الله عنه کور ته د ننوتلو پر مهال د خباب رضي الله عنه قرائت اوریدلی و، نو پوښتنه یې وکړه: دا ورو غږ د چا و؟

هغو ځواب ورکړ: هیڅ نه و، موږ په خپلو کې خبرې کولې.

عمر رضي الله عنه وویل لکه چې بې دینه شوي یاست .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خور او اوښي ځواب:

اوښي يې وويل: عمره! که چېرې ستا له دين څخه پرته بل دين حق وي؟

عمرﷺ په خپل اوښي سعيد بن زيدﷺ برید وکړ او هغه يې ډېر زيات ووا‌هه، خور يې راغله او غوښتل يې چې خپل خاوند د ورور څخه خلاص کړي. عمرﷺ هغه هم په درنه څپېړه ووهله چې له مخ څخه يې وينې روانې شوې. خور يې د قهر او غوسې په حال کې وويل: عمره! حق د ستا د دين څخه پرته په بل دين کې دی، بيا يې د توحيد کلمه په جهر سره وويله.

د عمرﷺ په زړه کې د اسلام ځای نيول:

عمرﷺ چې کله د اسلام په دين باندې د دوی ټينګار او ثبات وليد او له بلې خوا يې د خپلې خور مظلوميت او وينې ولېدلې، خورا پښېمانه شو او په مات زړه يې پوښتنه وکړه:

ښه ده، ستاسې کتاب راکړئ چې زه يې ولولم.

خور يې چې ډېره کړېدلې وه، عمرﷺ ته داسې وويل: ته ناولی يې او قرآن کريم بايد په پاکو لاسونو واخيستل شي، که غواړی چې قرآن ولولې، نو پاڅه غسل وکړه. عمرﷺ پاڅېده او غسل يې وکړ، قرآنکريم يې راواخيست او شروع يې وکړه، د عمرﷺ سترګې په (بسم الله الرحمن الرحيم) ولګېدی، ويې ويل: دا څومره پاک او سپېڅلي نومونه دي؟ بيا يې د (طٰهٰ) سورت تلاوت پيل کړ، ترڅو د (إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ) د طه سورت ۱۴آيت ته ورسېد.

ژباړه: (يقيناً همدا زه الله يم، له ما پرته بل برحق معبود نشته، نو همدا زما عبادت وکړه او زما په ياد لمونځ اداکړه.)

بيا يې ووېل: دا څومره ښې او ښکلې خبرې دي؟ ماته محمدﷺ راوښايئ.

د حضرت عمرﷺ لارښوونه دار ارقم ته:

خبابﷺ چې کله د حضرت عمرﷺ خبرې واورېدلې، ځان يې ښکاره کړ او ويې ويل: هيله من يم چې د رسول اللهﷺ دعا ستا په حق کې قبوله شوې وي.

حضرت عمرﷺ بيا خپله توره راواخيسته او د نبي اکرمﷺ په وړاندې د اسلام د منلو لپاره دار ارقم ته روان شو.

حضرت عمرﷺ ه دار ارقم کې:

دار ارقم ته په رسېدو سره حضرت عمرﷺ دروازه وټکوله، يوه صحابي عمرﷺ وليد چې له خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورې سره ولاړ دی، پېغمبرﷺ يې خبر کړ، حضرت حمزهؓ وويل: دروازه ورته خلاصه کړئ، که د خير په نيت راغلی وي خير به ورته وروړسي او که په بد نيت راغلی وي، نو په خپله توره به يې سر غوڅ کړم.

کله چې حضرت عمرؓ د رسول اللهﷺ حضور ته ورغی پېغمبرﷺ هغه دګرېوان څخه ونيو او خپلې خواته يې راکش کړ او ورته يې وويل: عمره! ته له مخالفت څخه لاس نه اخلې، غواړې چې د وليد بن مغيره په څېر پايله ولرې؟

حضرت عمرؓ وويل: (اشهد ان لا اله الاالله و انک رسول الله) او د اسلام سپېڅلی دين يې قبول کړ.

حضرت عمرؓ ته د فاروق لقب ورکول:

کله چې عمرؓ مسلمان شو رسول اللهﷺ ته يې وويل آيا موږ د ژوند او يا مرګ په دواړو حالاتو کې په حقه نه يو؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: قسم مې دې په هغه ذات وي چې زما ژوند د هغه په لاس کې دی، تاسې په حقه يئ که تاسې مړه شوی او يا ژوندي.

حضرت عمرؓ وويل: نو بيا ولې خپل اسلام نه څرګندوو؟ سوګند مې دې په هغه ذات وي چې ته يې په ريښتيا رالېږلی يې موږ به خامخا اسلام خلکو ته څرګندوو.

هماغه و چې مسلمانان د رسول اللهﷺ په ملتيا په دوه کتارونو کې د حرم په لور ووتل او حرم ته ورسېدل، قريشو دوی ته کتل، خو د حضرت عمرؓ او حضرت حمزهؓ شتون د مسلمانانو په ليکو کې د قريشو غرور مات کړ، هغوی دوی ته هېڅ ډول ضرر ونه رساوه، رسول اللهﷺ په همدې ورځ حضرت عمرؓ ته د فاروق لقب ورکړ.

د لوست ټکې:

۱. د پياوړو، مخلصو او مخورو مسلمانانو په يووالي سره د مسلمانانو ليکې ټينګښت مومي.

۲. څوک چې د حقيقت په لټه کې وي ضرور به اسلام ته مخه کوي، که څه هم د اسلام د سرسختو مخالفينو څخه وي.

۳- د اسلامي دعوت په لار کې استقامت او صبر کول د ريښتونيو مسلمانانو له صفاتو څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

د دې لوست څخه که نورې ګټې اخیستل کېږي څرګندې یې کړئ.

ارزونه

الف: لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ـ حضرت عمر رضي الله عنه د بعثت په کوم کال مسلمان شو؟

۲ـ د حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام قبلولو لامل څه و؟

۳ـ حضرت عمر رضي الله عنه د خپلې خور په کور کې د کوم سورت آیتونه تلاوت کړه؟

٤ـ ولې حضرت عمر رضي الله عنه ته د فاروق لقب ورکړل؟

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ـ کله چې حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وژلو په نیت توره په لاس ووت، په لاره کې ( ) په مخه ورغی.

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب په لنډ ډول د یوې مقالې په ترڅ کې په خپله ژبه او خپل ځانګړي تعبیر وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر اړخیز پرېکون

هغه پېښې چې مشرکان يې اندېښمن کړل:

د ځلورو اونیو څخه په لږه موده کې مشرکان له ځلورو لویو پېښو سره مخ شول، دغو پېښو مشرکان هک پک حیران کړل چې هغه عبارت دي له:

۱. د حضرت حمزه رضي الله عنه مسلمانېدل.

۲. د حضرت عمر رضي الله عنه مسلمانېدل.

۳. د حضرت محمد ﷺ له اړخه د مشرکانو د روغې جوړې د وړاندیزونو نه منل.

٤. د حضرت محمد ﷺ د دفاع او ملاتړ لپاره د بني هاشم او بني عبدالمطلب ترون.

دې پېښو مشرکان په اندېښنه کې واچول او په دې پوه شول که چېرې دوی حضرت محمد(ص) ته لاس اوږد کړي، نو د مکې لارې او کوڅې به د دوی په وینو رنګ شي له دې امله يې د حضرت محمد ﷺ له وژلو څخه لاس واخیست او یو بل ډول ظلم او تېري ته يې ملا وترله.

د ظلم او تېري ټرون:

د بعثت په اووم کال د قریشو مشرکان په بني کنانه کې راټول شول او داسې پرېکړه يې وکړه چې له دې وروسته به د بني عبدالمطلب او بني هاشم سره (پرته له ابو لهب څخه)، نه څوک خپلوي کوي نه به پرې څه خرڅوي، نه به ورسره راشه درشه کوي او نه به ورسره خبرې کوي، ترڅو يې چې رسول الله ﷺ د وژلو لپاره دوی ته نه وي سپارلی، همدارنګه ورزیاته يې کړه چې د هاشم له کورنۍ سره به هېڅ ډول روغه جوړه، نرمي او خوا خوږي نه کېږي، بیا يې دغه ټرون د کعبې شریفې په منځ کې راوځړاوه، د یادونې وړ ده چې د دې ټرون د لیکونکي لاسونه هماغه مهال شل شول.

هماغه و چې د دغو ټول غړي (مسلمان او کافر) د بعثت په اووم کال د محرم دمیاشتې په لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ د ابوطالب په وادي (شعب ابي طالب) کې محاصره شول. محاصره ورځ په ورځ سختېده، د خوراک او څښاک ټول وسایل پر مسلمانانو بند شول، مشرکانو هېڅ شی نه پرېښود چې مسلمانانو ته ورسېږي، په پای کې مسلمانان دې زړه بوږنوونکي حالت ته ورسېدل چې د ونو پانې او د حېواناتو وچ پوستکي وخوري.

د کوچنیانو او ښځو ژړاګانې د لیرې ځایونو څخه اورېدل کېدی.

د بندیز دریم کاله تېر شول، د بعثت په لسم کال د محرم په میاشت کې د محاصرې د ترون ناخوښه کسان د حجون په سیمه کې د دې ظالمانه بندیز د ماتولو لپاره راټول شول، زهیر وویل: سبا به زه لومړی کس یم چې د قریشو ټولنې ته به په دې هکله خبره کوم.

د وعدې سره سم هر سړي خپل ځان حرم ته ورساوه، زهیر چې نوې جامې یې اغوستې وې، لومړی یې د کعبې طواف وکړ، بیا یې خلکو ته مخ کړ او ویې ویل: ای د مکې خلکو! داکوم انصاف دی؟ موږ په مړه ګېډه خوراکونه کوو، نوې جامې اغوندو او د هاشم کورنی له لوږې هلاکېږي، قسم په الله ﷻ چې د دې ظالمانه ترون پاڼه به ارومرو شکوم.

ابوجهل چې د مسجد په یوه څنډه کې ناست و، ورغږ کړ: تا دورغ وویل، قسم په الله ﷻ چې دا پاڼه به هېڅکله هم نه شکېږي.

وروسته بیا زمعة بن الاسود، ابوالبختري، مطعم بن عدي او هشام بن عمرو په خپل وار سره د زهیر خبرې تائید کړې او د پاڼې د شکولو خبرې یې وکړې او ابوجهل یې پرله پسې مخالفت کاوه.

د بندیز د ختمولو په هکله د ابوطالب وړاندیز:

ابوطالب هم په دغه غونډه کې موجود و او د دې لپاره راغلی و، ترڅو خلکو ته ووایي چې الله تعالٰی رسول الله ﷺ ته خبر ورکړی چې په دې پاڼه وېنه (چینجی) اخته شوی دی او پرته د الله ﷻ د نوم څخه یې نورې د ظلم او تېرې ټولې کلمې خوړلې دي، که چېرې د هغه خبر ې دورغ وي، نو زه به له منځه ووځم، تاسې پوه شه او هغه که چېرې زما د وراره خبره سمه او ریښتیا وه، نو تاسې باید په موږ ظلم اوتېرې بند کړئ او بندیز ختم کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوم وويل: د انصاف خبره دې وکړه.

وروسته له دې چې د قوم د خلکو او ابوجهل ترمنځ خبرې تاوې راتاوې شوې مطعم بن عدي پاڅېده، ترڅو ليکلې پاڼه وشکوي، گوري چې چينجو ټوله خوړلې ده او يوازې د الله تعالىٰ پاک نوم پاتې دی، په دې ترتيب ترون ليک وشکېده، رسول الله ﷺ او ملگري يې د محاصرې څخه خلاص شول، مشرکانو د رسول الله ﷺ د نبوت د ريښتينولي ډېر لوی او ستر دليل په غړېدلو سترگو وليد.

د لوست ځېړنې:

۱. اقتصادي بنديز مسلمانان په ډول ډول تکاليفو او ستونزو اخته کړل.

۲. په انسانانو باندې د خوراکي توکو بندول هغه ظالمانه منطق دی چې د تاريخ په اوږدو کې مستبدو او ناترسو ظالمانو کارولی دی.

۳. د اسلام د سپېڅلي او مقدس دين د ساتلو لپاره مسلمانانو ډېرې ستونزې ګاللې دي.

٤. اقتصادي محاصره داسې يو ناروا کار دی چې د ضمير او وجدان لرونکي مشرکانو هم د هغې مخالفت وکړ.

الف: لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ــ د ترون مهم ټکي وليکئ.

۲ــ د ظلم او تېري ترون څومره موده دوام وکړ؟

۳ــ د دې ترون د ماتولو بهير څرنگه و؟ څرگند يې کړئ.

٤ــ د دې ترون ليکونکي ته څه پېښ شول؟ بيان يې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ـ د مسلمانانو محاصره د بعثت په ( ) کال د محرم د میاشتې له لومړۍ نېټې پیل شوه.

۲ـ د مسلمانانو محاصره د بعثت په ( ) کال د محرم په میاشت کې ختمه شوه.

ج: د صحیح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه کېږدئ.

۱ـ د دغه ترون پربکړه د کعبې په منځ کې وځړوله. ( )

۲ـ پربکړه یې داسې وه چې مسلمانان به په مدینه منوره کې محاصره وي. ( )

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب په لنډه توګه د یوې مقالې په ترڅ کې په خپل تعبیر او خپله ژبه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غم کال (عام الحزن)

د ابو طالب مړینه:

د نبوت په لسم کال کله چې محاصره ختمه شوه او مسلمانان بېرته مکې مکرمې ته راستانه شول د همدې کال د رجب په میاشت کې ابوطالب چې د مسلمانانو لپاره د ډال حیثیت درلود، وفات شو.

ابوطالب د هغې سترې کلا په څېر و چې مسلمانان یې د مشرکانو له ظلم او تېري څخه ژغورلي و، خو بدبختانه په خپله یې ترې ګټه وانخیسته او د خپلو نیکونو په زاړه دین مړ شو.

د پېغمبرﷺ سره د ابوطالب له مړینې وروسته د قریشو له خوا ظلم او تېری:

د ابوطالب له مړینې وروسته په رسول اللهﷺ د مشرکانو د ظلم او تیري جرئت لا زیات شو او هغه یې د ډېرو ستونزو، غمونو او کړاوونو سره مخ کړ، یوه ناپوهه قریشي په رسول اللهﷺ باندې مرداري خاورې واچولې، پېغمبرﷺ په همداغه حالت کور ته ولاړ، فاطمې رضي الله عنها چې د ده دا حالت ولید په ژړا شوه او سر یې ورته ومینځه، رسول اللهﷺ ورته وویل: لورکی! مه ژاړه، پاک اللهﷻ به ارو مرو ستا پلار ژغوري.

رسول اللهﷺ به ویل: ماله قریشو څخه د ابوطالب په ژوند کې داسې بد چې زه یې ځوروولم نه وو لیدلي.

خدیجه الکبریٰ رضي الله عنها د الله تعالی د رحمت په لور:

خدیجه الکبریٰ د ابوطالب له مرګ څخه څه موده وروسته وفات شوه. خدیجه الکبریٰ رضي الله عنها د اللهﷻ له لورې رسول اللهﷺ ته یوه ستره پیرزوینه وه چې د یوې پېړۍ څلورمه برخه یې ورسره تېره کړه چې د غم په وخت به یې پر رسول اللهﷺ شفقت او مهرباني کوله او د دعوت په خپرولو کې یې ملګرې وه.

رسول اللهﷺ د هغې په هکله فرمایي: هغه وخت یې پرما ایمان راوړ چې خلکو نه منلم، هغه وخت یې ریښتینی وګڼلم چې نورو راته دروغجن ویل او هغه وخت یې په خپل مال کې برخمن کړم چې هېڅا څه نه راکول او الله پاکﷻ له هغې څخه اولاد راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طايف په لور د پيغمبرﷺ سفر او له هغه سره بد سلوک:

د څو اونيو په ترڅ کې چې کومې غمجنې پېښې منځته راغلې رسول اللهﷺ يې ډېر دردولی و، د ابوطالب د مړينې وروسته د اسلام د دښمنانو تېری نور هم زيات شو، رسول اللهﷺ پرته له دې چې طايف ته (چې مکې مکرمې ته تر ټولو لنډ ښار دی) سفر وکړي بله کومه چاره نه درلوده، ترڅو له دې لارې وکولی شي د طايف خلک اسلام ته را وبولي او هغوی د ده ملاتړ وکړي، خو د طايف خلکو نه يواځې دا چې د رسول اللهﷺ بلنه يې ونه منله، بلکې ده ته يې ډېرې ستونزې او تکليفونه ورسول، د کانړو په ويشتلو يې دی ډېر ژوبل کړ، تر دې چې پنې يې له وينو ډکې او بدن مبارک يې په وينو سور شو.

د لوست کتې:

۱- د الله تعالی له ازموينو څخه دا دی چې اسلامي دعوتګران په تکليفونو او ستونزو اخته کوي، تر څو وکولی شي د دعوت دروند پېټې او دنده په سمه توګه پرمخ بوځي.

۲ - په اسلامي دعوت او د ټولنې په اصلاح کې د مسلمانې ښځې رول ډېر ارزښناک دی او بايد مسلمانه ښځه د اسلامي دعوت په وړاندې خپل رسالت اداء کړي.

ام المؤمنين خديجه رضي الله عنها د رسول اللهﷺ څخه پنځلس کاله مشره وه، خو د هغې د حقې لارې ملګرتيا او د رسول اللهﷺ سره مخلصانه همدردي او خوا خوږي، رسول اللهﷺ دې ته اړ باسه ترڅو د نورو ازواجو په پرتله د هغې ښېګڼې وستايي.

صالحه ښځه په اسلامي ټولنه کې ډېر مهم رول لوبولی شي.

الف: د دې لوست مهم ټکي په مختصر ډول ووياياست.

ب: لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱_ ابوطالب د بعثت په ( ) کال د ( ) په مياشت کې وفات شو.

ج: د صحيح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه کېږدئ.

۱_ ابوطالب د رسول اللهﷺ نيکه و. ( )

۲_ د بعثت اتم کال د غم په کال ونومول شو. ( )

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب په مختصر ډول د يوې مقالې په ترڅ کې په خپل تعبير او خپله ژبه وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طايف ته د رسول الله ﷺ د سفر تفصيل

د بعثت په لسم کال کله چې رسول الله ﷺ له خپل قوم څخه مايوسه شو، په دې هيله طايف ته روان شو چې د طايف خلک به يې بلنه ومني. طايف د مکې مکرمې په (۷۰) کيلومترۍ کې پروت دی.

په دې ستونزمن سفر کې زيد بن حارثه هم د ده سره ملګری و. رسول الله ﷺ به چې په هر کلي تېرېده هغوی به يې اسلام ته رابلل.

له طايف څخه د رسول الله ﷺ ويستل:

رسول الله ﷺ لس ورځې په طايف کې تېری کړې، د طايف له ټولو مشرانو سره يې خبرې وکړې او هغوی يې د اسلام سپېڅلي دين ته راوبلل، خو هغوی په يوه خوله په ډېر ذلت او سپکاوي، ازار او تکليف ورکولو له طايف څخه د رسول الله ﷺ د ويستلو پربکړه وکړه، هماغه و چې دوی خپل ناپوهان په رسول الله ﷺ پسې راوپارول، ترڅو هغه ته بدې خبرې وکړي هغه پسې چغې ووهي اوپه کانړو يې وولي چې په پايله کې رسول الله ﷺ په کانړو وويشتل شو او پنې مبارکې يې په ونيو رنګ شوی.

زيد بن حارثه رضي الله عنه به هڅه کوله تر څو د رسول الله ﷺ څخه دفاع وکړي او خپله د ډېری مخ ته ودرېږي. چې پايله کې په سر او مخ زخمي شو.

ناپوهانو خپلو وېشتلو ته دوام ورکړ تر دې چې رسول الله ﷺ دې ته اړ شو، څو د عتبه او شيبه باغ ته چې د طايف څخه څلورنيم کيلومتره لرې پروت و پناه يوسي.

د پيغمبر ﷺ د عا :

رسول الله ﷺ وروسته له دې چې د عتبه او شيبه باغ ته خواشينی ننوت د انګورو تاک ته يې تکيه وکړه او داسې يې وويل: (يا الله! زه ډېر ضعيف او ناتوان يم، هېڅ مې په وس کې نشته، خلک هم په سپکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ګوري، ای ارحم الراحمین! ته د بې وسو خدایﷻ یې او زما هم رب یې، ته مې چاته سپارې؟ پردي ته، چې سختي راسره کوي؟ یا کوم دښمن ته، چې زما واک تا په لاس کې ورکړی دی؟

که ته راباندې په غوسه نه یې هېڅ باک مې نشته، ستا ببنه خورا پراخه ده، ستا په هغه روښانه مخ چې ټولې تیارې پرې رڼا او د دنیا او اخرت ورانې پرې سمبرې، ستا له قهر څخه پناه غواړم، له خپل غضب څخه مې وژغوره، تا ته مې پناه دروړی ده چې ته راضي شې، له ګناه څخه ځان ژغورل او په طاعت صبر او استقامت کول ستا له توفیق پرته ناشوني دي.

د عداس سره پېژندګلوي:

کله چې د ربیعه زامنو رسول اللهﷺ په ډېر مظلوم حالت ولید زړونه یې پرې وخوږېدل، خپل عداس نومی نصراني غلام ته یې وویل چې د انګورو یو وړی رسول اللهﷺ ته یوسي، کله چې عداس د انګورو وړی د رسول اللهﷺ په وړاندې کېښود رسول اللهﷺ لاس اوږد کړ او د بسم الله په ویلو یې په خوراک پیل وکړ.

عداس وویل: د دې وطن خلک داکلمات نه وایي. پېغمبرﷺ ورته وویل: ته د کوم وطن یې؟ او په کوم دین یې؟

عداس وویل: زه نصراني یم، د نینوا څخه.

پېغمبرﷺ ورته وویل: د نېک سړي یونس بن متیعليه السلام له کلي څخه؟ عداس پوښتنه وکړه: یونس بن متیعليه السلام څه پېژنی؟

رسول اللهﷺ ځواب ورکړ، هغه زما ورور دی، هغه پېغمبر و او زه هم.

عداس د دې خبرې په اوربدو سره منډه کړه او د رسول اللهﷺ لاسونه او پښې یې ښکلې کړې.

د ربیعه زامنو عداس ولید، کله چې عداس راغی نو هغوی ورته وویل: هلاک شې، دا دې څه وکړل؟

عداس وویل: د ځمکې په سر له ده څخه بل څوک غوره نشته، ماته یې داسې خبرې وکړې چې پرته له انبیاؤو څخه یې بل څوک نشي کولی.

هغوی وویل: هلاک شې له دین څخه دې وانه ړوي، ځکه ستا دین د هغه له دین څخه غوره دی.

رحمة للعالمین پېغمبرﷺ:

پېغمبرﷺ خورا ستړی او خواشینی د مکې لور ته روان شو، د لارې په اوږدو کې ورته جبرائیلعليه السلام

---

۲ - د پاسنی فقري یادونه په ازموینه کې اړینه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: الله ستا سره ستا د قوم په کړنو خبر دی، که غواړې نو د مکې غرونه به پر دوی یو ځای کړم.
رسول الله ﷺ ځواب ورکړ: زه هیله من یم چې پاک الله ﷻ به د دوی په راتلونکي نسل کې مسلمانان پیدا کړي او داسې دعا یې وکړه: (اللهم اهد قومي فانهم لايعلمون).
ژباړه: خدایه! ته زما قوم ته هدایت وکړه، دوی ناپوهان دي.

اسراء او معراج:

په همدغه شپو او ورځو کې چې پېغمبر ﷺ ډېر غمجن او خواشینی و، د اسراء او معراج پېښه رامنځته شوه.
رسول الله ﷺ د جبرائیل عليه السلام په ملتیا له مسجد الحرام څخه بیت المقدس ته یوړل شو او بیا هماغه مهال د بیت المقدس څخه **آسمانونو** ته پورته شو.
د رسول الله ﷺ تګ له مسجدالحرام نه بیت المقدس ته په قرآن عظیم الشان ثابت دی، بیا له بیت المقدس څخه آسمانونو ته ختل په مشهورو احادیثو ثابت دی.

د لوست ګټې:

۱- رسول الله ﷺ ته ستونزې او تکالیف پېښېدل، د هغو مصلحینو او داعیانو لپاره یو ښه درس دی کوم چې د ټولنې د دعوت او اصلاح په لار کې د ستونزو سره مخامخ کېږي.
۲- د اسلام نعمت چې د هغه له برکته د نړۍ ټول مسلمانان په امن، سوکالۍ او وروګلوۍ سره ژوند تېروي، د ډېرو ستونزو، تکالیفو او ربړونو (چې ترټولو وړاندې پېغمبر ﷺ ګاللي دي) په زغملو خپور شوی دی، نو لازمه ده چې هر وخت پر رسول الله ﷺ باندې درود او سلام ووایو.
۳- پېغمبر ﷺ رحمة اللعالمین دی، هېڅکله یې هم پر نورو د ظلم او تېري پلوي نه ده کړې او هر وخت په دې هڅه کې و ترڅو د نورو د ظلم او تېري په مقابل کې د نېکۍ ترحم او ښېنې څخه کار واخلي.
٤- د اسراء او معراج د ارزښت بیانول او د پېغمبر ﷺ د عروج د ځای او د مسلمانانو د لومړنۍ قبلې (مسجد اقصی) لوړ مقام په ګوته کول چې باید د مسلمانانو له لورۍ یې ساتنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د مضمون د ښوونکي په مرسته د مسجد اقصی د ارزښت او د مسلمانانو د لومړنۍ قبلې او نبي کریم ﷺ د عروج د ځاي په اړه د مسلمانانو د مکلفیتونو په هکله یو له بل سره مباحثه وکړي.

ارزونه

الف: لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

کله چې پېغمبر ﷺ له خپل قوم څخه مایوسه شو، نو چېرته ولاړ؟

د طایف په سفر کې د پېغمبر ﷺ ملګری څوک و؟

پېغمبر ﷺ په کوم کال طایف ته ولاړ؟

د اسراء او معراج په هکله خپل معلومات څرګند کړئ.

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

طایف له مکې مکرمې څخه ( ) کیلومتره لیرې دی.

رسول الله ﷺ ( ) ورځې په طایف کې تېرې کړې.

ج: د سم عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه ولیکئ.

مکه مکره د طایف څخه (۳۰) کیلومتره لیرې ده. ( )

عداس وویل: زه نصراني یم د نینوا څخه. ( )

د پېغمبر ﷺ تګ له مسجدالحرام نه بیت المقدس ته په قرآن عظیم الشان ثابت دی او د هغه تګ له بیت المقدس نه **آسمانونو** ته په مشهورو احادیثو ثابت دی. ( )

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب په لنډ ډول د یوې مقالې په ترڅ کې په خپل تعبیر او خپله ژبه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقبې لومړنی بیعت

د بیعت څخه د مخه:

عقبه په مکه مکرمه کې د یو ځای نوم دی چې د مسجدالحرام په پنځه کیلومتری کې د جمراتو (کوم ځای کې چې شیطانان وېشتل کېږي) ترڅنګ پروت دی، د جزیرة العرب د خلکو به دا عادت وو چې د حج په موسم کې به د کعبې شریفې د زیارت لپاره مکې مکرمې ته راتلل، د نبوت په یوولسم کال هم د مدینې منورې شپږ تنه مشران مکې مکرمې ته راغلل، له رسول الله ﷺ سره یې وعده وکړه چې د ده پیغام به خپلو خلکو ته رسوي.

د عقبې لومړنی بیعت:

د بعثت په (۱۲) کال د مدینې منورې (۱۲) تنه اوسېدونکي چې پنځه تنه یې تېر کال هم راغلي وو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول او په عقبې نومې ځای کې یې د رسول الله ﷺ سره غونډه وکړه او هم یې له هغه سره بیعت وکړ چې دغه بیعت د عقبې په لومړني بیعت ونومول شو.

د بیعت ټکي:

عبادة بن صامت رضي الله عنه د عقبې د لومړني بیعت په هکله داسې وایي: رسول الله ﷺ موږ ته داسې وفرمایل: راشئ زماسره په دې خبره بیعت وکړئ چې:

۱ـ د الله ﷻ سره به هېڅ شریک نه نیسئ.

۲ـ غلا او زنا به نه کوئ.

۳ـ اولادونه به مو نه وژنئ.

٤ـ په خلکو به تور نه لګوئ.

٥ـ په نیکۍ کې به زما نافرماني نه کوئ.

عباده وایي: موږ د رسول الله ﷺ سره په همدې امورو بیعت وکړ.

په مدینه منوره کې د قرآن کریم او اسلامي روزنې نبوونکی:

وروسته له دې چې بیعت ترسره شو او د حج موسم هم پای ته ورسېد، رسول الله ﷺ یو مسلمان زلمی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیعت کوونکو سره یثرب ته ولېږه، ترڅو مسلمانانو ته د اسلام احکام ورزده کړي او په دین یې پوه کړي او هم د اسلام د سپېڅلي دین لپاره دعوت وکړي چې د دې ستر کار لپاره یې مصعب بن عمیرﷺ غوره کړ چې یو پوه او هوښیاره مسلمان زلمی و.

مصعب بن عمیر یو بریالی داعي:

مصعب بن عمیرﷺ د اسعد بن زراره په کور کې استوګنه پیل کړه، دوی دواړو په مېړانه او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو سره یثرب کې اسلام خپراوه، مصعب بن عمیرﷺ په یثرب کې د قرآن کریم په معلم مشهور شو.

نورو ته په قناعت ورکولو کې د اخلاص او استدلال تاثیر:

یوه ورځ مصعبﷺ او اسعدﷺ د بني ظفر د کلي په لور روان شول او د بني ظفر په یوه باغ کې چې ډېر مسلمانان هلته راټول شوي وکښېناستل. سعد بن معاذ او اسید بن حضیر چې د یثرب مشران و او لاتر اوسه یې اسلام نه و راوړی، د دوی په راتګ خبر شول. سعد اسید ته وویل: ولاړ شه او دغو دوو تنو ته چې زمونږ ناپوهه خلک بې لارې کوي په قهر سره ووایه چې زمونږ دکورونو لور ته رانشي، اسید توره په لاس کې واخیسته او په ډېر قهر د هغوی په لور ورغی، کله چې هغوی ته ورسېد، ویې ویل: ولې دلته رغلي یئ؟ غواړئ چې زمونږ ساده ګان وغولوئ، که د ځان خیر غواړئ، نو بیا دلته رانشئ.

معصبﷺ ورته وویل: ډېر ښه، آیا ته نه غواړې چې زمونږ خبرې واورې؟

که خوښې دې شوې ویې منه او که خوښې دې نه شوې، نو په زور یې څوک په تا نشي منلی.

اسید ورته وویل: خبره دې روغه ده، بیا یې توره په ځمکه وټومبله او کښېناست، مصعبﷺ ورته د اسلام په هکله خبرې وکړې او قرآن کریم یې تلاوت کړ.

مصعبﷺ وایي: قسم په الله ﷻ چې د ده په مخ کې د اسلام د نور روښانتیا مخکې له دې چې دی خبرې وکړي، مونږ ولیده، بیا اسیر وویل: دا څومره ښکلی او په زړه پورې دین دی! دی دین ته د داخلېدو لاره څه ده ماته یې راوښایئ.

دواړو ورته وویل: لومړی به غسل وکړې او بیا به پاکې جامې واغوندی او د شهادت کلمه به ووایې او دوه رکعته لمونځ به وکړې. همغه و چې پاڅېده غسل یې وکړ، پاکې جامې یې واغوستلې، د توحید کلمه یې وویله او دوه رکعته لمونځ یې اداکړ.

اسید وویل: زما یو بل ملګری هم شته که چېرې مسلمان شو، نو د قوم ټول خلک به مسلمانان شي.

هغه سعد بن معاذ دی، زه به یې همدا اوس تاسو ته راولېږم.

د سعد بن معاذﷺ اسلام راوړل:

اسید خپله توره واخیسته او د سعد په لوري چې د قوم په منځ کې ناست و ورغی، سعد د قوم خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وویل: قسم په الله ﷻ چې اسید په کومه بڼه تللی و، په هغه نه دی راغلی. اسید چې د غونډې ځای ته ورسېد، سعد تري پوښتنه وکړه څه دې وکړل؟

ده وویل له هغوی سره مې خبرې وکړې، قسم په الله ﷻ ما په هغوکې څه بد ونه لیدل، خو بیا هم ما منع کړل، هغوی وویل: موږ به هغه څه کوو چې ستا خوښه وي، خو په لارکې مې واورېدل چې د حارثه کورنۍ راوتلې ده چې اسعد بن زراره د دې لپاره ووژني چې هغه ستا د ترور زوی دی، سعد د دې خبرې په اورېدو سره ډېر په قهر شو، توره یې واخیسته او د هغو دواړو په لور روان شو، کله یې چې هغوی دواړه ولیدل، نو پوه شو چې اسید غوښتل ترڅو زه هم د دې دواړو خبرې واورم، بیا یې په ډېر قهر او غوسه اسعد ته وویل: ای ابو امامة! قسم مې دې په الله ﷻ وي که چېرې زما او ستا ترمنځ خپلوي نه وای روغ به راڅخه نه وې تللی. آیا ته زموږ کور ته هغه څه راوړي چې موږ یې نه خوښوو؟

مصعب ﷺ سعد ته وویل: آیا ته نه کښېنې ترڅو زموږ خبرې واوری؟

که دې خوښې شوې نو ویې منه او که نه په زور خو یې په تا نشو منلی.

سعد وویل: خبره مو روغه ده، بیا یې توره په ځمکه نېغه ودروله او کښېناست، مصعب ﷺ ورته اسلام بیان کړ، بیا یې ورته قرآن کریم تلاوت کړ.

مصعب ﷺ وایي: قسم په الله ﷻ چې له خبرو وړاندې یې موږ په مخ کې د اسلام نښې ولیدې چې ځلېدې او رڼا یې کوله.

سعد ﷺ وویل: غوارم مسلمان شم څه وکړم؟ هغې ورته وویل: غسل به وکړې، بیا به پاکې جامې واغوندې او د توحید کلمه به ووایې، بیا به دوه رکعته لمونځ وکړې.

سعد همداسې وکړل.

د سعد ﷺ خبرې له خپل قوم سره:

سعد ﷺ خپله توره واخیسته او د خپل قوم په لور یې روان شو، کله چې خپل قوم ته ورسېد، نو ویې ویل: ای د اشهل اولادې! تاسې ما ته په کوم نظر گورئ؟

ټولو وویل: ته زموږ مشر او لارښود یې.

سعد وویل: زه به ستاسې د نر او ښځو سره تر هغوی خبرې ونه کړم، ترڅو چې تاسې په الله ﷻ او رسول الله ﷺ ایمان نه وي راوړی. مخکې له دې چې مابنام شي د قوم ټول نر او ښځې پرته له یو تن څخه (چې هغه هم وروسته مسلمان شو) مسلمان شول.

مصعب بن عمیر ﷺ چې د اسعد بن زراره ﷺ په کور کې استوگن و وکولای شول له دغه ځای څخه په ټوله مدینه منوره کې اسلام خپور کړي.

مصعب بن عمیر ﷺ د نبوت د دیارلسم کال د حج له موسم څخه وړاندې مکې مکرمې ته ستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او رسول الله ﷺ ته يې د کاميابۍ زېرى، د قبايلو تود او ګرم هر کلى، د هغوى نيکې او پاکې هيلې او د ملاتړ ډاډ له ځان سره راوړ.

د لوست کتپ:

۱- د اسلامي دعوت د خپرونې او د ټولنې د اصلاح لپاره بايد داسې کسان وټاکل شي چې له يوې خوا مخلص وي او له بلې خوا په اسلام پوهه ولري.

۲- د ټولنې د مشرانو او متنفذينو په اصلاح سره کولى شو د ټولنې په اصلاح کې لويه ونډه واخلو.

۳- اسلام ته بلنه بايد د نرمۍ، نيکو خبرو، حکمت او استدلال له لارې مخ ته لاړ ه شي تر څو په زړونو کې لاره پيدا او مسخر يې کړي.

فعاليت

د سيرت نبي ﷺ د کتابونو په مرسته د دې لوست څخه که نورې ګټې ترلاسه کېږي څرګندې يې کړئ.

ارزونه

آ. لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

۱. د عقبى لومړنى بيعت په کوم کال ترسره شو؟

۲. په لومړني بيعت کې د بيعت کوونکو شمېر څو تنه و؟

۳. د اسيد بن حضير رضي الله عنه او سعد بن معاذ رضي الله عنه د مسلمانېدو کيسه په لنډ ډول بيان کړئ.

ب. لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱. د نبوت په يوولسم کال د حج په موسم کې د يثرب ( ) تنه مسلمان شول.

۲. مصعب بن عمير رضي الله عنه په يثرب کې ( ) مشهور شو.

کورنۍ دنده

د دې لوست مطالب په لنډ ډول د يوې مقالې په ترڅ کې په خپل تعبير او الفاظو وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقبې دويم بيعت

د بعثت ديارلسم کال:

د بعثت په ديارلسم کال د حج په موسم کې د يثرب د مشرکانو سره څه د پاسه (۷۰) تنه مسلمانان هم د حج لپاره راغلل، کله چې دوی مکې مکرمې ته راغلل د رسول الله ﷺ سره يې په پټه رابطه ونيوله چې په پايله کې په دې خبره متفق شول، ترڅو د تشريق د ورځو په لږ کې د شپې په تياره کې په عقبه کې غونډه جوړه کړي.

د عقبې د دويم بيعت په هکله د کعب بن مالک رضي الله عنه څرګندونه:

کعب بن مالک رضي الله عنه فرمايي:

سره له دې چې مور د رسول الله ﷺ سر د ليدنې خبره له مشرکانو پټوله، خو يواځې عبدالله بن حرام ته مو (چې د مدينې منورې نومیالی مشر و) وويل او هغه ته مو د اسلام بلنه ورکړه، هغه قبوله کړه او اسلام يې راوړ، هماغه و چې د عقبې د بيعت له ګډون څخه برخمن او بيا وروسته نقيب (نماينده) وټاکل شو.

کعب رضي الله عنه وايي: په دې شپه د نورو خلکو سره يو ځای په خپلو ځايونو کې وپډه شو، دريمه برخه شپه چې تېره شوه، نو رسول الله ﷺ سره د وعدې په خاطر په ورو ورو راپورته شو او ټول په عقبې کې راغوند شو او د رسول الله ﷺ د راتګ په انتظار وو.

عقبې ته د پېغمبر ﷺ راتګ:

هماغه و چې پېغمبر ﷺ راښکاره شو او تره يې عباس بن عبدالمطلب چې تر اوسه د خپل قوم په پخواني دين و، هم ورسره و او اړينه يې وګڼله تر څو د خپل وراره په خاطر په مجلس کې ګډون وکړي او د بيعت په اهميت او خطرناکو پايلو د ګډونوالو سره خبرې شريکې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیعت د مسؤولیت او دروندوالي په هکله د عباس رضي الله عنه څرګندونې:

د غونډې په پیل کې عباس رضي الله عنه خبرې وکړې او د یثرب مسلمانانو ته یې هغه لوی او دروند مسؤولیت ور په ګوته کړ چې د دې ترون څخه وروسته به د دوی په اوږو پروت وي او داسې یې وویل:

ای خلکو! ... دی (حضرت محمد ﷺ) په خپله غوره ګڼي له تاسو سره ولاړ شي او هلته ژوند وکړي، که تاسې باور لرئ چې له ده سره کړې وعدې پوره کولای شئ او له دښمنانو یې ژغورلای شئ، نو تاسې یې له ځان سره بوځئ او که اړکل کوئ چې دښمن ته به یې سپارئ، نو همدا اوس یې پریږدئ، ترڅو دی په خپل قوم کې په عزت او ډاډ ژوند تېر کړي.

د غونډې د ګډونوالو څرګندونې:

کعب بن مالک رضي الله عنه عباس ته وویل: ستا خبرې مو واورېدلی، بیا د غونډې ګډونوالو رسول الله ﷺ ته وویل: ای د الله ﷻ رسوله! د خدای ﷻ او د خدای ﷻ د رسول ﷺ (ځان) لپاره چې څه ژمنې غواړې وېې غواړه، بیا رسول الله ﷺ خبرې وکړې او د بیعت ټکي یې څرګند کړل او بیعت ترسره شو.

د بیعت بندونه:

جابر رضي الله عنه فرمایي: موږ رسول الله ﷺ ته وویل: په څه درسره بیعت وکړو؟ پېغمبر ﷺ وفرمایل:

په سختیو او آسانیو کې د اوامرو اورېدل او منل (یعنې هر وخت).

په تنګ لاسۍ او پراخۍ کې د الله تعالی په لار کې خپل مال لګول.

په نیکیو امر کول او له بدیو څه منع کول.

د الله ﷻ په لاره ثابت درېدل او د هېڅ ملامتوونکي له ملامتۍ څخه نه وېرېدل.

او دا چې کله زه درغلم (مدینې منورې ته)، نو ملاتړ به مې کوئ او لکه څرنګه چې د خپلو ښځو او اولادونو ساتنه کوئ همغسې به زما ساتنه هم کوئ، که داسې مو وکړل جنت به مو ځای وي.

د بیعت کوونکو کلک او قاطع دریځ:

براء بن معرور د رسول الله ﷺ لاس ونیو او ویې ویل: هو! په همدې شروطو درسره بیعت کوم، قسم مې دې په هغه ذات وي چې ته یې په ریښتیا پېغمبر رالېږلی یې، موږ به دې له هغو څېزونو ساتو له کومو چې خپل ځان ساتو، ای د الله ﷻ رسوله! زموږ په بیعت باور ولره، قسم په الله ﷻ چې موږ دېر جنګیالي، تورزن او مېړني خلک یو او داکار راته له پلرونو او نیکونو څخه په میراث پاتې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیعت کوونکو شرطونه:

براء بن معرورﷺ د رسول اللهﷺ سره خبرې کولې چې ابوالهیثم په خبرو کې ورګډ شو او ویې ویل: ای د خدایﷻ رسوله! زموږ او د دې خلکو (یهودیانو) ترمنځ اړیکې دي، موږ اوس له دوی سره اړیکې پرې کوو، هسې نه چې نن موږ داکار وکړو او سبا چې اللهﷻ تاته بری درکړي، نو ته موږ پرېږدې او خپل قوم ته ولاړ شی؟

د اللهﷻ رسول تبسم وکړ او ویې فرمایل: وینه د وینې لپاره توئېږي او اړیکې د اړیکو په بدل کې پرې کېږي، زه ستاسو یم او تاسې زما یئ، د هغو سره به جنګېږم چې تاسې ورسره په جګړه کې یئ او له هغو سره به روغه کوم چې تاسې ورسره روغه کول غواړئ.

وروسته له دې چې د بیعت کار بشپړ شو، نو رسول اللهﷺ د خلکو څخه غوښتنه وکړه چې له خپل منځ څخه دولس تنه نقیبان (نماینده ګان) وټاکي، ترڅو د خپل قوم او د ټرون د موادو د عملي کېدو څارنه وکړي، هغوی خپل دولس تنه مشران معرفي کړل چې نهه تنه یې د خزرج له قبیلې او درې تنه یې د اوس له قبیلې څخه وو.

فعالیت

د لومړني او دویم بیعت ترمنځ څه توپیر و؟ څرګند یې کړئ.

د دې لوست ګټې:

۱ـ مشران باید په هره پرېکړه کې د نمایندګانو نظر او موافقه واخلي.

۲ - لاربښود باید غیرتمن وي او له خپلو خلکو سره یې ریښتوني واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

د دې لوست څخه که نورې ګټې اخیستلی شئ، څرګندې یې کړئ.

ارزونه

الف: لاندینیو پوښتو ته ځوابونه ورکړئ.

۱ـ د عقبې دویم بیعت په کوم کال ترسره شو؟

۲ـ د عقبې دویم بیعت کې د بیعت کوونکو شمېر څو تنو ته رسېده؟

۳ـ د بیعت بندونه بیان کړئ.

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلماتو ډک کړئ.

۱ـ د یثرب د مشرکانو سره څه دپاسه ( ) مسلمانان هم حج ته راغلل.

۲ـ د نمایندګانو له ډلې څه نهه تنه ( ) او درې تنه ( ) و.

ج: د صحیح عبارت په وړاندې د (✓) نښه او د غلط عبارت په وړاندې د (✗) نښه ولیکئ.

۱ـ د عقبې دویم بیعت د بعثت په څوارلسم کال ترسره شو. ( )

۲ـ د عقبې په دویم بیعت کې د رسول الله ﷺ تره عباس هم برخه درلوده. ( )

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د ښوونځي کتابتون ته ولاړ شي او د سیرت نبی ﷺ د کتابونو په اړه دې یو لیست جوړ کړي چې لږ تر لږه شپږ کتابونه د مولفینو د لنډې پیژندنې سره یې په کې ځای پرځای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم تور تم او تیارې دي

عَنْ عَبْد اللَّه بْن عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.) متفق عليه

د راوي پيژندنه:

په شپږم لوست کې يې پېژندنه وشوه.

د کلماتو معنا:

۱ – الظُّلْمُ: جفا او له حد څخه تېرېدل.

۲ – ظُلُمَاتٌ: تيارې، مراد ورځخه تشويشونه او سختۍ دي.

د حديث شريف معنا:

له عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (ظلم د قيامت د ورځې تيارې دي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف حكمت:

ظلم د سختيو، دښمنيو، كينې او انتقام اخيستلو لامل گرځي، چې د خلكو آرامي او اطمينان له منځه وړي، نو لازمه ده چې د هر ډول ظلم مخه ونيول شي، او ظالم انسان د ټولو عذابونو څخه د سخت عذاب مستحق گرځي.

د حديث شريف گټې:

۱-د ظلم حرمت: د خلكو په ځان، مال او آبرو باندې ظلم او تېرى كول حرام او لويه گناه ده.

۲-ظالم به د قيامت په ورځ د خپل ظلم سزا خامخا وينې: الله تعالى هغه انسان نه بښي چې د نورو خلكو پر حقوقو تېرى كوي، خو كه چيرى د خلكو حقونه خاوندانو ته وسپاري او هغوى ده ته بښنه وكړي، هيله ده چې الله تعالى يې وبښي، لدې څخه پرته به ظالم د قيامت په ورځ د خپل ظلم سزا ارو مرو وينې.

ارزونه

۱- پورتنى حديث شريف معنا كړئ.

۲- د پورتني حديث شريف د راوي په هكله څرگندونه وكړئ.

۳- د پورتني حديث شريف گټې وواياست.

كورنى دنده

۱- د ظلم د نړوونكو تاثيراتو په اړه يوه مقاله وليكئ.

۲- د حديث شريف دغه برخه يادكړئ. (الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نرم خوی فضیلت

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهَا قالت : (كُنْتُ عَلَى بَعِيرٍ صَعْبٍ فَجَعَلْتُ أَضْرِبُهُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ فَإِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ.) رواه احمد

د راوي پیژندنه:

نوم يې حضرت عايشه رضي الله عنها د حضرت ابوبکر صديقؓ لور او د پيغمبرﷺ ميرمن او د مسلمانانو مور ده د هجرت په دويم کال پيغمبرﷺ ور سره نکاح وکړه خورا فقيهه او عالمه وه په ځانګړي ډول د پيغمبرﷺ د ژوندانه له جزئياتو څخه يې پوره آګاهي درلوده، له پيغمبرﷺ څخه يې زيات شمېر احاديث روايت کړي دي او د هجرت په ۵۸ کال وفات شوه.

د کلماتو معنا:

۱. بَعِيرٍ صَعْبٍ: شوخ اوښ

۲. فَجَعَلْتُ أَضْرِبُهُ : د هغه په وهلو مې پيل وکړ.

۳. عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ: پر تا لازم دی تر څو نرمي او لطف وکړې.

د حديث شريف معنا:

له حضرت عايشې صديقې(رضی الله عنها) څخه روايت دی چې زه يوه ورځ په شوخ او نا‌أرامه اوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپره وم، او ما د هغه اوښ په وهلو پيل وکړ تر څو هغه اوښ آرامه شي، پيغمبرﷺ راته وويل: پر تا لازم دي چې د دې اوښ سره د نرمۍ او لطف څخه کار واخلې، ځکه چې هر کار په نرمۍ او لطف سره ښائسته کېږي او هر کار چې نرمي او لطف پکې نه وي ښه نه ښکاري او پای يې ناوړه وي.

د حديث شريف حکمت:

سختي او تېزي د ټولو ظلمونو، دښمنيو، جګړو او خفګانونو اساس دی، مګر نرمي او لطف هېڅکله هم د داسې ستونزو لامل نه ګرځي، بلکې انسان کولی شي په نرمۍ او لطف سره ټولې ستونزې له منځه يوسي، په همدې بناء پيغمبرﷺ په نرمۍ، لطف او شفقت امر کړی دی.

د حديث شريف ګټې:

۱. په وينا او کړنو کې نرمي: انسان بايد په خپلو خبرو کې محتاط اوسي او کوښښ وکړي چې مهرباني، شفقت او نرمې خبرې خپل عادت وګرځوي تر څو الله تعالی او د هغه بندګان ورسره محبت وکړي. په يو بل حديث شريف کې راغلي دي: ((نرمي او مهرباني د الله تعالی صفت دی او هغه نرمي او مهرباني خوښوي)).

۲. پر حيواناتو نرمي او شفقت کول: پر ټولو ژوندیو ژوو شفقت او مهرباني کول لازم دي، آن تر دې چې د هغه سرغړوونکي حيوان سره چې د خطر وېره تري هم کېږي بايد په نرمۍ چلن وشي.

۳. له قهر، غوسې او بدخويۍ څخه ځان ژغورل: د قهر او بدخويۍ په حالت کې انسان خپل اعصاب له لاسه ورکوي او کله نا کله ډېر خطرناک او ناوړه کارونه ورڅخه ترسره کېږي، چې بيا ورباندې پښېمانه وي. ډېر وختونه سختي او بد خويي په مقابل لوري کې هم سختي پيدا کوي او د دې کار پايلې داسې اندازې ته ورسېږي چې يو لوری هم ورباندې خوښ نه وي. په همدې اساس په کار ده چې سختي او بد خويي پرېږدو او خپل ځانونه په لطف، مهربانۍ او حوصلې عادت کړو، تر دې پورې چې د سختۍ په مقابل کې د حوصلې او نرمۍ څخه کار واخلو.

٤. د نرمۍ او مهربانۍ له کبله هر کار ښائسته کېږي: انسان کولای شي چې د نرمۍ او لطف نتيجه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو سترګو وويني هغه داسې چې په لطف او مهربانۍ سره هر کار ښائسته او په ډېره غوره اوسمه توګه سرته رسېږي.

ارزونه

۱. لاندې عبارتونه ترجمه کړئ:

بَعيرٍ صَعْبٍ: فَإِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ:

۲. د حديث شريف اجمالي معنا بيان کړئ.

۳. د حديث شريف ګټې بيان کړئ.

کورنۍ دنده

۱. لاندې عبارتونه له معنا سره حفظ کړئ:

عَلَيْكَ بِالرِّفْقِ فَإِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ

۲. د لوست د حديث شريف په اړه يوه مقاله وليکئ او د خپلې مقالې له پاره يو مناسب عنوان وټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زغم او حوصله

عَن أبِي هُرَيرَة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: (لَيسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرعَةِ إنَّمَا الشَّدِيدُ اَلَّذِي يَملِكُ نَفسَهُ عِندَ الغَضَبِ.) متفق عليه

د راوي پيژندنه:

دغه راوي په دريم لوست کې معرفي شوی دی.

د کلماتو معنا:

الشَّدِيدُ :	قوي او پهلوان.
بالصُّرعَة:	د مقابل لوري په ځملولو.
اَلَّذِي يَملِكُ نَفسَهُ:	هغه کس چې ځان په کنترول کې ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف معنا :

له حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې پيغمبر ﷺ وفرمايل: هغه څوک قوي نه دی چې په پهلوانۍ کې خپل مقابل لوری څملوي بلکې ربښتنی قوي هغه څوک دی چې د غوسې پر مهال ځان کنترول کړي.

د حديث شريف حکمت:

د انسان له بدو خصلتونو څخه يو غوسه ده چې د غوسه کوونکي په اخلاقي کمزورتيا او ناوړه تربيت دلالت کوي او خورا بدې پايلې لري ځکه چې انسان د غوسې په وخت کې ځان نشي کنترولولای او خپل اعصاب له لاسه ورکوي او په ډېرو وختونو کې د خپل غچ اخيستلو په فکر کې وي او خپل خير او زيان په نظر کې نه نيسي چې په پايله کې نه جبرانېدونکي کارونه ورڅخه تر سره کېږي. له همدې امله پيغمبر ﷺ انسانانو ته داسې لارښوونه کوي چې د غوسې په حالاتو کې هم په خپل ځان کنترول ولري او د غچ اخيستلو او زور أزمايښې په فکر کې ونه اوسي.

د حديث شريف گټې:

۱. قوي او پهلوان هغه کس دی چې حوصله ولري: د قهرمانۍ او پهلوانۍ لقب له هغه چا سره ښايي چې د غوسې په وخت پر خپل ځان کنترول او واک ولري او داسې څه ورڅخه ترسره نه شي چې د هوښياری او عقل څخه ليرې وي اوپه راتلونکي کې د خفګان او پښېمانۍ لامل وګرځي.

۲. د غوسې پر وخت بايد حوصله ولرو: څرنګه چې د هر انسان غوښتنه وي چې د غوسې پر وخت خپل ځان پهلوان ښکاره کړي او د مقابل لوري د څملولو په فکر کې وي تر څو د زور ازمايلو له لارې خپل هدف ته ورسېږي او خپل حق تر لاسه کړي مګر د الله تعالی پيغمبر ﷺ دغه عمل ناسم بولي او توصيه کوي چې زور ازمايل په حوصله او صبر کې دی.

۳. په خلکو کې د پيغمبر ﷺ د دې پيغام خپرول: پر خپل ځان باندې د دې حديث شريف په تطبيقولو دې بسنه ونه شي، بلکې لازمه ده چې نور خلک هم له دې پيغام څخه خبر کړل شي په ځانګړي ډول هغه څوک چې د انتقام او غچ اخيستلو، او زور ازمايلو په فکر کې وي، او د دې امکان هم وي چې پر نورو خلکو ظلم او تيری وکړي. بناءً لازمه ده چې هغوی په ښه او غوره طريقه لدې حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریف څخه خبر کړل شي، ځکه د ضرورت پر وخت د علم پټول ستره ګناه ده.

٤ .په صبر او حوصلې سره د انسان حقوق له منځه نه ځي: د قهر او غوسې په حالت کې زیات انسانان یوه لاره نیسي چې ښې پایلې نه لري، مګر د حوصلې له برکته انسان ته ټولې لارې خلاصې وي، او کولای شي چې په ژور فکر، دقت او تدبیر سره داسې لار غوره کړي چې د ټولو پکې خیر وي او هیڅ ډول نقصان او پښېمانتیا ونه لري.

ارزونه

۱. د لوست حدیث معنا کړئ

۲. لاندې عبارتونه بشپړ او پوره کړئ:

لَيسَ الشَّديدُ بِ..... إنَّمَا الشَّديدُ الَّذي ..... نَفسَهُ عِندَ الغَضَبِ.

۳. د حدیث شریف ګټې وواياست.

کورنی دنده

۱. د لوست حدیث شریف حفظ کړئ.

۲. د لوست د حدیث شریف د موضوع په اړوند یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بد خويونه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا.) متفق عليه

د راوي پيژندنه:

راوي په تېرو لوستونو کې پيژندل شوی دی.

د کلماتو معنا:

١. إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ: له بدګومان څخه ځانونه وساتئ

٢. لَا تَحَسَّسُوا: د نورو د بدو عملونو پلټنه مه کوئ.

٣. لَا تَجَسَّسُوا: د خلکو عيبونه مه څيړئ

٤. لَا تَنَاجَشُوا: د توکو نرخ مه لوړوئ. پدې ډول چې خپله يې نه اخلي

٥. لَا تَحَاسَدُوا: يوله بل سره حسد مه کوئ.

٦. لَا تَبَاغَضُوا: يو له بل سره کينه مه کوئ

٧. لَا تَدَابَرُوا: يو له بل سره دښمني مه کوئ او اړيکي مه پرې کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث شريف معنا:

له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلي الله عليه وسلم وفرمايل: يو پربل بدګماني مه کوئ ځکه چې بدګماني لوی دروغ دی د يو او بل کمزوري مه بيانوئ، عيبونه يې مه رابرسيره کوئ او په نرخ کې دوکه مه کوئ او يو له بل سره حسد، کينه او دښمني مه کوئ. اي د الله بنده ګانو پخپلو کې سره وروڼه شئ.

د حديث شريف حکمت:

بدګوماني، د عيبونو لټول، کينه او بغض ساتل، مقاطعه او دښمني کول او نورو ته دوکه ورکول هغه ناوړه خويونه دي چې د وګړو د بدنامۍ لامل ګرځي او د ټولنې وګړي په بې ځايه ويناو او کړنو مصروفوي، کله ناکله خبره دومره سختو دښمنيو ته ورسېږي چې فيصله کول يې هم ناشوني وي.

د حديث شريف ګټې:

۱. بدګوماني حرامه ده: بې له کوم دليله پر چا بدګومانه کېدل حرام دي، کله داسې هم کيږي چې د يو چا پورې تهمت وترل شي چې دا يو ناروا او حرام کار دی.

په اصل کې هر انسان عادل او پاک دی او بدي يو عارضي شی دی، چې په انسان کې پيدا کېږي، بايد هر انسان ته د خپل اصليت په نظر وکتل شي او تر څو پورې چې د يو انسان بدي د دلائلو او علامو په رڼا کې څرګند نشي هغه يو پاک او عادل شخصيت دی او هېڅوک دا حق نه لري چې په خپلو اټکلونو، تشو ګومانونو او بې ځايه آوازو د چا په حق کې د بدۍ قضاوت او فيصله وکړي.

په خپلو منځونو کې د بدګومانيو د ضررونو او ورځخه د خلاصون د لارو چارو په هکله بحث وکړئ.

۲. تحسس او د نورو د ښو او بدو پلټل ښه کار ندی:

تحسس د خلکو د پټو رازونو پلټلو ته وايي، محسس انسان هغه چا ته وايي چې شپه او ورځ په دې لټه کې وي تر څو د خلکو د کورونو له پټو رازونو او پټو کړو وړو څخه ځان خبر کړي، او بيا خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلي او اورېدلي معلومات نورو ته بیان کړي.

۳.تجسس هم ناروا عمل دی:

تجسس د خلکو تر منځ د پټو رازونو را ټولو ته وایي، تر څو نورو ته ورسول شي، تجسس د مجلسونو مصئوونیت له منځه وړي انسانان دې ته اړ کوي چې ځینې ویناوې او جایزې کړنې (په ځانګړي ډول دکور داخلي کارونه) د خاصو خلکو او مجلسونو د غړو تر منځ (پټ وساتي) نو داسې ډول معلومات راټولول حرام عمل دی، لازم دي چې د داسې کار څخه ځان وساتل شي. البته د دولت د کشفي او استخباراتي شبکو له لوري د دښمنانو د دسیسو او پلانونو تعقیبول تر څو د مجرمینو او د هغوی د طرحو مخه ونیسي، همدا راز د اداري فساد، ټولنیزو او اخلاقي فسادونو څخه ځان خبرول د دې حدیث د حکم څخه مستثنی دي، بلکې په ټولنه کې ځینې وخت د داسې کارونو ترسره کول فرض کفایي حسابېږي، چې د دې څخه سربېره ټولنه د لوی فساد په لمن کې لوېږي.

٤.تناجش حرام کار دی:

تناجش ډېر د مزایدې په بیعه کې منځ ته راځي، او هغه داسې وي چې د بازار د جنسونو د یو جنس د قېمت د اوچتولو په غرض یو کس د بل کس سره پدې خبره اتفاق وکړي چې د پېرودونکي په وړاندې به یو کس د پېرودونکي او بل د پلورونکي نقش اداء کړي، او پېرودونکی به د دې لپاره چې نورو ته دوکه ورکړي یو جنس په ډېر اوچت قېمت ورځخه واخلي، چې دا کار له یوه پلوه فرېب او دوکه ده او له بل پلوه د یو څو دوکه بازو په وسیله د اجناسو د قېمتونو لوړول ټولې ټولنې ته ضرر رسول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د نجش ((مزایدې بیعه)) تمثیل کړي.

ارزونه

۱. د لوست د حدیث شریف معنا بیان کړئ.

۲. لاندې کلمې معنا کړئ:

إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ: لَا تَحَسَّسُوا: لَا تَدَابَرُوا:

۳- د پورتنۍ حدیث شریف ګټې په لنډ ډول بیان کړئ.

کورنۍ دنده

لاندې عبارتونه حفظ کړئ:

۱. إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ .

۲. لَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخکې لوست د حدیث شریف پاتې برخه

٤- یو له بل سره کینه او حسد کول جواز نه لري:

په تېرو لوستونو کې مو د دې موضوع په اړه مفصل معلومات تر لاسه کړي دي.

٥- کینه او بغض حرام دي:

کینه او بغض دوستي او ملګرتیا له منځه وړي، د خلکو تر منځ اړیکې پرې کوي، د جګړو او اختلافاتو لامل ګرځي، له همدې امله د اسلام مقدس دین بغض او هغه څه چې د بغض لامل ګرځي حرام ګرځولي دي.

فعالیت

حسد تعریف، او د غبطې سره څه توپیر لري؟ بیان یې کړئ.

٦- د اړیکو پرې کول او یو له بل سره دښمني کول حرام کارونه دي: دا چې اسلام سوله ایز ژوند، او د ټولنیزو اړیکو ټینګښت ته ځانګړې پاملرنه کوي له دې امله د اړیکو پرې کول او دښمني کول د اسلام له روحیې سره مخالف کارونه دي.

په یو بل حدیث شریف کې چې بخاري او مسلم روایت کړی دی راغلي دي: (د یو مسلمان لپاره دا روا نه دي چې د بل مسلمان سره له دریو ورځو څخه زیاته مقاطعه وکړي، کله چې له یو بل سره مخامخ شي نو یو له بل څخه مخ اړوي، په دوی کې غوره هغه څوک دی چې پر بل باندې د سلام په اوچولو کې لومړیتوب وکړي).

له بل پلوه له یو چا سره د خبرو نه کول مغرضو او فاسدو خلکو ته د دې زمینه برابروي چې له یو چا څخه بل چا ته تحریف شوې خبرې ورسوي، چې بالاخره خبره لویې دښمنۍ ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷-د الله تعالی بندګي:
انسانان باید عاجز او متواضع وي، او دا سوچ وکړي چې که هر څومره د قدرت، لوړ مقام او ډېرې پانګې خاوند وي بیا هم د الله تعالی عاجز بنده دی، نو په کار نده چې د الله تعالی له حکمونو څخه سرغړونه وکړي.
۸-د وروروليِ ژوند:
په کار ده چې د مسلمانانو تر منځ د وروروليِ اړیکې ټینګې او را ژوندی کړای شي چې د وروروليِ څخه هدف همغه نږدې همدردي، خیر غوښتل او زړه خوږی وي لکه د یو بدن د اعضاؤ په څېر چې د یوې عضوې په درد سره ټولې اعضاوې د نا أرامیِ احساس کوي او د هغې په راحت سره ټولې اعضاوې د راحت احساس کوي.

ارزونه

۱. لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:
إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ ..... أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا ..... وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا ..... وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا.
۲. د حدیث شریف کوم عبارت د بغض په حرمت دلالت کوي؟
۳. د حدیث شریف کوم عبارت د مقاطعې په حرمت دلالت کوي؟
٤. د حدیث شریف کوم عبارت د بدګومانیِ په حرمت دلالت کوي؟

کورنۍ دنده

۱. لاندې عبارتونه حفظ کړئ:
لَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا
وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا.
۲. د یو مناسب عنوان لاندې د لوست د حدیث شریف په اړه یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېشه يي توکي

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ((كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ)) رواه ابن ماجة.

د راوي پيژندنه:

په دويم لوست کې يې پېژندنه وشوه.

د کلماتو معنا:

مَا أَسْكَرَ:	کوم شي چې نيشه راولي
كَثِيرُهُ:	ډير يې
قَلِيلُهُ:	لږ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حديث معنا:

له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې پيغمبرﷺ وفرمايل: هر هغه څه چې مستي او نښه راولي حرام دي او هر هغه څه چې زيات يې نيشه راولي لږه اندازه يې هم حرامه ده.

د حديث شريف حكمت:

نيشه يي توكي وګړي او ټولنه له خورا سختو زيانونو سره مخ كوي: لكه ديني زيانونه، روغتيايي زيانونه، ټولنيز زيانونه، اقتصادي زيانونه، سياسي زيانونه، امنيتي زيانونه، روحي زيانونه او داسې نور.

په همدې اساس په سالمه ټولنه كې بايد د نښه يي توكو د استعمال څخه په كلكه ډډه وشي.

د نيشه اي توكو تعريف:

نيشه يي توكي هغه توكي دي چې متداوم استعمال يې د مركزي اعصابو د فعاليت سيستم ته تغير وركوي او زيات استعمال يې د بدني او روحي روږدوالي لامل ګرځي.

د نيشه اي توكو ډولونه:

نيشه اي توكي هم په طبعي توګه وجود لري لكه اپين چې د كوكنارو له بوټو څخه لاس ته راځي او هم په مصنوعي او كيمياوي ډول چې په لابراتوارونو كې جوړيږي لكه هيرويين، مورفين، كوكائين، كودين او داسې نور.

د نيشه اي توكو ضررونه:

د نيشه يي توكو استعمال ډير جسمي اوروحي زيانونه لري لاندې يې بيانوو.

١. د بدن د دفاعي سيستم كمزوري كول.
٢. د مركزي اعصابو د فعاليت سستول.
٣. د زړه د ټكان زياتوالی .
٤. د ستوني او بلډډو سرطان
٥. د ليدكمزوري كول.
٦. د وينې د فشار لوړول.
٧. په وينه كې د غوړوالي زياتوالی.
٨. د زړه درېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹. د تنفسي سيستم خرابيدل.

۱۰. روحي تشويشونه لکه (خفګان، اضطراب، ځانته ناستی، په ځان باندې بې باوري او ناامیدي) پیداکول.

ارزونه

۱. د حدیث شریف معنا واضح کړئ.

۲. د نیشه یي توکو مهم ضررونه بیان کړي.

۳. لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:

((كُلُّ مُسْكِرٍ .....))

((مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فـــ..... حَرَامٌ))

کورنۍ دنده

حدیث شریف له معنی سره حفظ کړئ.

د نیشه اي توکو د اضرارو په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له شپږو کرښو څخه کمه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاسده بيعه

په نولسم لوست کې مو باطله بيعه وپيژندله،اوس غواړو چې په فاسده بيعه وپوهيږو.

د فاسد تعريف:

فاسد په لغت کې: د صالح ضد دی يعنی نا سم.

اوپه اصطلاح کې: فاسده بيعه هغه ده چې په اصل کې مشروع او روا وي، خو د صفت له مخې صحيحه نه وي، يعنې د انعقاد شرطونه يې موجود وي، خو د صحت له شرطونو څخه پکې کوم شرط مختل شوی وي.

مثلا په بيعه کې داسې شرط کيښودل شي چې عقد د هغه تقاضا نه کوي او ورسره موافق نه وي، لکه په دې شرط د يو کور خرڅول چې په کرايه به يې نه ورکوي.[٥٠]

حکم يې:

مبيعه او مال په قبض کولو سره ملک ګرځي، تصرف په کې نافذ دی، خو هر يو د متعاقدينو کولای شي چې بيعه فسخه کړي او اخيستی مال بيرته رد کړي، ترڅو فساد له منځه ولاړ او د شخړومخه ونيول شي.[٥١]

د فاسدې بيعې ځينې احکام:

•په فاسده بيعه کې يواځې د عقد په کولوسره ملک نه ثابتيږي ترڅوچې له عقد سره سم د بايع په اجازه قبض شوی نه وي.

•که چيرې په فاسده بيعه کې بايع مشتري ته مبيعه تسليم کړي، او په عقد کې دواړه عوضه (مبيعه او ثمن) مال وي، پدې صورت کې مشتري د مبيعې مالک ګرځي، او بايع د ثمن مالک ګرځي.[٥٢]

٥٠ - البحر الرائق (ج ١٦ / ص ٢٩)- مجمع الانهر - (ج ٥ / ص ٢٤٠)- رد المحتار - (ج ٢٠ / ص ١٠٠)

٥١ - الجوهرة النيرة:١/ ٢٩٣

٥٢ - الجوهرة النيرة - (٢ / ٢٦٩)- العناية شرح الهداية - (٩ / ١٨٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱- فاسده بیعه **لغةً** او اصطلاحاً تعریف کړئ؟

۲- د فاسدې بیعې حکم څه دی؟

کورنۍ دنده

د باطلې او فاسدې بیعې تر مینځ توپیر څه دی؟ په کتابچو کې یې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکروه بیعه

له منعه شویو بیعو څخه مو باطله او فاسده بیعه وپیژندله،اوس غواړو چې په مکروه بیعه وپوهیږو.[۵۳]

د مکروه بیعې تعریف:

مکروه په لغت کې: د محبوب ضد دی ، یعنې بدګڼل شوی.

او شرعاً: هغه بیعه ده چې اصلا او وصفاً روا وي، خو د یوه بل شی له کبله ورڅخه د ډډې کولو حکم شوی وي، لکه د جمعې د آذان په وخت کې اخیستل او خرڅول.[۵۴]

حکم یې:

په مکروه بیعه کې له قبض څخه مخکې ملکیت ثابتیږي او دقیمت ورکول واجبیږي.[۵۵]

د مکروه بیعې مهم ډولونه:

۱. نجش:

نجش په لغت کې: د جال لورته د مرغانو هی کولو ته وایې.

او د شریعت په اصطلاح کې: د دریمګړي له لورې د مال قیمت لوړول، پداسې حال کې چې پخپله یې اخیستونکی نه وي، بلکې یواځې د نورو د هڅولو لپاره یې قیمت لوړول غواړي، نجش بلل کیږي.[۵۶]

ددې بیعې حکم: دا بیعه مکروه بیعه ده. ځکه دا د یو مسلمان ورور د ضررلپاره یوه حیله جوړول دي، له دې امله شریعت ورڅخه منعه کړیده.

۲. د ورور په بیعه باندې بیعه کول:

ددې صورت داسې دی چې دوه کسان (بایع اومشتري) دیوې سلعې (سامان) په بیعه کولو لګیا وي، بایع خپل شی قیمت کړي ، په دې وخت کې بل مشتري راشي او ددوی په بیعه کې ځان ورګډ کړي، او هغه شی له بایع څخه یا په زیات قیمت او یا په هغو یادوشویو ثمنو واخلي.

۵۳- د امام صاحب رح په وړاندې تحریمی مکروه : هغه ده چې په ظنی دلیل چې شبهه پکې موجوده او ثابته وي، او حرامو ته ورنزدې وي. (فتح القدیر: ۵/ ۲۳۹، والبحر الرائق (ج۱۶/ص۳۰)، وتبیین الحقائق(ج۱۰/ ص۴۲۳).

۵۴ - رد المحتار - (ج ۱۹ / ص ۲۰۶)

۵۵ - الهدایة(حاشیة) (۱۹). ۵۶ - بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع - (ج ۱۱ / ص ۴۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې بيعې حکم: دغه بيعه مکروه ده، ځکه له رسول الله ﷺ فرمايي: (دا پکار نه ده چې يو مسلمان د خپل ورور په بيعه کې دځان لپاره ورګډ شي). او دا ځکه چې په دې بيعه کې بل مسلمان ورور ته اذيت او ضرر رسېږي. [۵۷]

۳. د قافلې مخې ته ورتګ:

صورت يې دادی چې يوځوک د داسې قافلې په راتګ خبر شي چې ډير سامان (لکه غنم) يې را بارکړي وي، او يو سړی ورشي او ټول هغه څه ورڅخه واخلي چې قافلې راوړي وي، او بيا يې بنار ته راوړي او د خپلې خوښې د قيمت مطابق يې خرڅوي. او يا دا چې بنارې سړی صحرايي ته ووايي: مال دې زما سره کيږده، په مناسب وخت کې به يې په بنارياتو درته په لوړ قيمت خرڅ کړم.

د دې بيعې حکم: دغه اخيستل مکروه دي، ځکه د يوه روايت له مخې رسول الله ﷺ فرمايي: (تاسو د قافلې مخې ته د تجارت لپاره مه ورځئ) {صحيح البخاری ۵/ ۳۶۷}، دغسې کول هلته مکروه دي چې د منطقې اوسيدونکي په قحطي اوتنګ لاسي کي وي او داکار ورته ضرر رسوي، او که يې ضرر ورته نه رساوه بياګناه نلري. [۵۸]

۴. د جمعې د آذان په وخت کې بيعه کول:

د بيعې مکروهه وخت د جمعې د آذان څخه پيل کيږي: الله تعالی فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ } . " ای مؤمنانو ! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره آذان وشي نو د الله د ذکر خواته وغځئ، اخيستل او خرڅول پريږدئ".

د دې بيعې حکم: دغه بيعه مکروه ده، ځکه لدې سره غيرمشروع شی څيرمه شوی دی چې هغه د جمعې د لمانځه او يا د خطبې نه پاتې کيدل دي.

پدې ټولو صورتونوکې بيعه مکروه ده خوعقد اوترون ورباندې نه فاسديږي.

فعاليت

ذکر شوی بيعې شرعا مکروه دي، حکمت يې ووايست چې ولې مکروه ګرځول شوې دي؟

۵۷ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۱ / ص ۴۹۰)
۵۸ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۱ / ص ۴۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزونه

آ- لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱ - مکروه بیعه تعریف کړئ.

۲ - د مکروه بیعې حکم څه دی؟

۳ - په لنډه توګه د مکروه بیعې مهم ډولونه وښایاست.

ب- د لاندې صحیحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کیږدئ:

۱. د نجش حکم: نجش بیعه مکروه ده ( ).

۲. د جمعې د آذان په وخت کې بیعه مکروه نه ده ( ).

۳. د مکروهاتو سره عقد نه فاسدیږي ( ).

کورنۍ دنده

د مکروهه بیعو په هکله یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څلوېښتم لوست

اقاله

محمود له يوه دكان څخه يوه جامه واخيستله، چې كله خپل كورته ولاړ د جامې په اخيستلو پښيمانه شو، نو پلورنكي ته راغې او ورڅخه يې وغوښتل چې جامه بيرته واخلي او ده ته خپلې پيسې ورکړي، د دكان خاوند دا وړاندیز قبول کړ خپله جامه يې واخيسته او ده ته يې خپلې پيسې ورکړې .

د اقالې تعريف:

اقاله په لغت کې: پورته کولو، اولړې کولو ته وايي.[٦٠]

او په اصطلاح کې: د متعاقدينو په خوښه د بيعې له مينځه وړلو ته اقاله ويل کيږي.[٦١]

د اقالې د روا والي حكمت:

اقاله د دې لپاره روا شوې ده، ترڅو د خلکو لپاره آسانتيا رامنځ ته شي، ځکه کله داسې پيښيږي چې يوسړی په پيسو يو څه واخلي او بيا وګوري چې دی پيسو ته اړتيا لري، او کله يو شی خرڅ کړي بيا وګوري چې دې هغه شي ته اړتيا لري، او په بيعه پښيمانه شي، نو اسلامي شريعت د اقالې اجازه ورکړې ده، اود عقد مقابل لوری يې دې خبرې ته تشويق کړی دی چې هغه قبوله کړي.

د اقالې حكم:

په بيعه کې اقاله جائزه ده، ځکه له رسول الله ﷺ څخه روايت دی فرمايي: { مَنْ اَقَالَ نادماً، اَقَالَهُ اَللّٰهُ عَثْرَتَهُ }[٦٢] . (څوک چې له يوه پښيمانه انسان سره اقاله وکړي, بيعه له مينځه يوسي الله تعالى به يې ګناوې له منځه يوسي).

او بل دا چې د بيعې عقد کول د دواړو اړخونو (بايع او مشتري) حق دی، نو د دې حق هم لري چې هغه له مينځه يوسي.[٦٣]

د اقالې شرطونه:

١- په اقالې کې بايد دواړه اړخه راضي اوخوښ وي.

٢- مبيعه بايد داقالې په وخت کې موجوده وي، ځکه اقاله د عقد لرې کول دي، محل اوځای يې مبيعه ده.

٦٠ - فتح القدير - (ج ١٥ / ص ٢٠٢).

٦١ - تبيين الحقائق: ١١\ ٦٥.

٦٢ - رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ، وَالْحَاكِمُ .

٦٣ - رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَصَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ، وَالْحَاكِمُ (٢- العنايه : ٩\ ٢٢٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

احمد په سلو افغانیو له محمود څخه د چای یو ترموز واخیست، له اخیستلو وروسته محمود پښیمانه شو، او له احمد څخه يې وغوښتل چې خپل مال يې بيرته ورکړي ، احمد ومنله خو لس افغانۍ ګټه يې هم ورڅخه واخيسته، اوس ووایاست چې دغه معامله اقاله ده او که نه؟

د دې باب اړوند مسائل:

۱. اقاله ګول د فسخې په معنا ده، مګر دا چې فسخه کول متعذر او ناشوني شي، او هغه دا چې په مبيعه کې له قبض څخه وروسته جلا زيات والی راشي(لکه کوم څاروی چې بچې وزيږوي).

۲. که چيرې تر لومړنيو ثمنو په زيات قيمت اقاله وکړي، اويا د لومړني ثمنو د جنس په خلاف اقاله وکړي، پدې صورتونو کې دا عقد اقاله نه بلکه له سره نوې بيعه ده.

۳. د ثمنو ضايع کيدل او له مينځه تلل د اقالې کولو د صحت مانع نه ګرځي، خو د مبيعې هلا کيدل او له منځه تلل د اقالې د صحت مانع ګرځي.

ارزونه

آ- لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ:

۱. د(مَنْ اَقَالَ نادماً، اَقَالَهُ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ) معنی بيان کړئ.

۲. د اقالې د رواوالي حکمت او ګټه څه ده؟

۳. د اقالې حکم څه دی؟

ب. لاندی تش ځايونه ډک کړئ:

اقاله په لغت کې: .....ته وايي.

او په شريعت کې: ..... .

ج. د لاندې صحيحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کيږدئ:

۱. دا شرط نه دی چې د اقالې دواړه اړخه به په اقاله کولو راضی او خوښ وي ( ).

۲. دا شرط نه دی چې مبيعه دې د اقالې په وخت کې موجوده وي ( ).

کورنۍ دنده

رسول الله(ص) فرمايي: :«مَنْ اَقَالَ نادماً، اَقَالَهُ اللّٰهُ عَثْرَتَهُ» دغه حديث شريف په خپلو کتابچو کې شرح کړئ؟

۶۴ - الفقه الاسلامي وادلته - (ج ۵ / ص ۴۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرابحې بیعه

د مرابحې تعریف:

لغتاً: مرابحه ګټې او ډیروالي ته وایي.

او شرعاً :

په معلومه ګټه باندې د مال خرڅولو ته د مرابحې بیعه ویل کیږي.

ددې بیعې د جواز سبب او حکمت:

ډیر داسې مشتریان شته چې په سوداګرۍ کې مهارت نه لري، او یا د بازار د قیمت څخه خبر نه وي، نو دا خوښوي چې له یو چا څخه په معلومه ګټه یو شی واخلي، مثلا ورته وایي: په سلو کې پنځه افغانۍ ګټه درکوم.

نو په دې طریقه په مطمئنه توګه بیعه کولای شي.

د مرابحې حکم:

د مرابحې د بیعې عقد او ترون شرعاً جایز دی، ځکه د جواز ټول شرطونه پکې شتون لري.

د مرابحې د صحت شرط:

۱. د اخیستلو اصلي قیمت باید معلوم وي.

۲. د ګټې اندازه باید معلومه وي.

د دې باب اړوند احکام:

•په اصلي قیمت باندې د دوبي، رنګ ورکوونکي، طراز (نقش او نګار کوونکي) او مزي (تاوونکي)، او د حمل (بارولو، نقلولو)، او خوراک پیسې ورزیاتیدل جواز لري، خو د خرڅولو په وخت کې به داسې وایې: دا شی په دومره راته تمام شوی دی، او داسې به نه وایې چې ما په دومره اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

•د امام ابوحنيفه(رحمه الله) په وړاندې که چيرې د مرابحې په بيعه کې مشتري په کوم خيانت پوه شو، نو دی اختيارلري که يې خوښه وي په ټولو ثمنودې واخلي، او يا دې بيرته ورکړي.

فعاليت

د مرابحې بيعه په مختلفو صورتونو تمثيل کړئ.

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځواب ووياست:

۱. د مرابحې بيعه تعريف کړئ؟

۲. حکم يې څه دی؟

۳. د مرابحې شرطونه څه دي؟

٤. د مرابحې د بيعې د جواز سبب ذکر کړئ.

٥. د مرابحې دوه حکمونه ذکر کړئ.

کورنی دنده

د مرابحې د بيعې په هکله عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولیې بیعه

په تېر لوست کې مو د مرابحې بیعه وپېژندله چې ګټه پکې کیږي، اوس غواړو چې د تولیې بیعه وپیژنو.

د تولیې تعریف:

تولیه په لغت کې: بل چا ته د ولایت او واک ورکولو ته وایې.

اصطلاحاً: پخپل سر (په اخیستل شوي قیمت) د شی پلورلو ته وایي .

په تولیه کې بایع نه ګټه کوي او نه نقصان.[٦٥]

د تولیې د بیعې د مشروعیت دلیل:

په یو روایت کې راغلي دي چې: ابوبکر رضي الله عنه دوه اوښان واخیستل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل (وَلِّنِي أَحَدَهُمَا) یعنی یو اوښ پخپل سر راکړه یعنې په هغو ثمنو (قیمت) یې راکړه چې تا پرې اخیستی دی.[٦٦]

د تولیې د بیعې د روا والي حکمت:

خلک تولیې ته اړ دي، ځکه په خلکو کې داسې کسان شته چې د شیانو په قیمتونو نه پوهیږي، نو له داسې چا څخه مرسته غواړي چې هغه ورباندې پوهیږي، تر څو په ډاډه زړه بیعه تر سره کړي.[٦٧]

د تولیې د صحت شرطونه:

١- عوض او بدل باید مِثْلِي او یا قِیَمِي وي.

٢- عوض او بدل باید د مشتري مملوک (خپل مال) وي.[٦٨]

فعالیت

د تولیې د بیعې مختلف صورتونه تمثیل کړئ.

٦٥ - رد المحتار - (ج ١٩ / ص ٤٨٤) ٦٦- مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر - (ج ٥ / ص ٣٢٢)

٦٧ - الفقه الحنفي وادلته: ٢- ٥٢ ٦٨- رد المحتار - (ج ١٩ / ص ٤٨٤)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولیه بیعې احکام:

•د امام ابوحنیفه(رحمه الله) په وړاندې، که چیرته اخیستونکی د تولیې په بیعه کې په خیانت خبر شي نو بیا دې په هماغه اندازه له ثمنو څخه (قیمت) کم کړي.

• په تولیه کې موزون او مکیل شیان باید بیا له سره وزن او پیمانه شي، له هغې وروسته دې مشتري ته ورکړل شي، تر څو دواړه طرفه د هغې له اندازې څخه مطمئن شي.[٦٩]

لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

١.د تولیې بیعه تعریف کړئ.

٢.د تولیې بیعې حکم څه دی؟

٣.د تولیې شرطونه کوم دي؟

٤.د تولیې بیعې د مشروعیت دلیل ذکر کړئ.

٥.د تولیې حکمونه ذکر کړئ.

د مرابحې او تولیې فرق په خپلو کتابچو کې ولیکئ؟

٦٩- مختصر القدوري: باب المرابحة والتولية

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربا (سود)

د احمد زوی ډیر سخت مریض شو، د هغه د علاج لپاره دی (۱۰۰۰۰) افغانیو ته اړتیا لري ، محمود ورته وایي: زه به دغه پیسې درکړم، خو یوه میاشت پس به (۱۲۰۰۰) افغانی راکوې، او که را دې نه کړې نو بیا به د هرې میاشتې په تیریدو سره ماته دوه دوه زره افغانی اضافه راکوې. یعنې یو کال پس به احمد د محمود څخه (۳٤۰۰۰) افغانی پوروړی وي.

د ربا تعریف:

ربا په لغت کې: زیاتوالي ته وایي.

او په اصطلاح کې: بې عوضه زیاتوالی ربا بلل کیږي.[۷۰]

د ربا د حرمت دلیل:

الله تعالی ﷻ فرمایی: { وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا }.[۷۱]

ژباړه: او الله تجارت روا، او سود یې ناروا کړی دی.

د ربا(سود) د تحریم حکمت:

په سود کې د بیوزلو او تنګ لاسو د ضعف نه ډیره ناوړه استفاده کیږي، د دې پر ځای چې په دوی باندې ترحم او مهرباني وشي او له دوی سره بډایان مرسته وکړي او یا کم تر کمه هغوی ته قرض حسنه ورکړل شي، د هغوی پاتې جایدادونو او شتمنیو ته یې هم سترګې نیولې وي، او په پای کې یې له هغو نه هم خلاص کړي، اویا داچې ټول عمریې خپل غلام وګرځوي.(دغه حقیقت د جاهلیت په دوره کې وجود درلوده)

د ربا حکم: په شریعت کې ربا (سود) مطلقاً حرام دی.

---

۷۰ -- رد المحتار(ج ۲۰ / ص ۹۸)

۷۱ - [البقرة/ ۲۷۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ربا صورتونه:

۱. کله چې په مال کې د قدر او جنس دواړه صفتونه موجود شي پدې صورت کې هم زیادت په کې حرام دی او هم نسیه، لکه: د (سل ګرامه) طلا تبادله په یو سل او شل ګرامه طلا باندې.

۲. کله چې په مال کې له دې دواړو (قدر یا جنس) صفتونو څخه یو (زائل) شي په هغې کې زیادت روا دی خو نسیه پکې حرامه ده، لکه: د څلورو منو غنمو خرڅول په پنځه منه اوربشو باندې چې دا لاس په لاس روا خو نسیه یې حرامه ده.

فعالیت

که یو څوک د یوه پسه په عوض کې یو پسه او یو وری واخلي، ایا دا سود بلل کېږي؟

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ:

۱. په شریعت کې د ربا (سود) حکم څه دی؟

۲. د ربا اوسود د حرمت حکمت څه دی؟

۳. د ربا څو صورتونه بیان کړئ.

کورنۍ دنده

د ربا او سود د حرمت او ټولنې ته د هغې د ضررونو په هکله یوه مقاله ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرض

رسول الله ﷺ فرمايي: { څوک چې د يو مسلمان د ژوند مشکل ور آسانه کړي الله تعالی به د ده مشکل ور آسانه کړي..... ، او الله تعالی تر هغه د ده مرسته کوونکی دی تر هغه چې دی د خپل ورور مرسته کوي }[۷۲].

د قرض تعريف:

لغةً: غوڅولو او پرې کولو ته وايی، په قرض کې هم يو څوک له خپل مال څخه يوه برخه پرې کوي او بل ته يې ورکوي، قرض ته سَلَف هم وايي.

شرعاً: يوه چاته د مثلي مال ورکول دي چې هغه ګټه ورڅخه واخلي او مثل يې بيرته قرض ورکوونکي ته ورکړي.[۷۳]

د قرض رکن:

رکن يې ايجاب، او قبول دی.

د قرض د مشروعيت دليل: قرض په قرآن، سنت او اجماع ټولو دلائلو باندې ثابت دی.

۱. **د کتاب الله دليل**: الله تعالی فرمايلي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ}[۷۴].

"اي مؤمنانو، کله چې دکومې ټاکلې نيټې له پاره تاسې په خپلو منځوکې دپور معامله کوئ، نو هغه وليکئ".

۲. **د سنت دليل**: رسول الله ﷺ فرمايي: ((هر مسلمان چې بل مسلمان ته دوه ځلې قرض ورکړي خدای به ده ته د يو ځل قرض په اندازه د صدقې کولو اجر ورکوي.))[۷۵]

د دې مبارک حديث مفهوم دادی چې د قرض پنځوس په سلو کې ورته د صدقې په شان محاسبه کيږي.

۳. **د اجماع دليل**: ټول اهل علم د قرض ورکولو په جواز متفق دي.[۷۶]

د قرض د روا والي حکمت:

کله داسې اقتصادي ستونزه انسان ته پېښېږي چې د بل چا نقدي مرستو ته اړ کيږي، او خلک ده

۷۲ - شعب الايمان. بيهقي - (۶ / ۱۰۴). ۷۳- رد المحتار - (ج ۲۰ / ص ۷۴)

۷۴- {البقرة : ۲۸۲}.

۷۵- مسند الصحابة - (۲۶ / ۹۵)، ابن ماجه او ابن حبان يی عبدالله ابن مسعود څخه روايت کړی دی.

۷۶- العناية شرح الهداية - (ج ۹ / ص ۲۸۸)- الفقه الاسلامي وادلته - (ج ۵ / ص ۴۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په وړيا توګه پيسې نه ورکوي، او دی هم د نورو صدقې نه قبلوي، نو يواځينی لاره همدغه ده چې د يوې مودې لپاره د چا نه پور (قرض) واخلي ، او بيا يې بيرته ورکړي.

ځکه خو شريعت قرض رواکړی دی، او خلک يی دې ته هڅولي دي چې محتاجو او اړوکسانو ته قرض ورکړي.

د قرض حکم:

د قرض اخيستونکي ملکيت سمدلاسه په (قرض) اخيستل شوی مال کې ثابتيږي، او د ده په ذمه (په غاړه) سمدلاسه د هغه مثل ثابتيږي، چې بايد قرض ورکوونکي ته يې په راتلونکی کې ورکړي.[۷۷]

د قرض شرطونه:

۱.قرض ورکوونکي ته راجع شرط: دا دی چې قرض ورکوونکی بايد د تبرع (احسان کولو) اهليت ولري، نوکه يو ممیز هلک يو چاته قرض ورکړي دا صحت نه لري ځکه چې شريعت ده ته د داسې تصرف جواز نه دی ورکړی چې په هغه کې د ضرر احتمال وي لکه هبه او داسې نور.[۷۸]

۲.قرض (قرض ورکړ شوي مال) ته راجع شرطونه دادي:

ا- قبض کول يې.

ب- قرض ورکړل شوی شی بايد مثلي وي، لکه پيمانه کيدونکي، او تلل کيدونکي شيان، يا سره نژدې شميرل کيدونکي شيان، نود داسې شي قرض ورکول چې د هغه مثل نه وي جواز نلري، ځکه هغه بيا د شخړو لامل ګرځي.[۷۹]

۳ . په قرض باندې به ګټه نه اخيستل کېږي، ځکه اصل په قرض کې د ثواب او اجر حاصلول دي، او له قرض اخيستونکي سره احسان کول دي، نوکه قرض ورکوونکی په قرض اخيستونکي معلومه ګټه کيږدي داجواز نه لري، ځکه دا د ربا (سود) شبهه پيداکوي.

خوکه قرض اخيستونکی پخپله خوښه له اخيستل شوي شي څخه ښه شی ورکړي، بياکومه پروا نه لري، بلکې دا د قرض ښه ادا، او ښه کار دی، رسول الله ﷺ فرمايي: {خيرالنَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً}[۸۰]، ښه او غوره د خلکو هغه دی چې قرض په ښه توګه اداء کوي.

---

۷۷ - بدائع الصنائع (ج ۱۷ / ص ۴۲۵)

۷۸ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۷ / ص ۴۱۶)

۷۹- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۷ / ص ۴۱۸)

۸۰- المعجم الكبرى .طبرانی ۳۹۴/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

۱- ستاسو په سیمو کې څه ډول پورونه ورکول کیږي، ددې لوست په رڼا کې دهغه څرنګوالی په ګوته کړئ.

۲- د قرض د شرطونو په هکله له یو بل سره مباحثه وکړئ.

ارزونه

آ.لاندې پوښتنوته ځوابونه ورکړئ:

۱.قرض لغةً او اصطلاحاً تعریف کړئ.

۲.د قرض د مشروعیت دلیل څه دی؟

۳.د قرض حکم څه دی؟

٤.د قرض رکن او شرطونه څه دي؟

ب.د لاندې صحیحو جملو مخې ته د (✓) او د غلطو جملو مخې ته د (✗) نښه کیږدئ:

۱.د قرض رکن ایجاب دی فقط( ).

۲. قرض په هر شی کې جواز لري( ).

کورنۍ دنده

د قرض عمده مطالب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صرف بيعه

د صرف تعريف:

په لغت کې: د يوشي د مخ اړول له يوی خوا نه بلې خوا ته وايي.[۸۱]

اوپه شريعت کې: صرف د نقودو بيعه ده په نقودو باندې. که يې جنس يو وي، او يا توپير سره ولري.

او له نقودو څخه مراد: سره زر، سپين زر، او هغه څه دي چې د دې دواړو پر ځای درېږي، لکه مروجې پيسې.[۸۲]

د نومولو وجه:

دغه عقد په (صرف) باندې ځکه ونومول شو چې په دغې بيعې کې غالباً هر جانب خپلې پيسې له يوه حالت څخه بل حالت ته اړوي، مثلا: ريال يا ډالر يا کلدارې په افغانی اړوي.

د صرف د بيعې حکم:

کله چې د صرف د بيعې شرطونه پوره شي په هغه صورت کې جائزه ده.

د صرف د بيعې شرطونه:

۱. د جانبينو له جداکېدو مخکې (له يوه او بل څخه) د مال قبضول.

ځکه چې قيمتونه هره لحظه تغيير مومي او بيا نزاع او شخړې ته لاره هوارېږي.

۲. پدې بيعه کې خيار شرط وجود نه لري، ځکه چې خيار شرط اضافي وخت ته اړتيا لري، او د صرف په عقد کې تاخير او تاجيل د شخړو سبب ګرځي.

۳. همدارنګه تاجيل به هم پکې نه وي.

د صرف د بيعې احکام:

۱. د سپينو زرو په سپينو زرو، او د سرو زرو په سرو زرو خرڅول جواز نه لري، مګر دا چې د دواړو اندازه په يو شان وي.

۲. که چيرې سره زر په سپينو زرو خرڅ کړل شي، پدې صورت کې تفاضل او زياتوالی جواز لري، او له بيليدو مخکې قبض کول واجب دی، او که چيرې د صرف په بيعه کې عاقدين د بدلينو له قبضولو

---

۸۱ - (لسان العرب)

۸۲ - مجمع الانهر في شرح ملتقى الابحر - (ج ۵ / ص ۴۴۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې سره بيل شي نو دا عقد باطل دی .
۳ .د صرف په بيعه کې مخکې لدې چې عوضين قبض شي تصرف کول پکې جواز نه لري.
٤ .رايجه پيسې د نقدينو حکم لري.[۸۳]

فعاليت

په بازار کې د صرف د بيعې موجوده بيلګې او نمونې يې د حکم سره بيان کړئ.

ارزونه

۱ .د صرف بيعه تعريف کړئ.
۲ .له نقودو څخه مراد څه دی؟
۳ .د صرف د بيعې حکم څه دی؟
٤ .شرطونه يې څه دي؟

کورنۍ دنده

د دې لوست خلاصه په خپلو کتابچو کې وليکئ .

۸۳ - الکتاب - فقه حنفي - (ج ۱ / ص ۲۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سَلَمْ بيعه

محمود د غنمو بزګر دی ، دی پيسو ته ضرورت لري ، احمد هغه ته پيسې ورکوي خو له هغه نه (۵۰۰) کيلو ګرامه غنم اخلي،اما غنم فعلا وجود نه لري ، مګر دغنمو مقدار او نور ټول مشخصات يې معلوم کړل، ترڅو چې په راتلونکې کې د دوی ترمنځ کوم اختلاف او شخړه واقع نه شي.

د سلم تعريف:

سلم په لغت کې: تسليمولو اوسپارلو ته وايي.

او اصطلاحاً: په عاجل مبلغ باندې د آجل [۸۴] مال تبادلې ته وايي.[۸۵]

د سلم بيعې اړوند اصطلاحات:

رب السلم مشتري ته وايي.

مسلَم إليه بايع ته وايي.

مسلَم فيه مبيعې ته وايي.

راس المال هغه مبلغ ته ويل کيږي چې مخکې بايع ته ورکول کيږي.

د سلم د مشروعيت دليل:

سلم په کتاب الله ، سنت مطهره، او د امت په اجماع باندې ثابت دی:

دکتاب الله د ليل: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ}[۸۶].

"اي مؤمنانو، کله چې دکومې ټاکلې نيټې له پاره تاسي په خپلو منځو کې د پور د راکړې ورکړې معامله کوئ، نو هغه وليکئ".

د سنت مطهره دليل:

روايت شوی دی چې رسول الله ﷺ (دهرهغه شی له بيعې څخه منعه کړی ده چې له انسان سره موجوده نه وي، خو سلم ته يې اجازه ورکړې ده).[۸۷]

همدارنګه پيغمبر اکرم ﷺ فرمايلي دي : که څوک سلم کوي نو بايد دجنس اندازه (وزن او يا پيمانه په کې معلومه وي او همدارنګه بايد د جنس د تسليمی وخت هم معلوم وي .[۸۸]

۸۴- (هغه مال چې د يوې ټاکلې مودې وروسته په لاس ورشی).

۸۵- رد المحتار - (ج ۲۰ / ص ۲۲۹)- مجمع الانهر - (ج ۵ / ص ۳۹۷). ۸۶- {البقرة : ۲۸۲}

۸۷- العناية شرح الهداية - (۹ / ۳۸۵). تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق - (ج ۱۱ / ص ۲۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اجماع دليل:

د ټول امت علماء د سلم په جواز متفق دي.

د سلم د مشروعيت حكمت:

د سلم په روا كولو كې د بايع د حاجت رفع كول په نظر كې نيول شوي دي، او د دې پر ځای چې حاجتمند شخص سود كوونكو ته پناه وروړي اوپه سود ورځخه پور واخلي، هغه له وخت څخه مخكې خپل محصول د سلم له لارې خرڅوي او لدې لارې مال لاس ته راوړي. همدارنګه ممكنه ده چې مشتري د ثمن له كم والي څخه ګټه واخلي.

د سلم حكم: د بايع لپاره په ثمنوكې، او د مشتري لپاره په مبيعه كې د ملكيت ثابتيدل دي.

د سلم شرطونه:

د سلم بيعه تر هغه صحت نه پيداكوي تر څو په هغې كې اووه (۷) شرطونه پوره نشي:[۸۹]

۱. جنس به معلوم وي. (چی غنم دی که اوربشې)

۲. نوعه (ډول) به يې معلوم وي. (لكه آبي يا للمي).

۳. صفت به يې معلوم وي.(لكه اعلى او ادنى)

٤. اندازه به يې معلومه وي.

٥. وخت او موده به يې معلومه وي.

٦. د ثمن يا راس المال مقدار اومشخصات بايد معلوم وي.

۷. د مال د تسليمولو ځای ټاكل چې بايع به يې مشتري ته تسليموي،(مخصوصاً كه چيرې جنس داسې شی وي چې دهغه په انتقالولو باندې مصارف راځي).

د سلم اړوند أحكام:

•سلم پداسې شی كې جائز ندی چې هغه شی د عقد له وخته د ترون ترپای پورې په بازارونو كې پيدا نه شي.

•سلم تر هغه صحت نه پيدا كوي تر څو چې ثمن (يا رأس المال) د عاقدينو تر جدا كيدلو مخكې د بايع له خوا قبض نه شي.

•هر هغه شی كې سلم جائز دی، چې د صفت او اندازی پيژندل يې په دقت سره وكړل شي. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم شی چې د صفت تعین او د اندازی پیژندل یې ممکن نه وي په هغه کې سلم جائز نه دی.

ارزونه

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱.سلم تعریف کړئ؟

۲.د سلم د مشروعیت حکمت، او دلیل څه دی؟

۳.د سلم شرطونه کوم دي؟

٤.د سلم حکمونه بیان کړئ؟

د صحیح (✓) نښه د صحیحو جملو مخې ته او د غلط (✗) نښه د غلطو جملو مخې ته کیږدئ:

۱. مسلم فیه چې د عقد له وخته نیولی د عقد تر پایه په بازارونو کې و موندل شي سلم په کې جواز نه لري( ).

۲. سلم تر هغه پورې صحت نه پیداکوي تر څو چې د عاقدینو د جداکیدلو نه مخکې بایع ثمن قبض نه کړي.( ).

کورنی دنده

د سلم په هکله یوه مقاله ولیکئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رهن (ګروي)

يوه کس يو بکس په مؤجل ثمن(قرض) واخيست، ولې بايع ورځخه غواړي چې هغه خپل ساعت ورته په ګروي پرېږدي، کله يې چې پيسې راوړي نو بيا به ورته دهغه ساعت ورکړي دغه صورت د ګروي ګڼل کېږي.

د رهن تعريف:

{رهن په لغت کې}:

د يوه شی حبس اوبندولوته وايي.

{او په اصطلاح کې}:

ديوه شي بندول دي ديوه حق د لاس ته راوړلو لپاره[۹۱]

د رهن دمشروعيت دليل:

رهن په کتاب الله، سنت نبوي، او اجماع ثابت دی:

د کتاب الله دليل: الله تعالى فرمايي: {وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَقْبُوضَةٌ}[۹۲]. " که تاسې د پرديسي په حال کې يي اود سند ليکلو له پاره کوم ليکونکی پيدا نه شو ، نو د شيانو په ګرو اخيستلو معامله وکړئ".

د سنت نبوي دليل:

له بی بی عايشې رضی الله عنها څخه روايت دی: {رسول اللهﷺ له يو يهودي څخه طعام واخيست، اوهغه ته يی د اوسپنی زغره په ګرو ورکړه}.[۹۳]

د رهن د مشروعيت حکمت:

د رهن د روا والي حکمت دپور کره کول، له هيريدلو، انکار، د پوروړي د افلاس (ناداری) څخه د قرض ورکوونکي د مال ساتنه، ځان ته اطمينان پيدا کول، او د پور د ژر ورکولو لپاره د پوروړي هڅول دي.[۹۴]

راهن: د مرهون اصلي مالک ته ويل کيږي.

۹۱- رد المحتار - (ج ۲۷ / ص ۲۹۱)- العناية - (ج ۱۴ / ص ۴۴۷)- مجمع الانهر - (ج ۸ / ص ۳۱۰)

۹۲ - [البقرة: ۲۸۳] .

۹۳- {بخاری او مسلم روايت کړی}.

۹۴ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۳ / ص ۳۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرتهن:

هغه چا ته ويل کيږي چې مرهونه ورسره ګرو (بندي) وي.

مرهون يا مرهونه يا رهن:

هغه شي ته ويل کيږي چې په ګرو ورکول کيږي.

د رهن حکم:

د پورد پرې کيدو تروخته مرتهن د مرهون د حبس اوساتنې واک لري.[۹۵]

د رهن رکن:

دګروی رکن ایجاب اوقبول دي، کوم چې دراهن او مرتهن تر منځ ترسره کيږي، لکه نور عقود اوترونونه. نو رهن په ایجاب اوقبول ترسره کيږي، او په قبض کولوسره بشپړيږي.[۹۶]

د رهن د صحت شرطونه:

۱.مرتهن بايد د قبض کولو اهليت ولري، يعنې عاقل وي.

۲.د (مرهونې) قبض به د راهن په اجازه ترسره کيږي.

۳.مرهونه بايد مشاعه (شريکه) نه وي .ځکه د مشاع شي قبضول او بندول صحيح نه دي.

د رهن احکام:

۱.مرتهن دا حق لري چې له راهن څخه خپل پور وغواړي، او په همدې خبره يې بندي کړي.

۲.که چيرې راهن(اصلي مالک) د مرتهن له اجازې پرته رهن خرڅ کړي دغه بيعه د مرتهن تر اجازې پورې موقوفه ده، که هغه ورته اجازه ورکړي بيا د ده بيعه صحت پيداکوي، همدارنګه که راهن خپل پور مرتهن ته ورکړ بيا هم بيعه صحت پيداکوي.

۳.که چيرې راهن (اصلي مالک) مړ شي، نو د ده ورثه دې مرهون خرڅ کړي، او د ده پور دې ورباندې پرې کړي.[۹۷]

دوديزه ګروي (بيع الوفاء):

په دې بيعه کې داسې شرط ايښودل کيږي چې: بايع حق لري هر کله چې وغواړي ثمن مشتري ته بيرته ورکړي او مبيعه ترېنه واخلي.

دغه بيعه خلک د دې لپاره کوي چې دګروی څخه د استفادې لپاره يوه لاره جوړه کړي.

ځکه تر څو چې بايع د مشتري پور نه وي پرې کړی، مشتري (مرتهن) د مبيعې (ګرو شوي مال) څخه بلاعوضه ګټه اخلي.

يوه ډله د فقهاوو دغه بيعه جايزه بولي.

۹۵- بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع - (ج ۱۳ / ص ۳۸۴)

۹۶- العناية شرح الهداية - (ج ۱۴ / ص ۴۴۸)- الفقه الاسلامي وادلته - (ج ۶ / ص ۶۴)

۹۷- الكتاب - فقه حنفي - (ج ۱ / ص ۲۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت

دودیزه ګروي (بیع الوفاء) له شرعي ګروی سره مقایسه او تمثیل کړئ.

ارزونه

آ-لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱.رهن لغةً او اصطلاحاً تعریف کړئ.

۲.د رهن حکم څه دی؟

۳.د مشروعیت حکمت، او دلیل یی ذکرکړئ.

٤.رکن یې څه دی؟

٥.د صحت شرطونه یې ووایاست.

ب.د صحیح (✓) نښه د صحیحو جملو مخې ته او د غلط (✗) نښه د غلطو جملو مخې ته کیږدئ:

۱- د رهن د قبض لپاره اهلیت شرط نه دی( ).

۲- د رهن قبضول به د راهن په اجازه ترسره کیږي( ).

کورنۍ دنده

د رهن په هکله په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ؟

۹۸ - رد المحتار - (ج ۲۰ / ص ۴۷۴)- العنایة شرح الهدایة - (ج ۱۳ / ص ۱۵۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجاره

احمد يو موټر ته ضرورت درلود، خو ده د موټر د اخيستلو توان نه درلود، نو ده له يوه شرکت سره قرارداد وکړ چې هره ورځ به دهغه شرکت په موټر کې خپلې وظيفې ته ځي، اوپه مقابل کې به دمياشتې (۲۵۰) افغانۍ ورکوي، دغه عقد اجاره ګنل کېږي.

د اجارې تعريف:

په لغت کې: اجاره اسم مصدر دی د(اجرت) يعنی: مزد او د کار عوض ته وايي.

په اصطلاح کې: د مال په مقابل کې د يو شخص او يا د يو شي نه ګټه اخيستلو ته اجاره وايي.[۹۹]

د مشروعيت دليل يې:

د سنت دليل: رسول الله ﷺ فرمايي: ((مزدور ته مخکې له دې چی خولې يې وچی شي خپله مزدوري ورکړئ.))[۱۰۰]

د اجماع دليل:

د امت په اجماع سره اجاره روا ده.

د مشروعيت حکمت يې:

اجاره ددې لپاره روا شوې ده چې د خلکو اړتياوې ورباندې پوره شي، ځکه هر يو شخص ټول هغه څه نه لري چې ورته اړتيا لري.

مستاجِـر:

(د جيم په کسرې سره)هغه څوک دی چې د پيسو په مقابل کې ګټه تر لاسه کوي.

اجير: هغه څوک دی چې پيسې اخلي او مقابل لوری ته کار کوي او ګټه ورته رسوي.

حکم يې:

له عقد سره سم په منافعو کې د مستاجر ملکيت ثابتيږي، او په ثمنو کې د اجير ملکيت ثابتيږي.[۱۰۱]

۹۹- درر الحکام شرح غرر الاحکام - (ج ۷ / ص ۴۵)

۱۰۰- سنن کبری –بيهقی ۱۲۱/۶

۱۰۱- تبيين الحقائق شرح کنز الدقائق - (ج ۱۴ / ص ۳۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

رکن يې:
د اجارې رکن ایجاب اوقبول دی، پداسې لفظ سره چې په اجاره باندې د لالت وکړي.[۱۰۲]

د اجیرانو ډولونه:
۱- مشترک اجیر . ۲- خاص اجیر.

مشترک اجیر :
هغه څوک دی چې تر هغه د اجورې مستحق نه کیږي تر څو چې کار بشپړ نه کړي، لکه رنګ ورکونکی، او دوبي (جامه مینځونکی).

خاص اجیر:
هغه څوک دی چې په (ټاکلې) موده کې د خپل ځان په تسلیمولو د اجورې مستحق ګرځي، اګر که کار ورځخه وا نه خیستل شي، لکه یو څوک چې د یوې میاشتې کار لپاره په اجوره نیول شوی وي. البته که کار یې نه کاوه او یا په کار نه پوهیده نوبیا دې دشرطنامی مطابق عقد ورسره فسخه کیږي.[۱۰۳]

د اجارې د صحت شرطونه:
۱. د ترون دواړه اړخه باید پرې رضایت ولري.
۲. معقود علیه (ګټه او منفعت چې اتفاق ورباندې شوی) باید معلوم وي، څو د شخړو مانع وګرځي.
۳. معقود علیه به حقیقتاً او شرعاً د تسیمیدلو وړ شی وي، او خاوند به یې د تسلیمیدلو وس لري، نو د داسې یو شي په اجاره ورکول چې د هغه تسلیمېدل حقیقتاً ناشونی وي جواز نه لري، لکه د تښتیدلي اوښ اجاره کول.
٤. کومه ګټه چې په هغې ترون شوې وي، هغه به شرعاً رواګټه وي.
۵. اجوره به معلومه وي.

فعالیت
اعاره له اجارې سره څه توپیر لري؟ د استاذ په مرسته یې ځواب ورکړئ .

۱۰۲- بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع - (ج ۹ / ص ۳۱۰)
۱۰۳- البحر الرائق - (۷ / ۳۰۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکام:

۱.کوم شی چی په بیعه کې ثمن کیدلای شي، هغه په اجاري کې اجوره کیدلای شي.

۲ .د استوګنې لپاره د کورونو او دکانونو په اجاره نیول روا دي سره لدې چې د ګټې اخیستلو هدف یې خرګند نه وي.

۳ .د کرنې لپاره د زراعتي ځمکو اجاره کول جائز دی خو تر هغه وخته عقد نه صحیح کېږي تر څو چې دکښت نوعیت روښانه نه کړای شي او یا په پیل کې دا ووایي چې هر څه چې زړه مې وغواړي هغه به کرم.

٤ .د سپرلی او بار لپاره د حیواناتو په اجاره نیول جائز دي.[۱۰٤]

د اجاري مختلف صورتونه بیان کړئ

لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ:

۱ .اجاره په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ؟

۲ .د اجاري د مشروعیت دلیل، او حکمت څه دی؟

۳ .د اجاري حکم څه دی؟

ب.د صحیح (✓) نښه د صحیحو جملو مخې ته او د غلط (✗) نښه د غلطو جملو مخې ته کیږدئ:

۱ .په اجاره کې باید د ټرون دواړه اړخه رضایت ولري ( ).

۲ .معقود علیه چې هغه منفعت اوګټه ده باید معلومه وي ( ).

د دې لوست عمده ټکي ولیکئ؟

۱۰۴- الکتاب - فقه حنفي - (ج ۱ / ص ۲۴۷)- درر الحکام شرح مجلة الاحکام - (۱ / ۳۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library